لومړی څپرکی
آریایان

دا څپرکی لاندې لوستونه لري:

- آریایان په افغانستان کې
- ویدي مدنیت
- اوستایي مدنیت
- د افغانستان اساطیري تاریخ
- هخامنشیان، یونایان او موریایان

د څپرکي موخې

هیله کیږي چې د دې څپرکي په پای کې زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:

- د آریایي تمدن، ویدي او اوستایي مدنیت په اړه به معلومات ترلاسه کړي.
- د افغانستان اساطیري تاریخ باندې به پوه شي.
- د هخامنشیانو، یونانیانو او موریایانو په اړوند به معلومات تر لاسه کړي.
- ویدي او اوستایي مدنیت به سره پرتله کړای شي.
- د هخامنشیانو، یونانیانو او موریایانو په وخت کې به د افغانستان وضعیت تحلیل او مقایسه کړای شي.
- د هېواد له تاریخ سره به لیوالتیا پیدا کړي.

د آریانا تمدن

په دې لوست کې به په افغانستان کې د آریایانو د میشته کېدو او د هغوی د ژوند د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

پخوانۍ آریانا (ننۍ افغانستان) له میلاد څخه مخکې له دریو تر دوو زرو کاله مخکې د کرنې او اوبو لګولو ښه سیستم او له وګړو څخه ډک ښارونه درلودل. له میلاد څخه مخکې د لومړنیو زرو کلونو په ترڅ کې لاسي صنایع، مسکوکات، طب، نجوم، ټوکرانو اوبدل او فلز کاري دود وه او د نړۍ په تمدنونو کې یې پنځم ځای ځان ته ځانګړی کړی و.

هغو کسانو، چې کابو دوه زره او پنځه سوه (۲۵۰۰) کاله پخوا تر میلاده په لرغوني افغانستان کې میشت شوي وو، ځان ته آرین ویل، آرین د ښو خویونو خاوندان او یا د اصیلو وګړو معنا لري. د لومړنیو ځایونو په اړه یې لا ډاډمن معلومات نشته، خو دا څرګنده شوې ده چې افغانستان ته آریایان د سیر دریا او آموسیند له شمالي لوري را ټېر شوي او بلخ کې ځای پرځای شوي او هلته یې د آریایې پېر د لومړني مدنیت بنسټ ایښی او خپل ټاټو بی یې آریانا نومولی دی.

ویدي سرودونه د آریایانو په اړه تر ټولو لومړني او باوري اخځونه او منابع دي. په ویدي سرودونو کې د آریا یي قبیلو په اړه زیات معلومات شته. آریایانو د خپلو اوسېدو سیمو ته (آریانا ویجه) یا (آریانا ورشو) ویله. په ویدي سرودونو کي د الینا په نامه قبیله یاده شوې ده چې د اوسني الینګار اوسېدونکي وو. د بولان اوسېدونکي یې د بهالانه په نامه یادکړي دي.



د کډه کېدو پر مهال د آریایانو انځور

په ویدي سرودونو کې د هغو سیمو نومونه هم شته چې د آریایانو تر واک لاندې وو. د تاریخي جغرافیه پوهانو له خوا په اوسني افغانستان کې پېژندل شوي او په نښه شوي دي. د بېلګې په توګه، هریوا (هرات)، هیراوتي (د هراوت) بلهیکه (بلخ) او نور یادولای شو. د سیمو پر نومونو سربېره په ریګویدا کې د سیندونو او غرونو نومونه هم

راغلي چې بېلګه يې د منجوان د غره نوم دی. دا غر د اوسني نورستان او بدخشان ترمنځ پروت دی.

آریایانو بلخ ته تر رسېدلو وړاندې کوچیانی ژوند درلود. د سمرقند په تال برزو کې د ۱۹۳۹ زېږدیز کال د خېرنو له مخې د یوه آریایي پاچا انځور چې د یوه خاورین لوښي پر مخ کښل شوی و، ترلاسه شو. د لرغونپوهانو په باور دا د آریایانو د لرغوني پاچاکیومرث انځور دی. په ویدي سرودونو کې د کوچیانو یو نامتو واکمن د کیومرث په نامه یاد شوی دی. په ویدي متنونو کې د پاچا یادونه دا په ډاګه کوي چې آریایانو په کوچیاني ژوند کې هم د پاچاهی نظام درلود.

په بُخدي (بلخ) او د هغه په شاوخوا کې د آریایي وګړو زیاتوالي هغوی دې ته اړ کړل چې د لوېدیځ، سهیل او سهیل ختیځ پر لور په ډله ییزه توګه د لېږد لړۍ (مهاجرت) پیل کړي. آریایانو په فارس کې د استوګنې وروسته د تمدن بنسټ کېښود چې د فارس د تمدن په نامه شهرت لري او د تمدنونو په مبحث کې به ور څخه یادونه وشي.

آریایانو یوه څانګه د لوېدیځ پر لور لومړۍ پارس (اوسنی ایران) او بیا د اوسنۍ ترکیې او تر هغه وړاندې بریدونه یې آن تر اروپایې هېوادونو پورې ورسېدل. بله ډله آریایان د سهیل ختیځ پرخوا یې مخه وکړه، هغوی بیا لومړی د لرغوني هند شمالي او بیا مرکزي سیمو ته ورسېدل. خو هغو آریایانو چې د هندوکش دواړو خواکې میشت پاتې شول، په لرغوني افغانستان کې یې د دوو آریایي(ویدي او اوستایي) مدنیتونو بنسټونه یو په بل پسې کېښودل، چې په راتلونکو درسونو کې به یې ولولو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو و وېشل شي، لومړۍ ډله دې د آریایانو د پیل او دویمه ډله دې د آریایانو د ورستي لېږد(مهاجرت) په اړه بحث وکړي او د خپلو استازو په وسیله دي نورو ته معلومات ورکړي.

پوښتنې

۱ – آریایان کله افغانستان ته را غلل؟

۲ – آریایانو له بلخ څخه پر کومو لورو لېږد(مهاجرت) وکړ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د آریایانو په اړه نور معلومات راټول او په ټولګي کې دې خپلو ټولګیوالو ته و وایي.

ويدي مدنيت

په دې لوست کې به د ويدي مدنيت پر مهال د ټولنيزې، سياسي اقتصادي او کلتوري وضعې د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

په افغانستان کې د آريايانو تر ټولو لرغونی مدنيت د ويدي په نامه يادېږي. د ويدي اصطلاح د ويد له کلمې څخه اخيستل شوې ده چې د پوهې او علم معنا لري. دا مدنيت ځکه ويدي يادشوی، چې معلومات يې د ويدي له څلورو کتابونو (ريګويدا، اتهرو ويدا، ساما ويدا او ويجورو ويدا) څخه لاس ته راغلي دي. د دې سرودونو پيل تر ميلاده دوه زره کاله وړاندې مهالونو پورې اړه لري چې په شفاهي ډول د ارياياتو له خوا له يوه نسله څخه بل ته را نقل شوي او شپږ پېړۍ پخوا تر ميلاد په سانسګريت ژبه ليکل شوي دي.



د بلخ د بالاحصار يو انځور

آريايانو د ويدي مدنيت پر مهال د بُخدي لرغونی ښار د خپل لومړني پايتخت او اداري مرکز په توګه وټاکه او د کوچياني ژوند تر څنګ يې په کرنه او بنوالی لاس پورې کړ.

د اوسېدلو لپاره يې ارت پراخ کورونه جوړ کړل. د ښارونو په جوړولو يې لاس پورې کړ او د هغو ښارونو د ساتنې لپاره يې پلن ديوالونه او لوړ برجونه ودان کړل چې زياتې نښانې يې لا تر اوسه هم پاتې دي.

د ويدي مدنيت وګړو د ژويو د څرولو او کرنې له لارې خپلې اړتياوې پوره کولې. ژوي يې اهلي کړي وو او د هغو پر شيدو او غوښو سربېره يې د هغو له پوستکو څخه تودې جامې او څپلی جوړولې. ژوي به يې د سکې په ځای سره بدلول او هغه به يې د تبادلې بنسټ ګرځاوه چې د پيسو په نامه يې يادول، خو په عمومي توګه به يې د سوداګرۍ په معاملو کې جنس د جنس په مقابل کې تبادله کاوه.

د کرنې په برخه کې يې هم لاس ته راوړنې درلودې، ښلا ښلې دانې غلې يې پېژندې چې په ويدي سرودونو کې يې په وار وار يادونه شوې ده. په دوی کې د ښکلو خاورينو لوښو جوړول دود وو. ښکلې ګانې به يې هم جوړولې او د ځانګړو جشنونو او ميلو پر مهال به يې کارولې.

د ويدي مدنيت پر مهال د ښځو ونډه په ښلا ښلو برخو کې څرګنده وه. يو شمېر ښځو به له خپلو ميړونو سره يوځای په کار کې ملتيا کوله او يو شمېر نورو بيا د کور کارونه پر غاړه اخيستل. د دې تر څنګ

به ښځو هم د یو شمېر نارینه پوهانو(ریشانو) په څېر ټولنیزې چارې پر مخ بېولې او شعرونه به یې ویل.

داسې برېښي چې د ویدي سرودونو ویل او په یادول د زمانې له پلوه ډېر پخوا پیل شوي دي، خو په سرودونوکې تر ټولو پخوانی یادې شوې پېښې ترمیلاده (۱۸۰۰) کاله د مخه تر مهال پورې اړه لري، چې د ویدي مدنیت څرګند پیل ګڼل کېږي. ویدي مدنیت په پرله پسې توګه ترمیلاده ۱۲۰۰ تر۱۰۰۰ کاله د مخه دوام درلود.

د زیاتو معلوماتو لپاره:

د ویدي مهال د فرهنګ یوه بېلګه

زوم د خپلې ناوې لاس نیوه او درې واره یې د خپل کور ګرد چاپېره ګرځوله او دا سرود به یې لوسته:

((ستا لاس په نیک شګون نیسم، ترڅو ته له ما سره د ژوند تر پایه ژوندۍ او خوشحاله اوسې!))

کله چې ناوې د مېړه کوټې ته ورسېږي نو په دې شعرونو یې هر کلی کوي:

«دلته دې خوښي ستا په برخه شي. ستا کور دې له مال، شتو او اولادونو څخه ډک شي! ښکلې ناوکۍ! ته دا کور ساته او له خپل خاوند سره او سېرې، تر زړېدو پورې دې دا کور ستا وي. اوس په دې ځای کې اوسه او له دې ځایه هیڅ کله مه جلا کېږه! ته دې د ډېر عمر، لمسیانو او کړوسیانو څښتنه شې ته دې تل په دې ځای کې خوشحاله اوسې! ... اې د دې کور مېرمنې!»

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو و وېشل شي، لومړۍ ډله دې د ویدي مدنیت په مهال د کرنې او دویمه ډله دې د ښځو د ونډې په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱ - د ویدي کلمه څه معنا لري؟

۲ – په ویدي مدنیت کې د هېواد کوم ښار د مرکز په توګه غوره شو؟

۳ – ویدي مدنیت په کومو کلونو پورې اړه لري؟

اوستايي مدنيت

په دې لوست کې به په بلخ (بخدي) کې د اوستايي مدنيت د راتګ په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د اوستايي مدنيت بنسټ په بلخ يا پخواني بخدي کي تر ميلاد څه نا څه زر کاله پخوا کښېښودل شو. دا مدنيت د دې لپاره د اوستايي مدنيت په نوم يادېږي چې په اړه يې زيات معلومات د ((اوستا)) په نامه مذهبي کتاب کې موجود وو او د مؤرخينو لاس ته رسېدلی دی.

اوستا د زردشت يا سپينتمان له خوا ويل شوي نصيحتونه او د هغو معلوماتو يوازينی منبع ده چې د لومړنيو آريايي مدنيتونو په نامه د سيمې او په ځانګړې توګه د لرغوني افغانستان د تاريخ ځانګړی څېرکی ګڼل کېږي. د اوستا کتاب د زردشت تر مړينې وروسته را ټول او د اوستا په نامه خپور شو. زيات شمېر پوهان اوستا د قانون او هدايت په معنا پېژني. لومړنی اوستايي متن د غوايي پر ۱۲۰۰۰ پوستکوليکل شوی و چې د يوناني سکندر د بريدونو پر مهال يې زياته برخه وسوځول شوه. تر سکندر وروسته د زردشتي آيين پيروانو د اوستا پاتې شوني را ټول او د هغو پر بنسټ يې د اوستا پنځه برخې وليکلې، چې د يسنا، وېسپرد، وينديداد، يشت او وړوکي اوستا په نوم يادېږي.

ويل کېږي چې زردشت له ميلاد څخه د مخه په ٦٦٠ کال په بلخ کي زېږېدلی دی. په شل کلنۍ کې ګوښه شوی او په ٤٢ کلنۍ کې د زردشتي دين لار ښود شو. تر هغه وروسته يې خپل نصيحتونه پيل او ګشتاسپ پاچا يې خپلې لارې ته دعوت کړ. ګشتاسپ يې دعوت ومانه او زردشتي کيش يې قبول کړ.

زردشت په خپل آئين کې اهورا مزدايي د نيکۍ او اهريمن يي د بدۍ خدايان ګڼل او د هغو دوو تر منځ يې مجادله او مقابله تلپاتې ګڼله. خپلو لارويانو ته به يې ويل چې د اهورامزدا خوا ته ودرېږئ او د اهريمن له شره ځان وساتئ. تر ټولو نامتو وينا يې: ښه انګيرل؛ ښه ويل؛ ښه کول؛ دي.

د ژوزف هاکن په باور هغه انځورونه چې د بلخ د (دختر نوشيروان) په لرغوني سيمه کې د غرونو پر لويو پرښو او ډبرو توربل شوي، د زردشتي پېر را پاتې آثار او انځور ونه دي.

د اوستا يي مدنيت پر مهال آريايي وګړو داسې دودونه درلودل چې تر اوسه هم د يو شمېر قبيلو

او قومونو په منځ کې دود دي. د بیلګې په توګه د نیزې وهلو لوبه، د اس ځغلولو لوبه، د کال د لومړۍ ورځې جشن، اتڼونه، د مېلو د ورځو سندرې، موسیقي او داسې نور یادولای شو اوستا د هغه مهال یو شمېر سیاسي کورنۍ او واکمنان هم را پېژني چې د افغانستان په تاریخ کې د ا برخه د اساطیري تاریخ (د خیالي افسانو تاریخ) په نامه مشهوره شوې ده چې په راتلونکو درسونو کې به یې ولولو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د اوستا او دویمه ډله دې ژوزف هاکن د ځېرنو په اړه معلومات د خپلو استازو په وسیله ټولګیوالو ته واوروي.

پوښتنې

۱ – د اوستا معنا څه ده؟ توضیح یې کړئ.

۲ – د زردشت په اړه څه معلومات لرئ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د زردشت په اړه د منابعو له مخې معلومات تر لاسه او خپلو ټولګیوالو ته دې واوروي.

لومړنۍ لړۍ: د پيشدادیانو واکمنۍ

په دې لوست کې به د پيشدادیانو د کورنۍ د واکمنۍ پرمهال د سياسي، ټولنيزې او کلتوري وضعې د څرنګوالي او دغې لړۍ د زوال په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د يو شمېر او ستايي متونو او يو شمېر شاهنامو د ليکونو پر بنسټ د افغانستان د لرغوني تاريخ دري خورا مهمې دورې پېژندلای شو. دا دورې د پيشدادیانو، کيانيانو او اسپه په نامه يادې شوې دي، چې د لرغوني افغانستان د لومړنيو مدنيتونو سياسي واکمنۍ ګڼل کېږي.

لومړنۍ سياسي واکمني د اوستا په کتاب کې د پيشدا ديانو په نامه ياده شوې ده. د دې کورنۍ لومړنی واکمن کيومرث نومېده. ابو ريحان البيروني په خپلو ليکنو کې کيومرث د هوشنګ په نامه يادکړی دی. دا هغه لومړنی آريايي واکمن دی چې په بلخ کې يې د سياسي واکمنۍ بنسټ کېښود. تر کيومرث وروسته د هغه زوی تهمورث واکمن شو. د نوموړي د واکمنۍ پر مهال مدبر وزير، چې شېداسپ نومېده، په دولتي چارو کې يې ځانګړې ونډه درلوده. نوموړي وزير ولس ته د نورو خدمتونو تر څنګ د جامو جوړولو او وړيو د وريشلو لارې چارې هم وښودلې.

د پيشدادیانو د سلسلې يو نامتو پاچا، يما يا جمشېد نومېده، چې تر تهمورث وروسته واک ته ورسېد. يما لومړنی پاچا و چې په بلخ کې يې د ښار بنسټ کېښود. يما ته اهورا مزدا د يوه ښار د جوړولو هدايت وکړ. يما پاچا داسې ښار جوړ کړ چې اوږدوالی او پراخوالی يې د آس د څغلولو د ميدان په اندازه و. د اوبو ډنډونه، د آس څغلولو ډګر، د کلو او کورونو لپاره وړ سېمې يې جوړې کړې. د دې تر څنګ يې داسې ژوبڼ هم جوړ کړ چې د ټولو ژويو يوه يوه جوړه يې پکې وساتله.

د يما پاچا د واکمني پر مهال د وګړو ژوند ته زياته پاملرنه کېدله. زيات نعمتونه موجود وو او خلکو په هوسا او آرامه شېې ورځې سباکولې. هغه مهال چې ضحاک پر يما بری تر لاسه کړ. د وګړو ژوند له ستونزو سره مخامخ شو. ضحاک په جبر او زور د خپلې واکمني چارې پر مخ بېولې. خلک ډېر وزورېدل او په پای کې آهنګر کاوه د خپلو پښو چرم د بيرغ په توګه اوچت کړ او خلک يې د ضحاک په وراندې پا څون ته راوبلل چې په تاريخ کې د کاوياني بيرغ په نامه شهرت لري. فرېدون هم سل آسونه او زر غوايان د قربانۍ په توګه ومنل. د ضحاک پر ضد يې قيام وکړ، چې په پای کې فرېدون بريالی او ضحاک يې و واژه.

فريدون خپله د واکمنۍ سيمه پر خپلو دريو زامنو ايرج ، تور او سلم و وېشله. تور اوسلم خپل ورور ايرج مړ کړ او واکمني يې خپله کړه . تر هغه وروسته چې د ايرج زوی منوچهر لوی شو،



په بامیانو کې د ضحاک د کلا پاتې شوني

د خپل پلار غچ یې له خپلو ترونوڅخه واخیست. خپل دواړه ترونه یې مړه کړل او د واک پر ګدۍ کښېناست. د منوچهر د واکمنۍ پر مهال یو شمېر نامتو پهلوانانو خورا مهمه ونډه درلوده. د بېلګې په توګه رستم اوسهراب، نریمان او یو شمېر نورو پهلوانانو د تورانیانو په وړاندې دخپلې واکمنۍ خورا کلکه دفاع کوله.

له فرېدون څخه وروسته د هغه زوی نوذر واک ته ورسېد. د نوموړي د واکمنۍ پر مهال توراني افراسیاب تر دریو جګړو وروسته په دې بریالی شو چې د نوذر ځواکونه وځپي او د بلخ واک څه موده خپل کړي. د نوذر تر مړینې وروسته د هغه زوی اوزوه واک ته ورسېد. نوموړی عاقل او هوښیار سړی و. له تورانیانو سره یې ډېرې جګړې وکړې چې وروسته یې له تورانیانو سره خپل سرحد د آمو سیند وټاکه. د پیشدادیانو ورستنی واکمن کرشاسپ و چې له ۹ کالو واکمنۍ وروسته د افراسیاب له لور سخت وځپل شو او د پېشدادیانو د واکمنۍ لړۍ پای ته ورسېدله.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د پیشدا دیانو د واکمنانو او دویمه ډله دې د بلخ ښار د جوړېدلو په اړه بحث وکړئ.

پوښتنې

۱ – د پیشدا دیانو موسس څوک و؟ نوم یې واخلئ.

۲ – د بلخ ښار د کوم واکمن له خوا جوړ شو؟ په اړه یې معلومات ورکړئ.

۳ – ضحاک څوک و؟ په اړه یې خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکی دې د بلخ (بُخدي) یا بلهیکه) ښار په اړوند مقاله چمتو او په ټولګي کې دې ولولي.

دويمه لړۍ: د کيانيانو واکمني

په دې لوست کې به د کياني لړۍ د واکمنۍ په مهال د سياسي، ټولنيزې وضعې او د دغې لړۍ د سقوط په اړه معلومات ترلاسه کړئ د واکمنۍ په مهال.

د افغانستان د اساطيري تاريخ دويمه لړۍ د کيانيانو په نامه يادە شوې ده. کاوې په ويدي او اوستايي متونو کې د پوه، مشر او امير په معنا کارول شوی دی. دا کورنۍ ځکه کاوي يا کياني بلل کيږي چې د ټولو واکمنانو له نامه سره يې د کي توری نښتی دی. د کياني کورنۍ لومړنی واکمن کيقباد نومیده، چې د رستم پهلوان د پلار په غوښتنه بلخ ته څېرمه د البرز غره پر تخت کښېناست او پنځلس کاله يې واکمنۍ دوام وکړ.

ترکېقباد وروسته د ده زوی کيکاوس د بلخ پرتخت کښينات. کيکاوس له هغو کسانو سره جګړې وکړې چې د آريايي کلتور او مدنيت مخالفت يې کاوه. د جګړه مارو دا ډلې چې د مازندارانو په ځنګلونو کې اوسېدلې او په اوستايي متونو کې ورته ديوان ويل شوي، دکيکاوس له خوا وځپل شوې او آريايي تمدن يې د هغو له بريدونو او ورانيو وژغوره. په اوستا کې راغلي کيکاوس د دې لپاره چې تر ټولو ځواکمن پاچا شي، د رب النوع (اناهيتا) ته يې د ارزيفيه په غره کې سل آسونه، زر غوايان او لس زره پسونه قرباني کړل.

له اوستايي متونو څخه دا څرګند شوې ده چې کيکاوس د ارزيفيه غره پر شا او خوا اووه ستړې کلاګانې جوړې کړې. پر اوو سترو هېوادونو يې واکمني درلوده. کيکاوس عاقل، هوښيار او پوه وزير درلود چې پوره جيره يا اوشنر نومېده.(پوره جيره په اوسنۍ پښتو کې د پوره ځير په معنا کارول کيږي.) خو د واکمنۍ په ورستيو کې يې يو لړ داسې تيروتنې وکړې چې د واکمنۍ په بايللو يې تمامې شوې. پوه وزير يې و واژه، آسمانو نو ته د تللو دعوا يې وکړه او د سرحدونو ساتونکي يې لرې کړل، چې په پای کې توراني افراسياب د کيکاوس پر سېمه غالب شو او د کيکاوس واکمني يې رنګه کړله، خو رستم پهلوان له سيستانه را وخوځېد او د افراسياب تېغر يې ټول کړ.

تر کيکاوس وروسته سياوش د بلخ د تاج او تخت واکمن شو. سياوش په اوستايي متونو کې د سياورشن په نوم يادشوی دی. نوموړی د بلخ نامتو او زړور واکمن و. سياوش د آريانا ويجه پر سيمه يوه ستره کلا جوړه کړه چې په اوستايي متونو کې د کنګ دژ په نامه يادە شوې ده. نوموړي د تورانيانو د پاچا (افراسياب) له لور سره، چې فرنګيس نومېدله واده وکړ او له هغې څخه يې زوی پيدا



په سمنګان ولایت کې د رستم تخت

شو چې کیخسرو نومیده. سیاوش له تورانیانو سره په مخامخ جګړه کې له منځه ولاړ.

تر سیاوش وروسته د هغه زوی کیخسرو د بلخ واکمن شو. نوموړی د خپل پلار د غچ اخیستلو لپاره له تورانیانو سره وجنګېد. د تورانیانو واکمن افراسیاب او د هغه ورور پې په زنځیرونو وترل او بیا پې ووژل.

په اوستایي متونو کې راغلي چې کیخسرو د کیانیانو د واکمنۍ ښلا ښلې سېمې یو له بله سره وترلې او د بشپړې ستروا کۍ (امپراتورۍ) واک او ځواک پې درلود. له همدې امله پې په اوستا یي متونو کې د هېواد جوړونکي په نامه یادونه شوې ده. تر کیخسرو وروسته د افغانستان د اساطیري تاریخ دریمه واکمني چې د اسپه په نامه یادېږي، واک ته ورسېدله.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د کیانیانو د نامه معنا او د نامتو واکمنانو نومونه و وایي او دویمه ډله دې د کیکاوس په اړه خپل معلومات ټولګیوالو ته و وایي.

پوښتنې

۱ – د کیانیانو لومړی واکمن څه نومېده؟

۲ – سیاوش څوک و؟ خپل معلومات وړاندې کړئ.

۳ – د کیانیانو ورستنی واکمن څوک و؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې دخپلې سېمې له مشرانو څخه یو داستان رانقل کړي او ټولګیوالو ته دې ووایي.

دریمه لړۍ: د اسپه واکمني

په دې لوست کې به د اسپه کورنۍ د سیاسي او ټولنیزې وضعې د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کوئ.

ترکیاني کورنۍ وروسته د پاچا هانو بله لړۍ واک ته ورسېدله چې د اسپه کورنۍ په نامه یې شهرت وموند. ددې کورنۍ د هر واکمن د نامه په پای کې د اسپه کلمه راغلې ده، ځکه په تاریخي متنونو کې د اسپه د کورنۍ په نامه مشهوره شوې ده. د ځینو روایاتو پر بنسټ ددې کورنۍ لومړنی ټولواک لهراسپ نومیده. لهراسپ د کیانیانو د واکمنۍ پر ټولو سیمو واکمني درلوده. د یوشمېر څېړونکو په باور لهراسپ له تورانیانو سره په جګړه کې و وژل شو. نوموړی باهمته عادل او د لوړ شخصیت خاوند و. د خپلې واکمنۍ په سیمو کې یې زیاتې ودانۍ جوړې کړې. لهراسپ د زردشت دین منلی او د هغه د پراختیا لپاره یې ربړونه ګاللي دي. د لهراسپ څخه دوه زامن پاتې شول چې یو یې ویشت اسپه او بل یې زري وري نومېده.

ویشت اسپه یا ګشتاسپ د پلار تر مړینې وروسته د بخدي واکمن شو. د ګشتاسپ شهرت له دې کبله زیات شو چې له زردشت سره یې ملتیا وکړه او د هغه د آیین د خپرولو لپاره یې ډېر ربړونه وګالل.

زردشت له ګشتاسپ څخه هیله وکړه چې خپله میرمن هوتاوسا هم خپل آیین ته دعوت کړي. ترڅو زردشت آیین لرو ځایونو ته ورسېږي. د ګشتاسپ په امر د زردشت ټولې ویناوې(اوستا) د غوایي پر ۱۲ زره پوستکو ولیکل شوې. د ګشتاسپ د واکمنۍ پر مهال د تورانیانو سره زیاتې جګړې ترسره وشوې. تر ګشتاسپ وروسته د هغه زامن واک ته ورسېدل. له دې سره سره چې د زري وري د واکمنۍ په اړه زیات معلومات نشته، خو د هغه د پهلوانۍ په اړه چې په سیستان کې اوسېده، زیات تاریخي روایات ویل شوي دي. د ګشتاسپ د بل زوی سپینتو داتا یا اسفندیار د واکمنۍ په



په بلخ کې د نوبهار د اورتون د پاتې شونو یو انځور

اړه زیات معلومات شته. ویل کېږي چې اسفندیار زړور او هوښیار واکمن و. هغه د بلخ پر اورتون داسې نیزه ودروله چې معنا یې د خپلې سېمې څخه په میړانه دفاع او د پردیو مخنیوی و. دا مطلب یې په ټولو رسمي لیکونو کې خپلو ګاونډیانو ته ورساوه او د خپلو سیمو لپاره یې د ودانیو زیاتې چارې تر سره کړې. د زردشتي آئین لپاره یې زیات خدمتونه وکړل او هغه ته یې تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې وده ورکړه. د اسفندیار تر مړینې وروسته د اسپه د کورنۍ واکمني پای ته ورسېده.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د اسپه کورنۍ، دویمه ډله دې د لهراسپ او دریمه ډله دې د ګشتاسپ په اړه خپل معلومات نورو سره شریک کړي.

پوښتنې

۱ د اسپه کورنۍ ولې په دې نامه یاده شوې ده؟

۲ – د اسپه کورنۍ لومړنی واکمن څه نومیده؟ په اړه یې معلومات وړاندې کړئ.

۳ – د اسپه کورنۍ وروستی واکمن څوک و؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د لرغونو اورتونونو په اړه د ببلا ببلو رسنیو په مرسته نوي معلومات راټول او په ټولګي کې دې نورو ټولګیوالو ته واوروي.

لرغونی افغانستان او هخامنشیان

په دې لوست کې به د افغانستان او هخانشیانو تر منځ اړیکو او د یونانیانو په واسطه د هغوی د رانسکورېدو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

تر میلاد څخه وړاندې شپږمې پېړۍ پورې د آریانا پر زیاتو سیمو د اوستایي واکمنانو حاکمیت برلاسی و. د همدې پېړۍ په پیل کې د لرغوني افغانستان د لویدیځو کرښو ها خوا د هخامنشي واکمنۍ بنسټ کېښودل شو. هخامنشیانو د فارس پر اړوندو سیمو سربېره د خپلې امپراطورۍ د لویدیځو او ختیځو کرښو څخه بهر سیمې هم تر خپلې ولکې لاندې راوستلې او د یوې لویې امپراتورۍ لمن یې په پخوانۍ فارس او شا و خوا سیمو خپره کړه.

هخامنشیانو پر فارس باندې تر واکمن کېدو وروسته د خپلې واکمنۍ د غځولو هڅې پیل کړې. د کوروش د واکمنۍ پر مهال هخامنشانو په ختیځو او لویدیځو لورو ته یرغلونه پیل کړل. دا مهال په ټول لرغوني افغانستان کې یو مرکزي دولت او واحده سیاسي واکمني نه وه او د افغانستان په هر ګوټ کې محلي حکومتونو او ملکوت الطوایفو (ورو واکمنیو)حاکمیت درلود.

له میلاد څخه د مخه په ۵۴۹ کال کې د کوروش ترفرمان لاندې لښکر د افغانستان یو شمېر سېمې تر یوې مودې پورې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستې. له کوروش څخه وروسته د ده زوی کمبوجیه واک ته ورسېد. هغه د فارس لوېدیځو پولو ته پام درلود. د مصر له فرعون سره یې جګړې وکړې او هغه ته یې ماته ورکړه او د هغه سېمې یې تر خپلې واکمنۍ لاندې راوستې. نوموړی پارس ته



د کروش د واکمنې پرمهال د هخامنشیانو د امپراتورۍ قلمرو

د بېرته راتګ پرمهال مړ شو.

له کمبوجي څخه وروسته هخامنشیانو د لرې یو شخص د لومړی داریوش په نامه واک ته ورسید نومورې د هند د خاورې د نیولو په موخه د سیند له اوبو تېر شو، پنجاب او سند یې ونیول. له همدې امله له هند څخه په زیاته کچه د سرو زرو کلني عایدات، چې اندازه یې ۳۶۰ طلا تالانه (د هغه مهال د سرو زرو قیاسي واحد وه چې د سند او پنجاب له بومي (اصیلو) وګړو څخه د باج په توګه هخامنشي واکمنانو ته ورکول کیدل. داریوش خپله پراخه امپراتوري چې په هغې کې د وګړو ټولې ۴۸ ډوله نژادونه، د وګړو ټولې ټلې کیشونه، او د ټولې ژبو او دودونو لرونکي وو، په خورا تدبیر تر خپلې ولکې لاندې ساتل.

په یو شمېر ډېرلیکونو کې، چې د هخامنشي واکمنانو را پاتې دي، داسې لیکنې شته چې د ختیځ پر لور د هخامنشي واکمني غځېدلې او خوره شوې ده. یو له هغو ډېرلیکونو څخه د بې ستون ډېرلیک دی چې د هخامنشي واکمنانو تر ولکې لاندې ۲۱ او یا زیاتې سېمې یادې شوي دي.

د هخامنشیانو یو شمېر نامتو واکمنانو لکه: لومړی داریوش، خشیار شاه، دویم داریوش او دویم اردشیر او یو شمېر نور د واک ګدۍ ته ورسېدل. زیاتې سېمې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستې، خو ۳۳۱ کاله پخوا تر میلاد یونانیانو د هخامنشي امپراتوري راوپرځوله او اړوندې سېمې یې د یوناني امپراتورۍ برخې وګرځولې.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې به دوو ډلو و ویشل شي. لومړۍ ډله دې د هخامنشیانو نامتو واکمنان معرفي او دوېمه ډله دې د بیستون ډېرلیک په اړه خپل معلومات ټولګیوالو ته واوروي.

پوښتنې

۱ – کوم هخامنشي واکمن د افغانستان د نیولو هڅې وکړې؟ معلومات ورکړئ.

۲ – هخامنشي امپراتوري د چا له خوا را وپرځول شوه؟ په لنډه توګه خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د هخامنشي امپراتورۍ په اړه معلومات را ټول او بیا دې په ټولګي کې نورو ټولګیوالو ته ولولي.

لرغونی افغانستان او یونانیان

په افغانستان کې د یوناني واکمنۍ پېژندنه په دوو مهمو پراونو کې شوې ده. لومړی هغه پراو دی چې د مقدوني سکندر د بریدونو (۳۳۰ کاله پخوا تر میلاد) را پیلېږي او د سکندر تر مړینې دوام مومي. دویم پراو په افغانستان کې له سکندر وروسته د یوناني قوماندانانو د واکمنۍ پېر دی چې تر ۲۵۵ کاله پخوا تر میلاد پورې یې دوام وکړ.

الف: د مقدوني سکندر بریدونه او د هغه مړینه

مقدوني سکندر د هخامنشیانو امپراتوري له منځه یووړه او د هخامنشیانو وروستی واکمن، دریم داریوش د افغانستان پر لور وتښتېد. مقدوني سکندر ۳۳۰ کاله پخوا تر میلاد د دریم داریوش د تعقیب لپاره لومړی هرات او بیا د باختر پر لور خپلې لښکرې چمتو کړې. دریم داریوش د باختر د والي، بسوس د پلویانو له خوا و وژل شو. د هرات واکمنانو په پیل کې د سکندر لښکرو ته په لاره ورکړه او مقدوني سکندر د بسوس د نیولو اوځپلو لپاره د باختر پر لور وخوځېد، خو له هرات څخه د سکندر د ځواکونو د تګ پر مهال د هرات خلکو پاڅون وکړ او د دې پاڅون په پایله کې د اناکسپ په نامه یوناني قوماندان ووژل شو. مقدوني سکندر، چې د هرات له پېښې څخه خبر شو، سمدلاسه یې د هرات د بېرته نیولو پرېکړه وکړه او هرات ته یې مخه کړه او د پخواني هرات (آریا) ته څېرمه یې پول پاڅون کوونکي، چې په یوه ځنګل کې یې د هرات د دفاع لپاره مورچلې نیولې وې، هملته وسوځول او بیا یې د یوناني لښکرو د ساتنې او پالنې په نیت د آریا سکندریې په نامه د یوه نوي ښار بنسټ کېښود چې د هرات اوسنی ښار ګڼل کېږي.

د مقدوني سکندر یو انځور



د هرات ترنیولو وروسته یوناني لښکرو د سکندر تر مشرۍ لاندې د فراه ولایت

پر سیمو یرغل پیل کړ او د سیستان سېمې یې هم تر خپل واک لاندې راوستلې. د دې یرغل په دوام یې د هلمند پر دواړو څنډو پرتې سېمې یو په بل پسې لاندې کړې او په دې لړ کې یې د بلوچستان مرکز (زریاسپ) هم ونېو.

وروسته له هغه بیا یې د اراکوزیا د سیمو لاندې کولو ته خپلې لښکرې اړم کړې او ۳۲۹ کاله پخوا تر میلاد یې اراکوزیا ترلاسه کړه او په همدې کال یې د اوسني کندهار ښار ته څېرمه سېمه کې د یوه عسکري کوټ بنسټ کېښود. د اراکوزیا (کندهار) له اوسېدونکو څخه یې نوی ځواک جوړ کړ او د اراکوزیا ولایت چارې یې د ممتین په نامه یوه تن ته وسپارلې. له دې سره سره چې تر دې مهاله سکندر د لرغوني افغانستان درې مهم ولایتونه هرات، بلوچستان او کندهار تر خپل واک لاندې راوستي وو، خو د هرات پخواني واکمن، بسوس په مرسته دوه زره لښکرد هرات د دفاع لپاره چمتو او په هرات کې یې د خپلواکۍ اعلان وکړ. سکندر د هراتي پاڅون د ځپلو لپاره زیات شمېر لښکرې ولېږلې هرات یې محاصره او د یوې درنې جګړې په ترڅ کې یې د هراتیانو د پاڅون مشر ساتي بارزانس و واژه او هرات بیا د سکندر د ځواکونو تر امر لاندې شو.

د هرات، سیستان او کندهار تر نیولو وروسته مقدوني سکندر د کابل د سیمو نیولو ته متوجه شو. اسکندر تر میلادد وړاندې ۳۲۹ کال کې کابل ته راورسېد. د دې سیمو تر لاندې کولو وروسته د پغمان له لارې کاپیسا ته ولاړ او هلته یې د خپلو عسکرو لپاره د قفقاز سکندریه (اوسنی بګرام) جوړ کړ. د همدې کال په پسرلي کې یې د اندراب له لارې د بسوس پر ځواکونو بریدونه پیل کړل. بسوس د اتو زرو ځواکونو په مټ د مقاومت ډګر ته را ووت، خو د سکندر له زیاتو لښکرو سره یې د پر له پسې مقابلې توان له لاسه ورکړ او د آمو سیند پورې غاړې (سغد) ته واوښت. بسوس له هغه ځایه د باختري ځواکونو په مټ د سکندر پر لښکرو بریدونه کول او تر میلاد وړاندې ۳۲۷ کال پورې یې دوام وکړ. په همدې کال سکندر له یوه باختري ځواکمن

قوماندان سره د دوستۍ لاس ورکړ او د رخشانې په نامه له یوې پیغلې سره یې واده وکړ او په دې ډول یې د باختر سیمه تر خپل ګورت لاندې وساتله.

سکندر د باختر تر نیولو وروسته د کاپیسا له لارې د کابل سیمو ته را وګرځېد او بیا د درونټې له لارې کونړ او اسمار سیمو ته ورسېد. په نوموړو سیمو کې له یوسفزو سره تر درنو جګړو وروسته ټپي شو او بیا یې د باجوړ او چترال سیمې تر خپل واک لاندې کړې.

سکندر د سیمو د نیولو لړۍ جاري وساتله او تر میلاده وړاندې په ۳۲۵ کال د کراچۍ په سمندري بندر کې یوه بله سکندریه جوړه او له هغه ځایه د ګدروزیا (بلوچستان) پر لور د پارس سیمو ته ورسېد. کله چې بابل ته ورسېد، هلته د ملا ریا د ناروغۍ له امله مړشو. دامهال دی ۳۲ کلن و.

ب: د سکندر تر مړینې وروسته د یونانیانو امپراتوري

د سکندر تر مړینې وروسته د یوناني قوماندانانو تر منځ د واک پر سر ډېرې خونړۍ جګړې وشوې. د مقدونیې په ښار کې د کاسندر په نامه یو تن قوماندان واک ته ورسېد او د سکندر مور یې د پیرنا په ښار کې محاصره او بیا یې و وژله. په دې ډول د سکندر په لویه امپراتورۍ کې ګډوډي منځته راغله او د دې ګډوډۍ پایله دا شوه چې یوناني امپراتوري په دریو لویومرکزونو ووېشل شي.

۱ – د سکندر تر مړینې وروسته، بطلیموس له یوناني امپراتورۍ څخه مصر ښل او تر خپلې ولکې لاندې راوست. له بطلیموس څخه وروسته د دغې کورنۍ واکمنان په پر له پسې توګه تر ۳۰ کاله مخکې تر میلاد د مصر پر سیمو واکمن پاتې شول.

۲ – د یوناني امپراتورۍ په پلازمېنه (مقدونیه) کې انتي ګوس واک ته ورسېد. انتي ګوس او د هغه کورنۍ د ۳۰۶ کاله وړاندې تر میلاده بیا تر ۱۴۶ کاله وړاندې تر میلاده پر مقدونیه او اړوندو سیمو واکمن پاتې شول.

۳ – د سلیکوس په نامه یوناني قوماندان په سوریه کي واک ته ورسید او د یوناني امپراتوري ختیځې سېمې یې له سوریې څخه تر هنده پورې تر خپل کنټرول لاندې راوستلې چې افغانستان هم د سلیکوس تر واک لاندې سیمو کې شمېرل کېده. سلیکوس او د هغې لړۍ نورو واکمنانو په افغانستان کې د دیودتس تر مهاله واک درلود، خو د بطلیموس او سلیکوس د ځواکونو تر منځ پر له پسې جګړو دیودیتس ته په باختر کې تر میلاده وړاندې ۲۵۵ کال کې د خپلواکۍ د اعلانولو زمینه برابره کړه، چې د یونان باختري دورې په لوست کې به یې په بشپړه توګه ولولو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په نقشه کې د مقدوني سکندر د لشکر کشیو لوری وښیي.

پوښتنې

۱ – مقدوني سکندر په کوم کال د هخامنشیانو امپراتوري له منځه یووړه؟ خپل معلومات وړاندې کړئ.

۲ – مقدوني سکندر په باختر کې له کومې نجلۍ سره واده وکړ؟

۳ – د سکندر تر مړینې وروسته د یونانیانو امپراتوري له کوم برخلیک سره مخامخ شوه؟ معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د مقدوني سکندر په اړه د لوست له کتاب پرته له بل کتاب څخه معلومات را غونډ او ټولګیوالو ته دې ووایي.

لرغونی افغانستان او موریایان

په دې لوست کې به د موریایانو او په هغه مهال کې د افغانستان سیاسي وضعې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د موریایانو لومړنی واکمن چندراګوپتا نومېده چې له میلاد څخه ۳۲۴ کاله مخکې یې د هند پر ښلا ښلو سیمو واکمني پیل شوه. چندراګوپتا د افغانستان په ختیځو برخو کې یو شمېر سیمې، چې د یوناني واکمنانو تر لاس لاندې وې، ونیولې. دا مهال د یوناني سلیکوس لښکرو تر درنو جګړو وروسته لومړی باختر او بیا یې د کابل وادي بیرته ونیوله او د سیند تر سینده یې د چندراګوپتا ځواکونه تعقیب کړل، خو د لنډو بریو وروسته د چندراګوپتا د ځواکونو تر پر له پسې بریدونو لاندې شو او په پای کې یې له چندراګوپتا سره د دوستۍ لاس ورکړ. خپله لور یې هغه ته په نکاح کړه او ګندهارا، اراکوزیا او ګدروزیه یې هم د چندراګوپتا ځواکونو ته پریښودل. او باختریې د دیودوتس په واک کې ورکړ، چې وروسته همدې باختري واکمن د خپلواکۍ اعلان وکړ.

چندرا ګوپتا ۳۰۰ کاله پخوا تر میلاده مړ شو. وروسته یې زوی بندوسارا د هند پر ګدۍ کښېناست. دا مهال د یوناني امپراتورۍ ښلا ښل مرکزونه جوړ شوي وو او د هغو تر منځ تودو جګړو دوام درلود. له دې سره سره چې د یوناني ښلا ښلو مرکزونو تر منځ جګړې کېدې، خو د سلوکیدیانو او موریایانو تر منځ د ښو اړیکو لمن ورځ په ورځ پراخېدله. د هند یو مؤرخ ابوظفر ندوي لیکي:

((د هند واکمن بندوسارا انتیاکوس ته پیغام ولېږه چې ماته یوتن طبیب، خوږه شراب او یو څه وچ انځر را ولېږه ! انتیاکوس یې په ځواب کې ولیکل، خوږه شراب او وچ انځر به در ولېږم، خو د یونانیانو په قانون کې د عالم او طبیب پلورل منع دي)).

د مور یایانو او سلیوکیدیانو تر منځ ښو اړیکود دې زمینه برابره کړه چې هندي سوداګریز توکي له هندځخه باختر او بیا به د سلوکیدیانو د واکمنۍ او تر هغو وړاندې نورو سیمو ته رسېدل. او برعکس له همدې سیمو څخه سوداګریز توکي د هند لوري ته رسېدل. دا سوداګریزې اړیکې د دې لامل شوې چې د یوناني او هندي کلتور تر منځ د ګډېدو او یوځایوالي زمینه برابره شي.



د چندراګوپتا د مهال یوه طلایي سکه

تر بندوسارا وروسته د ګوپتايي کورنۍ نامتو واکمن اشوکا د واک پر ګدۍ کښېناست. اشوکا د بودايي دين د خپرولو په لار کې زيات زيار وايست. ډېر شمېر مبلغان يې افغانستان او د نړۍ بېلا بېلو برخو ته ولېږل. تر واک لاندې سيمو کې يې هغه فرمانونه پر ډبرو وليکل چې د بودايي ائين استازيتوب يې کاوه. په کندهار، ننګر هار (درونټه) او يو شمېر نورو سيمو کې د اشوکا فرمانونه شته چې پر ډبرو ليکل شوي دي. د اشوکا په فرمانونو کې د ايتودموس (ای تيوديم)د نوم څرک نه ليدل کېږي، د دې معنا دا ده چې د اشوکا د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې د ای تيوديم واکمني لا نه وه پيل شوې. د ای تيوديم د واکمنۍ له پيل سره سم د اشوکا هغه والي چې د کابل حوزه او ګندهارا يې تر واک لاندې وه، له ماتې سره مخ شو او په دې توګه د موريايانو واکمني د افغانستان پر سهيلي سيمو له منځه ولاړه او په ۲۵۵ کاله پخوا تر ميلاده ای تيوديم د باختر بريدونه د هندوکش تر سهيلي سيمو راورسول او د افغانستان د خپلواکۍ اعلان يې وکړ.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دريو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د هخامنشيانو، دويمه ډله دې د يونانيانو او دريمه ډله دې د موريايانو د واکمنيو سيمې او سرحدونه په نقشه کې وښيي.

پوښتنې

۱ - د موريايانو د لومړني واکمن په اړه څه معلومات لرئ؟ توضيح يې کړئ.

۲ – بندوسارا سلوکيدي واکمن ته څه وليکل او بيا يې څه ځواب تر لاسه کړ؟ خپل معلومات وړاندې کړئ.

۳ – د اشوکا د کيش په اړه څه معلومات لرئ؟ بيان يې کړئ.

دویم څپرکی
په افغانستان کې لومړني مدنیتونه

دا څپرکی لاندې لوستونه لري:

- د یوناني باختري خپلواک دولتونه
- د یوناني باختري مدنیت ځانګړتیاوې
- د یوناني باختري دورې نامتو ښار(آی خانم)
- ساکان
- د کوشانیانو امپراتوري
- بګرام یا د کوشاني امپراتورۍ پلازمېنه
- هډه یا د کوشاني امپراتورۍ کلتوري مرکز
- بامیان د کوشاني امپراطورۍ عقیدتي مرکز
- کیداریان یا کوچني کوشانیان
- د یفتلیانو امپراتوري
- د اسلام د ظهور پر مهال د افغانستان وضع.

د څپرکي موخې

هیله کیږي چې د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:

- له یوناني باختري دولت، د آی خانم ښار، د پارتیانو او ساکهانو واکمني، د کوشانیانو امپراتورۍ او د هغې د مهمو مرکزونو، د کیدارییانو حاکمیت، د یفتلیانو امپراتورۍ او د اسلام د ظهور پر مهال د افغانستان له وضعیت سره آشنایي.
- د یوناني باختري مدنیت پر ځانګړتیاوو او د آی خانم د ښار د جوړښت پر ډول پوهېدل.
- د بګرام، هډې او بامیانو په ارزښت پوهېدل.
- د هېواد له توریستي او لرغونو سیمو سره د لیوالتیا پیدا کېدل.

يونان - باختري خپلواک دولتونه

په دې لوست کې به د يونانيانو باختري دولت د جوړيدو او د باختر له سياسي وضعې سره، چې سغد، مروې، بلخ او تخار سيمې پکې شاملې دي، آشنا کېږئ.

لومړی ديوديتس د يونان – باختري دولت بنسټ ايښوونکی دی. نومورې ۲۵۵ کاله پخوا تر ميلاده په باختر کې له يوناني سلوکيديانو څخه خپله خپلواکي اعلان کړه. د ديوديتس واکمنۍ دوه پراوه درلودل. په پيل کې ديوديتس په باختر کې داسې مسکوکات جوړ کړل چې د سکې پر يو مخ د ديوديتس انځور او پر بل مخ يې د انتيکيوس څېره ښکارېده خو د ديوديتس د واکمنۍ وروستي مسکوکات بيا له خپلواکۍ وروسته جوړ شوي دي. په دې مسکوکاتو کې د سکې پر يوې خوا د ديوديتس څېره او پر بل مخ يې د جيوپيتر څېره (د رعد او برق الهه) انځور شوې وه. د ديوديتس تر واکمنۍ لاندې سيمې تر باختر پورې چې سغد، او مروه، بلخ او تخار سيمې په کې شاملې وې وې. لومړی ديوديتس ۲۵۰ کاله پخوا تر ميلاده مړ شو.

د لومړي ديوديتس تر مړينې وروسته د هغه زوی دويم ديوديتس واکمن شو. نومورې تر ۲۳۰ کاله وړاندې تر ميلاده د باختر پر سيمو واکمني درلوده. د دويم ديوديتس د واکمنۍ پر مهال يو شمېر نورې سيمې هم د باختر تر واک لاندې شوې. هرات او د هريرود سيمې هم د باختر تر کنترول لاندې سيمې شوې. هغه مهال د پارت دولت د مشر ارساس او دوهم ديوديتس تر منځ د ملګرتوب او دوستۍ اړيکي زياتې شوې. په دې ډول د سلوکيديانو په وړاندې دوه نوي خپلواک دولتونه سره ملګري او متحد شول.

د ديوديتس د کورنۍ واکمنۍ زياته موده دوام ونه کړ ځکه چې د ای تيديوم په نامه يوه تن قوماندان ۲۲۰ کاله پخوا تر ميلاده د ديوديتس پر خلاف پاڅون وکړ او د هغه واکمني پې له منځه يوړه.

ای تيديوم ۲۲۰ کاله پخوا تر ميلاده د باختر نوی خپلواک واکمن شو. دا مهال د شام يوناني

واکمن انتیکوس د پارت پر نوي خپلواک شوي دولت برید وکړ او د پارتي دولت تر نړولو وروسته یې د باختر پر لور بریدونه پیل کړل. ای تیدیوم د جګړې او مقابلې لپاره د دښمن د مخنیوي لپاره هریرود ته ورسېد او هلته تر یوې درنې جګړې وروسته له ماتې سره مخامخ شو وروسته له هغه یې د خپل مرکز پر لور مخه کړه او په خپل مرکز کې یې چې د زریاسپ په نوم یادېده د خپلې واکمنۍ څخه د دفاع ملا وترله. دا دفاع تر دوو کالو وغځېده. د شامي واکمن له لوري دا ښار په محاصره کې وساتل شو. تر دوو کلونو وروسته د دواړو لورو تر منځ روغه وشوه او تر دې روغې وروسته ای تیدیوم د خپلې واکمنۍ د زیاتولو او لا غښتلي کولو لپاره مناسبه زمینه ومونده.

ای تیدیوم د باختر لومړنی واکمن و چې یوناني هنر یې د هند لویې وچې ته ورساوه. د یو شمېر مؤرخینو په باور د هغو خروشتي ډبرلیکونو پر بنسټ چې په هند کې تر لاسه شوي دي. دا څرګندېږي چې یوناني هنر مندانو او صنعت کارانو خپله اغېزه د هند پر سیمو کړې ده.

تر ای تیدیوم وروسته د هغه زوی دیمیتروس په ۱۹۰ کاله پخوا تر میلاده واک ته ورسېد. نوموړي د خپلې واکمنۍ سیمې لا پراخه کړې. تاکسیلا کاتیا وار او د موریاپته سیمې یې د هند له واکمنانو څخه ونیولې. دیمیتروس د خپلې واکمنۍ په بېلابېلو سیمو کې د نویو ښارونو د جوړولو کارونه پیل کړل چې په اراکوزیا کې کلات، په سند او هند کې سیالکوټ او پتیاله یې خورا مهمې بېلګې دي.



د دیمیتروس د مسکوکاتو یوه بېلګه

د باختري يونان د کورنۍ وروستی واکمن ديميتروس و چې د خپل يوقوماندان له خوا يې ماته وخوړه. د هغه قوماندان، چې ايوکراتېد نومېده، د يوې نوې کورنۍ بنسټ کېښود.

ايوکراتيد په ۱۸۱ کاله پخوا تر ميلاده په بلخ کې واک ته ورسېد او پر ټولې لرغونې آريانا يې واکمني درلوده. د ايوکراتيد د واکمني پر مهال د ای تيديوم د کورنۍ پاتې شونو د پارتيانو په



د ايوکراتيد د مسکوکاتو بېلگه

مرسته د ايوکراتيد پرضد يو لړ فعاليتونه پيل کړل. د دې فعاليتونو په ترڅ کې د ايوکراتيد واکمني کمزورې شوه او د خپلې واکمنۍ مرکز يې تر ميلاد پخوا په ۱۳۵ کال کې د هندوکش سويل يا کاپيسا ته ولېږ داوه.

تر ايوکراتيد وروسته د هغه زوی هيلوکلس د واک پر ګدۍ کېښناست. نوموړی چې د يونان – باختري دورې وروستی ځواکمن پاچا پېژندل کېږي، د خپلې واکمنۍ سېمه يې د هندوکش له شماله بيا تر ګندهارا او جيهلم پورې و غځوله. ۳۶ تنو باختري يوناني واکمنانو پر باختر او اړوندو سيمو واکمني درلوده. سل کاله پخوا تر ميلاده د لرغوني افغانستان په سويلي سيمو کې د ساکانو په نامه يوې بلې کورنۍ ورځ په ورځ د خپلې واکمنۍ سېمې پراخولې او ورو ورو يې د يونان باختري پېر يو شمېر سېمه ييز واکمنان تر خپل واک لاندې راوستل او د يونان باختري پېر واکمني يې د له منځه وړلو له خطر سره مخامخ کړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په نقشه کې د کاپیسا، پتیاله او جهلم موقعیتونه وښیي.

پوښتنې

۱ – په لومړي ځل د یونان باختري پېر کوم واکمن د باختر خپلواکي اعلان کړه؟ په دې اړه خپل معلومات وړاندې کړئ.

۲ – ای تیدیوم څوک و؟ په اړه یې خپل معلومات وړاندې کړئ.

۳ - د یونان باختري دورې وروستی امپراتور څوک و؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې په نورو خپرونو او کتابونو کې د یونان –باختري پېر د مسکوکاتو انځورونه وموميي او په اړه دې خپل راټول شوي معلومات په ټولګي کې نورو ټولګیوالو ته واوروي.

د يونان - باختري مدنيت ځانګړتياوې

په دې لوست کې به په لرغوني افغانستان کې د يونان باختري مدنيت له ځانګړتياوو او اهميت سره آشنايي پيداکوئ.

افغانستان د زيات شمېر مؤرخينو او څېړونکو له نظره خورا ستراتژيک ټاټوبی ګڼل شوی دی. انګليسي نامتو مؤرخ تاينبي افغانستان د لرغونو مدنيتونو د يوځای کيدلو د ټاټوبي په نامه يادوي. جاپاني لرغونپوه (ماوريز يوتوزي) لرغوني افغانستان ته د سوداګرۍ او راکړې ورکړې د څلور لارې نوم ورکړی دی. علامه حبيبي افغانستان په سيمه کې د لرغونو مدنيتونو د زانګو په نامه نومولی دی. په دې تر تيب نور القاب او عناوين هم د لرغوني افغانستان د ارزښت په اړه ياد شوي دي. د هغو لرغونو مدنيتونو له شمېرڅخه يو هم د يونان باختري مدنيت دی چې په افغانستان او سيمه کې د يوه نامتو تاريخي مدنيت په توګه پيژندل شوی دی.

يو نان باختري مدنيت د دوو مدنيتونو ټولګه ده. دا دوه مدنيتونه چې يو يې د يونانيانو په وسيله له هغوی سره يو ځای افغانستان او سېمې ته را رسېدلی او بل يې په باختر کې دځايي اوسيدونکو مدنيت و چې د لرغونو آريايي مدنيتونو پر بنسټ يې وده کړې وه. د دې دواړو مدنيتونو يو ځايوالي په سيمه او لرغوني افغانستان کې د نوي مدنيت بنسټ کېښود چې په تاريخ کې د يونان – باختري مدنيت په نامه پېژندل شوی دی.

يونانيانو په خپل هېواد کې يو په بل پسې د لوړو فکرونو او اندونو نامتو پراونه تېر کړي وو، چې يو پراو يې د هيراکلت، افلاطون، بطليموس او نورو فيلسوفانو پراو و دا پراو له يوناني امپراتورۍ سره يوځای وغوړېد. د ودانيزو چارو بېلابېلي تجربې يې آزمويلې او کارولې وې چې د بېلګې په توګه کولای شو د پژې جوړولو (مجسمې جوړولو) نوم واخلو چې د کمال تر پولې رسېدلې وه.

يونانيانو له خپلو فتوحاتو سره يوځای خپل مدني لاس ته راوړني هم له ځان سره تر واک لاندې سيمو ته لېږلې، چې بېلګې يې په ټولو تر لاس لاندې سيمو او په ځانګړې توګه لرغوني افغانستان کې څرګندې دي.

يوناني معمارانو د عسکري کوټونو لپاره داسې ځايونه غوره کول چې د دوو يا دريو خواوو به د طبيعي موانعو په مرسته ساتل کېدل او يا يې د ساتنې شونتياوې درلودې، يوه خوا به يې د خپلو ځواکونو په مټ ساتله. دا ډول ودانۍ د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې لېدل کېږي. د بېلګې په توګه د ای خانم لرغونې سيمه، چې د کوکچې او آمو سيند په تقاطع کې ودانه شوې ده يادولای شو. د بګرام لرغونې سېمه يوه بله بېلګه ده چې د شتل او پنجشير سيندونو د تقاطع پر ځای جوړه شوې ده.

پژې جوړول د يوناني هنر يوه بله بېلګه ده چې په لرغوني افغانستان کې يې د افغاني هنر مندانو په مټ زياته وده وکړه. دا هنر د باميانو او نورو پژيو په شتون سره په وروستيو دورو کې د نړيوال فرهنګي ميراث په توګه پېژندل شوی دی. د يوناني ليکدود زياتې بېلګې د ډبرليکونو پر مخ ليدل کيږي، چې هغه مهال د هېواد په بېلا بېلو برخو کې معمول و. دا ليکدود نه يوازې د لرغوني افغانستان د تاريخي پېښو په اړه ډاډمن اخځونه دي، بلکې په افغانستان کې د يوناني علمي بهيرد غوړېدلو استازيتوب هم کوي.

د يوناني تمدن بېلا بېلې بېلګې چې د ودانيو جوړولو په ميتودونو، د پژيو جوړولو په مهارتونو او د ليکدودونو په کارونو کې ليدل کيږي، د افغانانو په مټ يې په افغانستان او سېمه کې وده او پراختيا وموندله. لومړی ولسونو دا نوښتونه ومنل او بيا يې په خپلو سيمو کې د تعميم او زياتولو لپاره کار او زيار وګاله. له همدې امله په يونان باختري دوره کې ټولې يوناني مدني لاس ته راوړنې يوازې يوناني پاتې نه شوې، بلکې په افغاني بڼه يې وده وکړه او د يوه ګډ مدنيت څېره يې پيدا کړه، چې په لرغوني تاريخ کې د يونان – باختر مدنيت په نوم پېژندل کيږي.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي. هره ډله دې په دې اړه چې ولې مؤرخينو لرغوني افغانستان ته جلا جلا القاب او نومونه ورکړي، په خپل منځ کې خبرې اترې وکړي.

پوښتنې

۱ – مؤرخينو د لرغوني افغانستان لپاره کوم القاب يادکړي؟

۲ – د يونان باختري د معماری دوه اړخيزه اغيزه څه وه؟

۳ – د پژې جوړولويوناني هنر په افغانستان کې څه اغېزې درلودې؟ په اړه يې خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې له خپلو مشرانو څخه د لرغونو ودانيو د ډول، جوړښت او شکل په اړه معلومات تر لاسه کړي او بيا دې په ټولګي کې نورو ته واوروي.

د یونان - باختري پېر یو نامتو ښار (آی خانم)

په دې لوست کې به د آی خانم له لرغوني سیمې او له دغې سیمې څخه د ترلاسه شویو شواهدو او آثارو په اړه معلومات ترلاسه کوئ، چې د افغانستان د لرغوني تاریخ یوه برخه ګڼل کېږي.

د تخار ولایت په هغه سیمه کې چې د آمو او کوکچې سیندونه سره یوځای کیږي، دوه زره درې سوه کاله پخوا د یوه دفاعي ښار بنسټ کېښودل شو، چې وروسته بیا د یونان ـ باختري مدنیت په ستره بېلګه بدل شو. دا ښار په ۱۹٤٦ زېږدیز کال د فرانسوي لرغونپوهانو له خوا تر څېړنې لاندې ونیول شو.

آي خانم ازبکي ترکیبي نوم دی چې آی د میاشتې او خانم د میرمنې په معنا کارول کیږي.کله ناکله د سیمې اوسېدونکي د دې لرغوني ځای لپاره د ماه خانم نوم هم کاروي. که څه هم پوره څرګنده نه ده چې د دې لرغوني ښار لومړنی بنسټ ایښودونکی څوک و، خو د هغو شواهدو پر بنسټ چې له همدې سیمې څخه تر لاسه شوي او یا له ځینو تاریخي متونو څخه په ډاګه شوي، دا څرګنده وي چې د لومړي ځل لپاره یوناني مقدوني سکندر، د دې ښار بنسټ ایښی دی. یوناني نامتو جغرافیه پوه بطلیموس په خپلو آثارو کې د اکسوس سکندریې په نامه د یوې سیمې یادونه کړې، چې بې له شکه د آی خانم اوسنۍ سیمه ده.

څېړنو وښودله چې د ښار لومړنیو اوسیدونکو په پوره مهارت او دقت د ختیځ او لویدیځ د ودانیو جوړولو میتودونو تر منځ داسې یووالی راوستی چې ځانته خپل ځای لري. د بېلګې په توګه د ځینو ودانیو د ټینګښت په منظور تر اومو خښتو لاندې د پخو خښتو تهداب ایښودل شوی دی، د سکرو (ذغال) څخه یوه ټاکلې لایه (طبقه) د لنده بل د مخنیوي په نیت جوړه شوې ده. د ودانیو د سینګار او ښکلا لپاره د اهکي او تباشیري ډبرو څخه کار اخیستل شوی دی.



د آی خانم د دوو سرستونیو انځورونه

د لرغونپوهانو پرله پسې څېړنو وښودله چې آی خانم د يوناني او باختري فرهنګ د ګډېدو ټاټوبی دی. دا لرغونی ښار د يوه لوی ديوال په وسيله اِحاطه شوی چې اوږدوالی يې ۱۵۰۰ متره او لوړوالی يې لس مترو ته رسېده. که له دې سېمې څخه تر لاسه شوې د ودانيو پاتې شوني او سپرل شوي وران کورونه د موقعيت او حالت له مخې وکتل شي، په وضاحت سره دا مطلب بيانوي چې د ښار په مرکزي برخه کې دفترونه او د هغو پر شا او خوا د اوسيدونکو کورونه جوړ شوي وو. د ښار منځنۍ برخه چې ۳۰۰ متره په ۳۰۰ متره کې ساحه لري او د يوه لوی انګړ په څېر څرګندېږي، په اصل کې د خپل وخت اداري مرکز او د چارواکو د واکمنۍ پلازمېنه وه. دا لوی انګړ چې اوږد والی يې ۱۳۰ متره او سور يې ۱۸۰ متره ته رسېده، په مستطيل ډول جوړ شوی چې په څلورو خواوو کې يې ۱۱۶ ستونونه درلودل. همداشان يو ستر تالار، چې اوږدوالی يې ۲۷متره او سور يې ۱۷ متره ته رسېدلې دی، د دې لويې حويلۍ په منځ کې ښکاري.

د آی خانم په محوطه کې دننه د کورونو او خونو څخه زيات شمېر آثار او شواهد تر لاسه شوي چې د يونان- باختري مدنيت د برم نماينده ګي کوي.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو و وېشل شي لومړۍ ډله دې د ای خانم نوم او بنسټ ايښودونکي او دويمه ډله دې له ای خانم څخه د تر لاسه شوي ډېرليک په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د آی خانم د موقعيت او د نامه د معنا په اړه څه معلومات لرئ؟ وړاندې يې کړئ.

۲- له آی خانم څخه د کوم پېر مسکوکات پيدا شوي دي؟ شرح يې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې له منابعو څخه د تخار ولايت او آی خانم په اړه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

ساکان

په دې لوست کې به د افغانستان په سویلي سیمو لکه کندهار او سیستان کې د ساکانو د واکمنۍ په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د یونان باختري دورې ورستی ځواکمن امپراتور هیلوکلس و چې د یونان باختري پر ټولې امپراتورۍ یې واکمني چلېده. تر هغه وروسته سیمه ییز واکمنان منځته راغلل چې هر یوه یې پر یوې کوچنۍ سیمې حاکمیت درلود او د دې ورپو واکمنیو دوران تر سل کاله پخوا تر میلاده پایښت وموند. دا مهال د لرغوني افغانستان په سویلي او سویل ختیځو سیمو کې د یوې نوې کورنۍ واکمني پیل شوه چې د ساکه یا ساکانو په نامه یادېږي.

د ساکانو په نوم یو ځواکمن قوم د لرغوني افغانستان په سویلي برخو، لکه اراکوزیا (کندهار) او سکستان (سیستان) په سیمو کې د خپلې واکمنۍ بنسټ کېښود. د دې نوي ځواک لومړنی واکمن د هرایوس په نامه پېژندل شوی دی. نوموړي د یونان باختري امپراتورانو په څېر په خپل نامه مسکوکات جوړ کړل. په لنډه موده کې یې د خپل واک بریدونه تر تاکسیلا، سیند او بولان هاخوا سیمو پورې وغځول او د یونان باختري امپراتورۍ سویلي او سویل ختیځې سیمې یې تر خپل کنترول لاندې راوستلې.

تر هرایوس وروسته مایوس ۷۲ کاله تر میلاده وړاندې زمانه کې واک ته ورسېد. نوموړي پر خپلو مسکوکاتو د شهنشاه عنوان ولیکه. د نوموړي له مهاله یوه لیکنه چې د مس پر ټوټې لیکل شوې ده، لرغونپوهانو موندلې ده، په نوموړې لیکنه کې تر میلاده وړاندې ۷۸ کاله او د یوناني او خروشتي لیکدود ېبلګې په ځرګنده ښکاري. د مایوس اووه ډوله مسکوکات د لرغونپوهانو لاس ته رسېدلي دي.

تر مایوس وروسته د هغه دوه تنه میراث وړونکي پېژندل شوي دي، چې د دې دواړو واکمنۍ تر پنځوس کاله پخوا تر میلاده پایښت موندلی دی او بیا د نویو سیتي قومونو تر زور لاندې شوی او کوشاني امپراتورانو یې سیمې لاندې کړي او هغوی یې له واکه لېرې کړي دي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په خپلو کې د ساکانو اړه خبرې وکړي او له یو بل څخه دې پوښتنې ترسره او ځوابونه دې هم په خپله سره و ارزوي.

پوښتنې

۱ – د ساکانو د واکمنۍ لومړنۍ ټاټوبۍ چېرې و؟ په اړه یې معلومات ورکړئ.

۲ – د ساکانو لومړنی واکمن څه نومېده؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د ساکانو په اړه یو مطلب جوړ او په راتلونکي درسي ساعت کې دې نوروته وړاندې کړي.

د کوشانیانو امپراتوري

په دې لوست کې به د کوشاني امپراتورۍ د تاسیس، د مهمو کوشاني امپراتورانو او د رباطک د ډبر لیک په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

د کوشانیانو نوم د کوشان له کلمې اخیستل شوی دی. کوشان د یوچې قوم څخه و چې له آمو سیندڅخه را پورې وتل او په بلخ کې یې د یونان باختري واکمني پای ته ورسوله. د کوشانیانو د



د کجولا کدفیسیس د واکمنۍ پر مهال د یوې سکې دوه مخه

د رباتک ډبرلیک یو انځور



واکمنۍ په پیل کې بلخ او درې ولایتونه سره یوځای شول او د یوې نوې امپراتورۍ بنسټ یې کېښود. هغه مهال څلورو سترو امپراتوریو د آسیا او اروپا پر زیاتو سیمو واکمني درلودله، چې یوه یې د کوشانیانو امپراتوري وه.

د کوشاني امپراتورۍ مؤسس کجولا کدفیسیس دی. نوموړي هغه درې سېمه ییز واکمنان، چې د یونان باختري وروستۍ واکمني یې پای ته رسولې وه او د بلخ پر ګاونډیو سیمو یې واک چلېده، یو په بل پسې تر خپل ګورت لاندې راوستل. کجولا کدفیسیس پخوا تر دې چې د پاچاهۍ اعلان وکړي، د قوم مشر و. نوموړي په ٤٠ زېږدیز کال کې د پاچاهۍ اعلان وکړ او تر ٨٠ زېږدیز د آریانا پر زیاتو سیمو یې پر له پسې ۴۰ کاله واک وچلېد. د خپلې واکمنۍ په وروستیو کې یې د شهنشاه لقب ځان ته غوره کړ.

د کجولا کدفیسیس تر مړینې وروسته د هغه زوی ویما تکتو د واک پر ګدۍ کښېناست. تر ویما تکتو وروسته دده زوی ویما کد فیسیس له ۱۰۵ ځخه تر ۱۲۷ زېږدیز پورې واکمن و. ویما کدفیسیس د کوشانیانو لومړنی ټولواک و چې د هېواد حدودو ته یې په سوېل کې د ګنګا تر سیند پورې پراختیا ورکړه. ویما کدفیسیس د چین له هېواد سره دوستانه اړیکې درلودې. د روم امپراتور تراجان دربار ته یې یو سفیر ولېږه او له هغوی سره یې د سوداګرۍ او اقتصادي اړیکې ټینګې کړې. په دغه دوره کې د روم د سکې جوړولو هنري اغېز څرګند دی.



د کنشکا د یوې سکې د یو ه مخ انځور

د کوشاني امپراتورۍ په اړه تر ټولو نوي معلومات د رباطک له ډبرلیکه تر لاسه شوي دي. دا ډبرلیک نابېره د بغلان او تخار ولایتونو تر منځ په یوه سېمه کې چې رباطک نومېږي، لاس ته راغلی دی. له همدې امله یې د رباطک ډبرلیک په نامه یاد کړ. په دې ډبرلیک کې د کوشاني پېر په اړه داسې زیات نوي ټکي څرګند شوي دي، چې پخوا ناڅرګند وو. د ببلګې په



د کنشکا د ډبرینې مجسمې انځور

توګه پخوا داسې منل شوې وه چې د کدفیزسانو کورنۍ ببله او د کنشکا کورنۍ بیله وه. په داسې حال کې چې د رباطک ډبرلیک دا خیال ناسم وښوده او ثابته شوه چې دا ټوله یوه کورنۍ وه.

لوی کنشکا د ویما کدفیسیس زوی، د خپل پلار تر مړینې وروسته په ۱۲۷ زېږدیزکال واک ته ورسېد او تر ۱۴۷ زېږدیز پورې واکمنۍ وکړه.

کنشکا د لرغوني افغانستان په تاریخ کې د ډېر واک خاوند او نامتو امپراتور و. دده د امپراتورۍ حدود ختیځ خوا ته د هندوستان د بنارس او لوېدیځ خوا ته د پارتیانو امپراتورۍ او په شمال کې تر کاشغر او یارکند پورې رسېدلي وو. په ختیځ کې یې د چین او په لوېدیځ کې یې د روم له هېوادونو سره تجارتي اړیکې درلودې او د کوشانیانو پر مهال د وربښمو نامتو لارې په ځانګړې توګه د کنشکا د واکمنۍ پر مهال نړیوال شهرت وموند.

د خپلې امپراتورۍ د اداري لپاره یې دوه اداري مرکزونه درلودل. ژمنی یې پېښور او د دوبې یې بګرام ټاکلی و.

د کوشاني امپراتورۍ د نړېدو لاملونه

د کوشاني امپراتورۍ د نړېدلو لاملونه لا په پوره توګه څرګند نه دي، خو د هند پراخو سیمو ته د کوشاني واکمنانو زیاته پاملرنه؛ د کوشاني امپراتورۍ لوېدیځ لوري ته ساساني امپراتورۍ له یوې ورځې څخه بلې ته ځواکمنېدل د هېواد په شمال کې د یفتلي قبیلو بریدونه او سوبې؛ له مرکزي واکمنۍ

څخه د سیمه ییزو ځواکونو سرغړاوی؛ د کوشاني امپراتورۍ په دننه کې د نویو ځواکونو تر منځ یو پر بل پرله پسې بریدونه؛ هغه ځانګړي لاملونه ګڼل شوي دي چې د کوشاني امپراتورۍ د له منځه تللو زمینه یې برابره کړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د کوشانیانو د موسس، دویمه ډله دې د رباطک د ډبرلیک په اړه او دریمه ډله دې د نامتوکوشاني واکمنانو په اړه خپل معلومات نورو ټولګیوالو ته واوروي.

پوښتنې

۱ – د کوشانیانو موسس څوک و؟ په اړه یې معلومات ورکړئ.

۲ – د رباطک ډبرلیک په اړه څه معلومات لرئ؟

۳ - د کوشاني امپراتورۍ تر ټولو ځواکمن پاچا څوک و؟ توضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د کوشاني دورې په اړه یو مطلب جوړ او په راتلونکي درسي ساعت کې دې نوروته وړاندې کړي.

بګرام د کوشاني سترې امپراتورۍ پلازمېنه

په دې لوست کې به د کوشانیانو د دوبنۍ پلازمېنې (بګرام) په اړه د پوهانو د څېړنو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.



د کوشاني لړۍ ستر امپراتور، کنشکا د بګرام سیمه خپله دوبنۍ پلازمېنه وټاکله. د لرغونپوهانو څېړنو دا مطلب په ډ آګه کړی چې د بګرام لرغوني سیمه پخوا تر هغه، چې ستر کنشکا يې خپل اداري مرکز وټاکي، مقدوني سکندر هلته د یوه دفاعي ښار بنسټ ایښی و. په هغو لیکل شویو آثارو کې چې له مقدوني سکندر څخه د خاطراتو په ډول پاتې دي، د دې سیمې (بګرام او کاپیسا) په اړه زیات په زړه پورې معلومات شتون لري. په دې خاطراتو کې د قفقاز سکندریې تر نامه لاندې لیکنې د همدې بګرام په اړه دي.

د کوشاني امپراتورۍ ټوله سیمه چې خټېځې سرحدي کرښې يې له خو قند او یارکند او نیپال څخه پیل کیدې، بیا تر لوېدیځو کرښو پورې چې تر اصفهان او سیستان پورې رسیدلې، همداشان شمالي سرحدونه يې له سیر دریا، خوارزم او سغد څخه پیل کیدې او په سوېل کې د منځني هند تر پوتالي پوترا، سري چامپا او هند سمندر پورې رسېدې، په اوړي کې د بګرام او په ژمي کې د پیښور له مرکزه اداره کېدې.

د بګرام په لرغونې سیمه کې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۳۷ زېږدیز کال د فرانسوي لرغونپوهانو په



وسیله سروې او سپړنې پیل شوې. د فرانسوي لرغونپوه، ګیرشمن په باور د بګرام د ښار جوړښت او د معماریِ ډول داسي بریښي چې د یوناني ماهرینو په لاس جوړ شوی وي. نوموړي د بګرام ښار د جوړښت او معماریِ د ځانګړتیاوو پر بنسټ له یونان سره پر تله کړس دی او د دې ښارونو تر منځ یې د ورته او ګډو خصوصیاتو زیاتې ښلګې را څرګندې کړیدي.

د یادو شویو ښارونو د ګډو خصوصیاتو شمېر زیات دی، خو د ښلګې په توګه د ګیرشمن پام دې ټکو ته اوښتی، چې یاد شوي ښارونه د سیندونو په یوه تقاطع کې جوړ شوي دي؛ له پوځي پلوه یې له دریو لورو څخه دفاع آسانه بریښي، ځکه پر لوړو غونډیو او سیمو کې پرتې او ټوله سېمه ترې په آسانه ښکاري او ښه څارل کېدای شي.

له بګرام څخه زیاته اندازه طلایي مسکوکات، عاجي آثار، له لاکو څخه جوړې شوې صندوقچې، برونزي ارزښتمن وسایل، د یونان، روم، مصر، چین، هند او د نړۍ له نورو برخو څخه لږ پیدا کېدونکي او ځانګړي اثار د لرغونپوهانو په وسیله تر لاسه شول، دا آثار په پرله پسې توګه د افغانستان ملي موزیم ته ولېږدول شول. په ملي موزیم کې د بګرام په نامه یوه ځانګړې خونه پرانیستل شوه چې د څېړونکو او سیلانیانو د زیاتې پاملرنې وړ وه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې په بګرام کې د سپړنو، دویمه ډله دې د بګرام د خصوصیاتو او دریمه ډله دې له بګرام څخه د تر لاسه شویو آثار و په اړه خپل معلومات ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ – د بګرام سپړنې په کوم کال کې پیل شوې؟

۲ – د بګرام د جوړښت خصوصیات څه دي؟ په لنډه توګه یې توضیح کړئ.

۳ – په بګرام کې د تر لاسه شویو آثارو څو نومونه بیان کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د بګرام په اړه لازیات معلومات تر لاسه او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

هډه د کوشاني امپراتورۍ کلتوري مرکز

په دې لوست کې به د کوشانیانو د کلتوري مرکز (هډې) په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

پخوانیو مؤرخینو او پوهانو د لرغوني افغانستان ختیځې، سېمې چې د اوسني هند تر شمالي خنډو رسېدلي، د ګندهارا په نامه یادې کړي دي. یوناني مؤرخ هیرودوت او سترابون د ګندهارا سیمه په خپلو آثارو کې د ګنداریس په نامه ثبت کړې ده، چې د کابل او کونړ تر منځ پرتې سیمې پکې شاملې دي. له دې سره سره چې د مقدوني سکندر په دوره کې د ګندهارا نوم نه دی یاد شوی، خو د یونان باختري دورې حکمرانانو په آثارو کې، چې د لرغوني افغانستان پر ټولو حدودو واکمن وو، دا سیمه د ګنداراتي (Gandarati) او یا د ګندارو (Gandarwa) په نامه یاده کړې ده او د ناګاهارا (ننګرهار) کوهش (کونړ) پورا شاپورا (پېښور) سراسواتي (سوات) سیمې پکې شاملې دي.





د بودا مجسمې

د ګندهارا یو ستر فرهنګي مرکز اوسني جلال آباد ته خیرمه د هډې سیمه ده، چې په پخوانیو متونو کې د هیلو په نامه یاده شوې ده. هیلو د لرغونو بودایانو د تبرک ځای او د هغو د عبادت ستر ټاټوبی و.په هغو یونلیکونو کې چې له چیني زیارت کوونکو څخه را پاتې دي، د دې سیمې په هکله په زړه پورې او ارزښتمن معلومات شته. فاهیان لومړنی چیني زایر و چې په ٤٢٠ زېږدیز کال یې هډه ولیده. له هغه وروسته سوینګ یون په ٥٢٠ میلادي کال له هډه څخه لیدنه وکړه او په دې اړه یې زیات مطالب ثبت کړي دي.

دا پوښتنه چې، هډه ولې د کوشاني امپراتورۍ کلتوري پلازمېنه ګڼل شوې ده، د هغو لرغونپوهانو



او څېړونکو د پرله پسې سپړنو او څېړنو پر پايلو باور کوو، چې د هډې په اړه يې تر سره کړي دي. تر ټولو لومړی جوت لامل د مناسبو شرايطو او اړينو امکاناتو شتون و، چې د کنشکا د امپراتورۍ پر مهال برابرشو؛ دويم لامل په بوديزم کې د بدلون او نوښت منځ ته را تلل په ګوته شوي دي. دريم لامل يې د ګندهارايانو خلاقيت او فکري ظرافت يادکړي دی چې په ټوله بودايي نړۍ کې يې د لومړي ځل لپاره د بودا د مجسمو د جوړېدو نوښت وکړ.

د فرانسوي لرغونپېژندونکي فوشه په قول په ګندهارا کې د بودا مجسمه د ګندهارايانو له خوا جوړه شوې وه.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو و وېشل شي. لومړۍ ډله دې د هډې د نامه په اړه، دويمه ډله دې د هډې لپاره د کلتوري پلازمېنې د غوره کولو لاملونه او دريمه ډله دې د بودا مجسمې د جوړېدلو په اړه خپل معلومات نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱ – د هډې تاريخ په لنډه توګه توضيح کړئ.

۲ – هډه ولې د کوشاني امپراتورۍ فرهنګي پلازمېنه ګڼل کيږي؟ خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت


زده کوونکي دې د هډې په اړه لازيات معلومات تر لاسه او خپلو ټولګيوالو ته دې ولولي.

بامیان د کوشاني امپراتوری عقیدتي مرکز

په دې لوست کې به له ګریکو بودیک تمدن او د بامیانو د ارزښت په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د ګریکو بودیک د تمدن ریښې په لرغوني افغانستان کې شنې شوې، وده یې وکړه او بیا نورو ګاونډیو سیمو او هېوادونو ته ورسېدې. تر هغه چې ستر کنشکا لا بودایي کیش نه و منلی، نوموړی مذهب د یوې مړ ژوندې عقېدې په توګه د هند په محدوده کې پاتې و. همدا ډول له لرغوني یونان څخه راغلو هنرمندانو د خپلو هنرونو او ختیځو خیالاتو د یو ځایوالي په لارکې ټاکلې ستونزې درلودې. د کوشانیانو د واکمنۍ پر مهال د افغاني هنرمندانو او ماهرینو په وسیله دا ستونزې لېرې شوې او د یوناني هنر او هندي ارزښتونو تر منځ د یووالي زمینه رامنځته شوه او په پایله کې د ګریکو بودیک په نامه یو ستر تاریخي تمدن منځته راغی.





گریکو بودیک تمدن له یوې خوا د افغانستان پر لرغونې ټولنه هر اړ خیزې اغیزې وښندلې،او له بل پلوه دامدنیت د جاپان، کوریا او چین پورې، د سریلانکا او هندځخه بیا تر سیر دریا او تاجکستان پورې ټولې سېمې تر خپلې اغېزې لاندې راوستې وې. د نړۍ له بېلا بېلو سیمو ځخه به د عقیدتي مراسمو د پر ځای کولو په نیت زیات شمېر راهبانو،زایرینو او سیلانیانو به په افغانستان کې د ودان شویو بو دایي عبادت ځایونو په ځانګړې ډول د بامیانو لرغوني ځای ته د لیدو کتو په نیت سفرونه کول.

د بامیانو په اړه تر ټولو پخوانې معلومات د چیني زیارت کوونکو له خوا لیکل شوي. فاهیان تر ټولو پخوانی چیني زیارت کوونکی دی چې د بامیانو په اړه لیکنې لري. نوموړي په ٤٠٠ زېږدیز کال د بامیانو سېمه لیدلې او د سترو مجسمو په اړه یې ارزښتمن معلومات لیکلي دي. نوموړی لیکي: د بامیانو دره شنه او پاکه ده،د سترو مجسمو شا او خوا هره ورځ وینځل کېږي،زیات شمېر مذهبي مدرسې شته، هره ورځ زیارت کوونکي او سوداګران دې سېمې ته د تلو راتلو په حال کې دي. د راهبانو لپاره ځانګړې صومعې جوړې شوي او د ځارویو لپاره بېل ټاټوبي شته.

تر فاهیان وروسته هیونتسنګ د بامیانو سیمه لیدلې او په خپلو یونلیکونو کې یې زیات ارزښتمن مطالب را ټول کړي او لیکلي دي. د هغه په وینا په بامیانو کي تر لس زیاتې خانقاوې وې، چې څه ناڅه زرتنه واعظین پکې د بودایي مذهب تبلیغ ته ګومارل شوي وو. په لسګونو مدرسې موجودې وې، چې هرې مدرسې لږ تر لږه زرتنه زده کوونکي درلودل. هیونتسنګ په بامیانو کې وړې او لوېې مجسمې لیدلي، خو یوه داسې مجسمه یې هم لیدلې چې هر سهار به د لمر په وړانګو کې زرینه ځلیده او داسې برېښېده، لکه چې ټوله له سرو زرو څخه جوړه شوې وي.

په افغانستان کې د رسمي سپړنو او څېړنو له پیل را وروسته په ۱۹۲۲ میلادي کال د بامیانو ستر ې مجسمې لومړی د فرانسوي لرغونپوه الفرد فوشه له خوا په ۱۹۲۲ میلادي کال وڅېړل شوې. نومورې په خپلو څېړنو کې څرګنده کړه، چې په څلورمه او پنځمه میلادي پېړۍ کي د بودا دوې ستړې مجسمې، چې یوه د صلصال او بله د شامامه په نامه یادېږي، جوړې شوې دي. د دې سترو مجسمو په اړه دعلمي سپړنو او څېړنو کار د فرانسوي لرغونپوهانو په وسیله پیل او بیا وروسته د نورو هېوادونو لرغونپوهانو هم د دې مجسمو په اړه څېړنې او لیکنې کړي دي، چې د ښلګې په توګه د هندي، جاپاني، چیني او افغاني لرغونپوهانو یادونه کولای شو.

په بامیانو کې دوې ستړي مجسمې په ۲۰۰۱ میلادي کال د هغه وخت د واکمن رژیم پر مهال له منځه ولاړې. د بامیانو لرغونې سېمه د نومورو دوو مجسمو له ړنګېدو دوه کاله وروسته په ۲۰۰۳ میلادي کال د ملګرو ملتونو د یونسکو اداري اړوند نړیوالو کلتوري میراثونو په لړ کې ومنل شوه .

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو و وېشل شي، لومړۍ ډله دې د بامیانو په اړه د چینایي زیارت کوونکو، دوېمه ډله دې د اروپایي پوهانو د معلوماتو او دریمه ډله دې په افغانستان کې د رسمي سپړنو وروسته د بامیانو په اړه خپل معلومات ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱– چینایي زیارت کوونکو د بامیانو په اړه په خپلو یونلیکونو کې کوم معلومات لیکلي دي؟ توضیح یې کړئ.

۲– د بامیانو په اړه د اروپایي پوهانو لومړني معلومات څه وو؟ بیان یې کړئ.

۳– له رسمي سپړنو څخه وروسته د بامیانو په اړه څه پوهېږئ؟ خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د بامیانو د ولایت په اړه معلومات راټول او بیا دې په ټولګي کې نورو ته ولولي.

کیداریان یاکوچنی کوشانیان

په دې لوست کې به د کیداریانو د واکمنۍ او په بلخ کې د کوشانیانو په امپراتورۍ کې د سیمه ییزو حکومتونو د پیل او د هغوی د سیاسي وضعې په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د واسو دیوا تر مړینې وروسته د کوشاني امپراتورۍ په دننه کې د سیمه ییزو واکمنیو دوران پیل شو. د کوشاني لویې امپراتورۍ د کنترول او اداري ځانګړې مرکز له منځه ولاړ سیمه ییزو واکمنانو د خپلوګټو او هیلو پر بنسټ واک چلاوه. د کوشاني امپراتورۍ په لویدیځو څنډو کې سیمه ییزو خپلسرو واکمنانو له نوې را ټوکېدلې ساساني امپراتورۍ سره اړیکې جوړې کړې. په حقیقت کې دا اړیکې د سیمه ییزو واکمنانو د ځان ساتلو هڅه وه چې څه ناڅه نیمه پېړۍ یې ونیوله.

ساساني ځواک د ټول افغانستان په لاندې کولو بریالی نشو، کله به یې د پخواني افغانستان پر یوه سیمه او کله پر بله سیمه له محلي واکمنانو سره په جوړ جاړې او یا په زور لاندې کولو سره د خپلې امپراتورۍ ریښې ځغلولې، خو په بلخ کې د کیداریانو واک ته رسېدل، او د کېداري واکمنانو له خوا د خپلواکۍ لرلو روحیه د دې سبب شوه چې له ساسانیانو سره د پر له پسې جګړو لړۍ اوږده او د مقابلې لوری زور واخلي. له همدې امله د کیداریانو د واکمنۍ زیات وخت له ساسانیانو سره په جګړو کې تیر شو.

کیداریان د کوشاني واکمنۍ پاتې شوني دي. دکوشاني کورنۍ اړوند یو تن شهزاده، چې کیدار نومېده، په بلخ کې د چارو واګې تر لاسه کړې. په بلخ کې د کیدار د واکمنۍ دېره موده نه وه تیره شوې چې په شمال کې د یفتلي قبیلو تر پرله پسې بریدونو لاندې راغلل. له همدې امله کیدار د هندوکش لویدیځو سیمو ته خپل مرکز ولېږداوه، او له جګړې پرته د کابل اوګندهارا پرسیمو واکمن شو. د کېدار واکمني د وړو کوشانیانو د پیل مهال ګڼل کېږي چې له ۳۲۵ زېږدیز کال سره سمون لري.

د کېداریانو او یا کابل شاهانو د دورې په اړه زیات معلومات یا د مسکوکاتو او یا چیني لیکنو پر بنسټ تر دې مهاله را رسېدلي دي. له کیداري مسکوکاتو څخه داسې بریښي چې د کېداریانو او ساسانیانو تر منځ پر له پسې جګړې او یو پر بل زیات یرغلونه شوي دي. د کېدارا د واکمنۍ پر مهال له

ساسانیانو سره مخالفت او جګړو پوره اته کاله دوام درلود. د کیداریانو او سا سا نیانو تر منځ د جګړو په اړه د ارمنستان یو مؤرخ فوستس لیکلي چې کیداریانو او ساسانیانو په ۳۶۷ او ۳۶۸ زېږدیز کې په خپل منځ کې خورا سخته جګړه وکړه او په پایله کې یې ساسانیانو ته کلکه ماته ورکړه.

د کیدار د واکمنۍ پر مهال په کابل کې د هغه د زوی کنګاس یادونه هم شوې ده. نوموړي د خپل پلار د واکمنۍ پرمهال د یو شمېرسیمو اداره پر غاړه درلوده، د کېدارا تر مړینې وروسته د هغه یو بل زوی چې پیرو نومېده، واک ته ورسېده. نوموړي د ۳۷۵ تر ۳۸۰ زېږدیز کلونو پورې د واک پر ګدۍ کښېناست. د نوموړي د واکمنۍ له سپینو زرو څخه یو شمېر مسکوکات ترلاسه شوي دي.

تر پیرو وروسته بهرام په نامه د کابل شاهانو یا کیداریانو یو بل واکمن د قدرت واګې په لاس کې ونیولې. تر بهرام وروسته د هندوکش سهیلي سیمې د یفتلیانو تر بریدونو لاندې راغلې او د کیداریانو او کوچني کوشانیانو واکمني یې له منځه یووړه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو و وېشل شي، لومړۍ ډله دې د کیداریانو د لومړني واکمن په اړه او دویمه ډله دې د کیداریانو د نورو واکمنانو په اړه خپل معلومات ټولګیوالو ته واوروي.

پوښتنې

۱ – د کیداریانو لومړنی واکمن څوک و؟

۲ – د کیداریانو او ساسانیانو تر منځ د اړیکو په اړه څه معلومات لرئ؟

۳ – د کیداریانو وروستي واکمنان څوک وو؟ په اړه یې خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونځي له کتاب پرته له نورو کتابونو څخه د کیداریانو په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې ولولي.

د يفتليانو امپراتوري

په دې لوست کې به د يفتلي امپراتورۍ د جوړېدو، د هغوی د مهمو امپراتورانو او د دې امپراتورۍ له سقوط سره آشنا شئ.

انګليسي مؤرخ سر اولف کارو په دې باور دی چې يفتليان له منځنۍ آسيا څخه د سوېل په لور را خوځيدلي او لومړنۍ اداره يې ٤٢٥ زېږديز کال په تخار کې جوړه کړه. تخار او د هندوکش يو شمېر نورې سېمې يې له کيدارياتو يا کوچنيو کوشانيانو څخه ونيولې او له ساسانيانو سره تر درنو جګړو وروسته د خپلو سيمو دفاع ته اړ شول. دې قبيلو زيات شمېر بودايي ودانۍ ړنګې او د لمر نمانځنې عبادت ځايونه يې ودان پرېښودل.

د يفتليانو او ساسانيانو تر منځ د جګړو لړۍ هغه مهال ډېرې زياتې او درنې وې چې لا يفتلي واکمني د هندوکش سويلي لورې ته نه وه رسېدلې. د يفتلي واکمنانو او ساسانيانو تر منځ لومړنۍ جګړه په ٤٢٧ زېږديز کال پېښه شوه. ساساني بهرام ګور پر مرو او مرغاب برید وکړ خو يفتلي واکمن خاقان د خپلې سېمې کلکه دفاع وکړه او ساساني ځواکونه يې له ماتې سره مخامخ کړل. په ٤٣٨ زېږديز کال د بهرام زوی دويم يزدګرد بيا پر يفتلي خاورې برید وکړ. نومورۍ هم له کلکې ماتې سره مخ شو. تر هغه وروسته لومړي فيروز يو ځل بيا له يفتلي واکمنانو سره د جګړې لاره ونيوله، خو دا ځل يفتلي واکمن اخشنور ساساني فيروز ته داسې ماتې ورکړه چې فيروز د خپل ژوند او سياسي پايښت لپاره اړشو چې خپل زوی قباد، اخشنور ته وسپاري او د دوو کلونو لپاره يې يفتلي واکمن ته په زياتو مالیو ورکولو ځان خلاص کړ.


اخشنور له پيروز سره تر جګړې وروسته وکړای شول د پخوانۍ آريانا يووالی بيا تامين کړي. د هندوکش سويلي سېمې يې تر خپل واک لاندې راوستې. زابل يې د خپل يوه مرکز په توګه وټاکه او

له هماغه ځایه یې د نورو سیمو د نیولو پلانونه جوړ کړ. دا مهال د ساساني واکمنانو تر منځ شخړې او جګړې زیاتې شوې وې. آن تر دې چې د فیروز ورور، ولاش د خپل یوه وزیر په وسیله له واکه لرې او ړوند شو. د ساساني واکمنانو په منځ کې تر دې اړودوړ وروسته د فیروز زوی، قباد چې له اخشنور سره تر ډېرې مودې یرغمل پاتې و، د ساسانیانو واکمن شو. قباد له یفتلي واکمنانو سره د دوستۍ لاره ونیوله. په دې حالاتو کې د یفتلي واکمنانو پام د هند لوري ته وګرځېد.

اخشنور څه نا څه نیمه پېړۍ واکمني وکړه. ساساني واکمنان لکه ولاش او قباد پر ځانونو د هغه باج منلی و. په هند کې یې د ګوپتا کورنۍ وځپله تر ٤٦٠ میلادي کال پورې یې هغه تر ٤٠ زیات ولایتونه تر خپل واک لاندې راوستل. تر اخشنور وروسته د هغه زوی تورمنه (توریالی) واک ته ورسېد. تورمنه په خپلو مسکوکاتو کې ځان د زابل امپراتور تورمنه یاد کړی دی. تورمنه خپله واکمنۍ د هند تر مرکزي سیمو ورسوله او په ٥٠٢ میلادي کال کې مړ شو. د تورمنه تر مړینې وروسته د هغه زوی میهراکولا (میهرګل) واک ته ورسېد.

میهراکولا د خپلې واکمنۍ د پراختیا لپاره پر هند بریدونه وکړل او د ګوپتا کورنۍ یې باج ورکولو ته اړه کړه. د بنګال له واکمنانو سره یې جګړې وکړې او زیات شمېر بودایي مرکزونه یې ویران کړل. میهراکولا په ٥٤٢ زېږدیز کال کې مړ شو او د ده له مړیني سره سم د یفتلي امپراتورۍ زوال پیل شو.هند او بنګال ببرته د خپلو واکمنانو لاس ته ورغلل او په افغانستان کې هم د یو شمېر پخوانیو سیمه ییزو واکمنانو لپاره د بیا واکمن کېدو زمینه برابره شوه.

د یفتلي امپراتورۍ تر نړېدو وروسته په افغانستان کې د کوشان – یفتلي په نامه د سیمه ییزو واکمنانو بله دوره پیل شوه. په دې دوره کې د کابل شاهانو، رتبیل شاهانو، د بامیان د شیرانو ، د تګین شاهانو نومونه



د زابلي يفتليانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان پولې

د يادولو وړ دي چې د هېواد پر بېلا بېلو سيمو واکمن شول. د دې دورې ځانګړنې په افغانستان کې د سيمه ييزو واکمنانو حاکميت او هغه پر له پسې مقاومتونه وو چې د افغانستان په بېلا بېلو سيمو کې د اسلامي ځواکونو په وړاندې تر سره شوي دي. د زماني واټن له مخې دا دوره په عمده توګه له شپږمې ميلادي پېړۍ څخه بيا د اتمې ميلادي پېړۍ تر وروستيو کلونو پورې دوام مومي چې په افغانستان کې د خپلواکو اسلامي حکومتونو له پيل سره سمون خوري.



د يفتلي واکمنانو د مسکوکاتو يو انځور

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د يفتلي واکمنانو په اړه د انګلیسي مؤرخ اولف کارو نظریه بیان کړي او دویمه ډله دې د اخشنور د واکمنۍ په اړه خپل معلومات ټولګیوالو ته و وایي.

پوښتنې

۱ – يفتليان له کوم ځایه څخه راغلل؟ معلومات وړاندې کړئ.

۲ – د يفتلي واکمن اخشنور په اړه څه پوهېږئ بیان يې کړئ.

۳ – د تورمنه په اړه څه معلومات لرئ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د يفتليانو په اړه يو مطلب جوړ او په ټولګي کې يې وړاندې کړي.

د اسلام د ظهور پر مهال د افغانستان وضع

په دې لوست کې به له اسلام څخه د مخه د افغانستان له سیاسي، ټولنیزې او کلتوري وضعې سره پېژندګلوي پیداکوئ



د بلخ د نهه ګنبدي جومات انځور چې په افغانستان کې لومړی جومات بلل کېږي

د شپږمې میلادي پېړۍ په وروستیو او د اوومې میلادي پېړۍ په لومړیو کې افغانستان د ځایي امیرانو او د کوشاني او یفتلي ځینو پاتې واکمنو له خوا اداره کېده. د دې لپاره چې د اسلام د ظهور پر مهال مو د افغانستان د وضعې او حالت ټولیز انځور اخیستی وي، باید خپل دغه بحث په لنډ ډول په دوو عنوانو کې تر مطالعې او څېړنې لاندې ونیسو.

الف- سیاسي وضعه

افغانستان له سیاسي پلوه د اسلام د سپېڅلي دین د خرګندېدو پر مهال ګډوډ حالت درلود. له یوې خوا په ختیځ کې د ګوپتا او په لویدیځ کې د ساسانیانو دوو ځواکمنو امپراتوریو شتون او له بلې خوا د مرکزي غښتلې اداري نشتوالي د سیمه ییزو حکومتونو جوړېدو ته زمینه چمتو کړه.

د چین وتلي سیلاني هیونتسنګ چې په اوومې میلادي پېړۍ کې یې افغانستان ته سفر کړی و او د افغانستان د وضعې او حالاتو په اړه یې خورا زیات مطالب کښلي د هغه مهال د سیاسي وضعې په اړه لیکي: ((دغه هېواد په بېلابېلو اداري واحدونو وېشل شوی او هره جغرافیایي حوزه یې د یوه ځانګړي پاچا له خوا اداره کېږي.))

زابلي رتبېل شاهان له مشهورو کورنیو څخه و چې له کابل شاهانو سره یې ښې اړیکې درلودې او په غزني او زابل یې واکمني کوله. همدارنګه نورو کورنیو لکه د بامیان د شیرانو او په کابل کې کابل شاهانو واکمني درلوده. همداسې ډېرو سېمه ییزو حکومتونو د افغانستان په ګوټ ګوټ کې حاکمیت درلود. پدې توګه قوي مرکزي حکومت شتون نه درلود.

ب- مذهبي او ټولنيزه وضعه

د دغه تاټوبي وګړو په ديني لحاظ په جلا جلا دينونو عقيدې درلودې. زردشتي کيش له بلخه او بودايي آيين چې له هنده يې سرچينې اخيستې وې، په افغانستان کې خپل لارويان درلودل. پر دې سربېره ځينو نورو دينونو هم د مسلمانو اعرابو مبلغينو د راتګ تر مهاله په دې هېواد کې شتون درلود. د ځايي حکومتونو خپلواک وضعيت ښايي په دغه خاوره کې د بېلابېلو دينونو عمده دليل وي.

د افغانستان د خلکو د هاغه وخت کلتور د ويدي او اوستايي تهذيب لويه برخه تشکيلوله. له همدې امله هيڅ عادي او وروسته پاتې کلتورو نشو کړای چې پر دغو خلکو لاس بری پيدا کړي. هغه يو شمېر فرهنګونه او تهذيبونه چې نوي به منځته راتلل او يا به پکې کوم نوښت رامنځته کېده، د نوموړې سېمې خلکو به له خپل اصلي فرهنګ سره ګډاوه او په يوه نوې بڼه به يې نړيوالو ته وړاندې کاوه. د دې مدعا د ثبوت لپاره د بېلګې په توګه د يونان- باختري او يونان- بودايي مدنيتونه يادولی شو چې د دې خاورې د وګړو نوښتونه بلل کېږي.

لنډه دا چې د اوومې ميلادي پېړۍ په وروستيو کې د ساسانيانو وروستی پاچا، دريم يزدګرد د احنف بن قيس د اسلامي سرلښکر له لاسه په ٦٥١ زېږديز کې ماته وخوړه او ورپسې يې اسلامي سرلښکر د افغانستان په لوري راغی. د هجري قمري په ٢٢ کال د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه خلافت په مهال د اسلام لښکر افغانستان ته راورسيدو په بېلابېلو وختونو کې د مسلمانانو حملو دوام پيدا کړ او د دريم خليفه حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت پر مهال د عبدالله بن عامر تر مشرۍ لاندې اسلامي لښکرې د کابل تر پولو ورسېدې او په همدې ترتيب د ځايي حکومتونو د سقوط او پاشلتيا لپاره زمينه برابره شوه. د مسلمانانو سوبمنو او فاتحو عسکرو د اسلامي حکومت د ټينګښت او ثبات په موخه دوه پېړۍ پرله پسې جګړې ترسره کړې، تر دې چې د اسلامي خپلواکه دولتونو د راڅرګندېدو لپاره زمينه مساعده شوه.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې به د اسلام د ظهور پر مهال د افغانستان سياسي وضعيت بيان کړي او دويمه ډله دې به په همدغه مهال کې د افغانستان ديني او اجتماعي وضعې په اړه نورو ټولګيوالو ته معلومات ورکړي.

پوښتنې

۱- د اسلام د ظهور پر مهال د افغانستان سياسي وضعيت څرنګه و؟ شرح يې کړئ.

۲- د اسلام د ظهور پر مهال د افغانستان مذهبي او اجتماعي وضعه څرنګه وه؟ واضحه يې کړئ.

۳- د ساساني دورې وروستي ..... نومي پاچا د احنف بن قيس په وسيله په کال ..... زېږديز کې ماتې وخوړه.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

افغانستان ته د اسلام د سپيڅلي دين د راتګ د څرنګوالي په اړه يو مطلب جوړ او په راتلونکي درسي ساعت کې دې هغه په ټولګي کې وړاندې کړي.

دریم څپرکی
د نړۍ لرغوني تمدنونه

دا څپرکی لاندې لوستونه لري:

- د تمدن د منځته راتلو څرنګوالی او د هغه ځانګړتیاوې
- د بین النهرین تمدن
- د بین النهرین تمدن او کلتور
- د مصر تمدن
- د مصر تمدن او کلتور
- د فارس تمدن
- د هند تمدن
- د چین تمدن
- د یونان تمدن
- د روم تمدن
- د امریکا تمدنونه

د څېړکي موخې

هيله کېږي چې د دې څېړکي په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:

- د بين النهرين، مصر، فارس، هند، چين، يونان، روم او امريکا له تمدنونو سره به آشنا شي.
- د ياد شوو تمدنونو علمي او کلتوري لاسته راوړنې به بيان کړای شي.
- له تاريخي نقشو څخه د ګټې اخيستنې وړتيا به پيدا کړي.
- د نړۍ د لرغونو تمدنونو په ارزښت به پوه شي.
- د نړۍ د لرغونو تمدنونو او د هغو له لاسته راوړنو سره به ليوالتيا پيدا کړي.

د تمدن د رامنځته کېدو څرنګوالی او ځانګړنې

په دې لوست کې به د تمدن د رامنځته کېدو د څرنګوالي، د پوهانو د نظریاتو او د مدنیتونو د ځانګړتیاوو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

تمدن عربي کلمه ده چې د ښاري ژوند معنا لري. د تمدن د رامنځته کېدو د څرنګوالي په اړه د مؤرخینو او ټولنپوهانو له لوري بېلابېل نظریات وړاندې شوي دي. د اسلامي نړۍ نامتو مؤرخ ابن خلدون په دې باور دی چې تمدن د بدوي کلتورونو پر بنسټ رامنځ ته کېږي او بېرته د همدې بدوي کلتورونو تر بریدونو لاندې له منځه ځي او دا لړۍ په دایروي شکل پایښت مومي. انګلیسي مؤرخ ارنولد تاینبي د ننګونو (چلنجونو) او غبرګون نظریه د تمدن د رامنځته کېدو لامل ګڼي. د تاینبي په باور یو په بل پسې ننګونو او ستونزو انسانان هڅو ته اړ کړي او دا هڅې په مدنیت بدلې شوې دي.

د تمدن د پایښت په اړه یوشمېر مؤرخین په دې باور دي چې هغه یوه واحده منشا لري او له یوې لرغونې حوزې څخه پیل شوی دی.

ګوردن چایلد یو د هغو مؤرخینو له ډلې څخه دی چې ټول لرغوني مدنیتونه له یوه ټاټوبي څخه را وتلي ګڼي. نوموړي د مصر، بین النهرین او سند تمدنونه وڅېړل او د دې تمدنونو ترمنځ ورته ټکي یې رابرسېره کړل. په پایله کې یې د ټولو تمدنونو منشا له مصر څخه راپیل شوې وبلله. د مؤرخینو دویمه ډله په دې باور ده چې د تمدنونو منشا یوه نه ده او د نړۍ تمدنونو له یوه تمدن څخه پراختیا نه ده موندلې، بلکې د هرې سېمې د چاپېریال او د هغه د امکاناتو په محدوده کې ځانګړی تمدن منځته راغلی او وده یې کړې ده.

د لومړنیو تمدنونو ځانګړنې

۱- ښاري اوښتون (انقلاب): له میلاده کابو ۳۰۰۰ کاله وړاندې انسانان د ښارونو په جوړولو بریالي شول. له مالداری څخه د زراعت جلاوالی په خپل وارسره د ښارونو د رامنځ ته کېدو زمینه برابره کړه. ښارونه د دیني، فرهنګي، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي بدلونونو مرکزونه شول. د بشریت په تاریخ کې دا پرمختګ د ښاري انقلاب په نامه بلل شوی دی.

۲-سياسي او نظامي جوړښتونه: د ښاري ژوند له پيل سره سم حکومتي اداري رامنځته شوې چې ټولنې ته وده ورکړي او د هغوی غوښتنو ته ځواب ووايي. د سياسي قدرت د ساتلو او د نورو سيمو د نيولو په موخه نظامي ځواکونه هم رامنځته شول.

۳- د اقتصادي ځواک پر بنسټ نوی ټولنيز جوړښت: پاچاهان، لوړ پوړي روحانيون، سياسي مشران او پوځيان د واک او قدرت په سر کې پاتې او د ټولنې د لوړې طبقې وګړي شول. کروندګرو او صنعتکارانو په دويم پوړکې او غلامانو د ټولنې په ټيټ پوړ کې ځای ومونډ.

۴- ديني جوړښتونه: په لومړيو مدنيتونو کې ديني تشکيلاتو ځانګړی ارزښت درلود. د توحيد له لارې څخه د پخوانيو ټولنو د يو شمېر خلکو په اوښتو او د خلکو د باور او تلقين لپاره د ديني جوړښتونو له لارې د شرک او خرافاتو بهير پيل شو. د ټولنې د بريالیتوب لپاره يې د ارباب الانواعو کاذب رول او اهميت ته غاړه کېښوده. په همدې ډول يې د لاسته راغلي مدنيت او سياسي جوړښت پراختيا ته هڅه وکړه.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د تمدن د رامنځته کېدو د څرنګوالي په اړه او دويمه ډله دې د تمدن د ځانګړنو په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د تمدن د رامنځته کېدو په اړه د ارنولد تاينې نظر څه و؟

۲- د تمدنونو د منشا په اړه د پوهانو نظريات څرګند کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د تمدن د ښلګو په اړه خپل معلومات راټول او ټولګيوالو ته دې وړاندې کړي.

د بین النهرین تمدن

په دې لوست کې به د بین النهرین د تمدن له لرغونتوب، لرغونو سیمو او سیاسي وضعې سره آشنا شئ.

هغه سیمه، چې د دوو سیندونو (دجلې او فرات) تر منځ پرته ده، د بین النهرین په نامه یادېږي. په دغه سیمه کې د نړۍ تر ټولو لرغونی تمدن رامنځته شوی چې مؤرخین یې د رامنځته کېدو لامل د دجلې او فرات سېرازه ځنډې ګڼي. د لرغونپوهانو په اند د نوح علیه السلام توپان په همدې سیمه کې پېښ شوی دی. د بین النهرین تر ټولو لرغونی ځای د تل حسونا په نامه یادېږي، چې په پنځه زره مخزېږد کې یې یو لوی کلی درلود چې وګړي یې په کرنه بوخت وو،خو د وګړو په ډېرېدو سره د ۵۰۰۰ - ٤۰۰۰ مخزېږد د مخه کلونو تر منځ بین النهرین ته ولېږدېدل او هلته یې د یو تمدن بنسټ کېښود چې د سومریانو د تمدن په نامه یادېږي.

د سومریانو په استوګنځي (سومر) کې ګڼ شمېر سېارونه رامنځته شول چې اور، اوروک، کیش، لاګاشس، لارسا او وینپور یې د یادونې وړ دي. دغه سېارونه هر یو په خپلواکه توګه اداره کېدل. له همدې امله سېاري دولتونه یا سېاري هېوادونه بلل کېدل. د دغو سېارونو په منځ کې عبادت ځایونو شتون درلود چې د سېار د ساتنې د خدای مجسمې پکې ساتل شوې وې.

د بین النهرین سیاسي وضع

د سومرسېاري دولتونه د کاهنانو له لوري، چې مشران یې انسي بلل کېدل، په خپلواکه توګه اداره کېدل او مرکزي واکمني یې نه درلوده. د سومر له پخوانیو واکمنانو څخه یو هم ایتن و چې پر ټولو سومري دولتونو یې ولکه درلوده.

له ۲٤۰۰ کاله د میلاد څخه وراندې اکدي اقوامو سومري واکمن (ګیل ګمیش)له منځه یووړ او واک یې تر لاسه کړ. د دغې لړۍ لومړنی واکمن سارګون و چې د فارس له خلیج څخه د بین النهرین تر شمال پورې یې خپل قلمرو ته پراختیا ورکړه. له همدې امله د بین النهرین په سیاسي تاریخ کې ډېر شهرت لري او د بین النهرین لومړی ستراتیژیک ګټل کېږي. دغه لړۍ له دوو پېړیو واکمنۍ څخه وروسته

د شمال ختیځ د یوه قوم له لورې چې ګوتي نومېده له منځه ولاړه.

ګوتیانو یوه پېړۍ واکمني وکړه او په پای کې د سومریانو له لوري له منځه ولاړل. څه مهال وروسته سومر او اکدي سره یو موټی او د اور واکمني یې رامنځته کړه.دغه مهال اعلامیانو چې د فارس په سویل او لوېدیځ یې واکمني درلوده او تازه یې د اور واکمنۍ ته غاړه ایښې وه، یو ځل بیا خپلواکي تر لاسه کړه. د سومریانو په وړاندې یې جګړې پیل کړې او په ۲۰۰۷ کال کې د هغوی سیاسي ځواک ته د پای ټکی کېښود.

د اور د واکمنۍ له منځه تلو وروسته په سویلي بین النهرین کې جګړې پیل شوې. په پایله کې د بابل لړۍ، چې په ۱۹ مخزېږده پېړۍ کې یې بنسټ ایښودل شوی و، د دغه هېواد ډېری برخې سره یو موټی کړې او د بابلیانو په نامه یې سترواکي (امپراتوري) رامنځته کړه.



د حمورابي د یوې مجسمې څو انځورونه

د بابلیانو د لرغونې سترواکۍ پېر، چې درې پېړۍ یې دوام وکړ، د نړۍ د تاریخ د پام وړ څېرکی ګڼل کېږي. د دغې لړۍ نومیالی واکمن حمورابي و چې د بین النهرین یووالی یې ټینګ کړ، خپل قلمرو ته یې پراختیا ورکړه او د سترواکۍ بنسټ یې کېښود او پر دې سربېره یې سوداګرۍ او کرنې ته ډېره پراختیا ورکړه. د وګړو لپاره یې یو قانون جوړ کړ چې د حمورابي د قانون په نامه یادېږي. د حمورابي پلازمېنه د بابل ښار و چې د لرغونې نړۍ له ستر او ودانو ښارونو څخه شمېرل کېږي.

د حمورابي له مړينې سره په بين النهرين کې بلواوې پيل شوې. په پايله کې يې بابليان له منځه ولاړل او اشوريان واک ته ورسېدل. اشوريان يو جنګي قوم و او د اشور په ښار کې يې واکمني درلوده.

د دغې لړۍ لومړی واکمن لومړی سارګون و چې له ميلاده ۱۹۰۰کاله وړاندې يې د اور ښار تر لاسه کړ. په نهمه مخزېږده پېړۍ کې اشوريانو ډېرې بريالۍ تر لاسه کړې او خپل قلمرو ته يې د مديترانې تر

د حمورابي د قانون يوه برخه

که څوک يو تن په قتل تورن کړي، خو په اثبات يې ونه رسوي، تور لګوونکی باید په قتل ورسېږي.

که چا تښتېدلي غلام ته پناه ورکړه، باید ووژل شي.

که چا د يوه بل چا غلام وواژه، په بدل کې يې باید غلام ورکړي.

که يوآزاد تن يو بل آزاد تن ووهي، په بدل کې باید نغدي جريمه ورکړي او که چېرې يې بابلي ووا‌هه باید شپېته درې ووهل شي.

مورګو (سواه لو) پورې پراختيا ورکړه. څه مهال وروسته يې مصر هم تر لاسه کړ. د اشوريانو وروستی واکمن اشور بنپال و چې ډېرې سېمې يې تر خپلې ولکې لاندې کړې او د اعلاميانو سياسي ځواک ته يې د پای ټکی کېښود. د دغې لړۍ پلازمېنه د نينوا ښار و چې په يادې اداره کې يې ډېره پراختيا موندلې وه.

وروستی قوم، چې له يوې پېړۍ زيات يې په بين النهرين واکمني وکړه، کلدانيان وو. کلدانيان د نويو بابليانو په نامه هم يادېږي، ځکه خپله پلازمېنه يې له نينوا څخه د بابل ښار ته ولېږدوله او هڅه يې وکړه چې د بابليانو تمدن راژوندی کړي او د حمورابي قانون پلی کړي، خو بريالي نه شول. په ۵۳۹ مخزېږد

کې هخامنشیانو د کلدانیانو وروستی واکمن، بخت نصر له منځه یووړ او د بابل ښار یې ونیو. په دې ډول بین النهرین د هخامنشیانو په قلمرو کې شامل شو. له هخامنشیانو وروسته ساسانیانو په بین النهرین ولکه ومونده او په اوومه زېږدیزه پېړۍ کې نو موږې سېمه د مسلمانانو له لوري ونیول شوه.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د سومریانو، دویمه ډله دې د اکدیانو او دریمه ډله دې د بابلیانو په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د بین النهرین لومړنی تمدن په څه نامه یادېږي او د رامنځته کېدو لامل یې څه و؟

۲-د سومر د ښاري دولتونو په اړه څه پوهېږئ واضیح یې کړئ.

۳-د اور د واکمنۍ په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ.

٤-حمورابي کوم کارونه ترسره کړل واضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د بین النهرین د سیاسي وضعې په اړه زیات معلومات راټول او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

د بين النهرين تمدن او فرهنگ

په دې لوست کې به د بين النهرين د خلکو له ديني عقايدو، ټولنيزې او اقتصادي وضعې او علمي لاسته راوړنوسره آشنايي پيداکړئ.

دين: د بين النهرين اوسېدونکو په ډېرو خدايانو، لکه د آسمان، سپوږمۍ، ستورو، کرنې او داسې نورو باور درلود. هغوی د ځينو خدايانو مجسمې جوړې کړې وې او په عبادت يې بوخت وو. د ښارونو په مرکزونو کې د غونډيو په سر څو پوړيزه عبادت ځايونو شتون درلود چې په هر عبادت ځای کې د ښار ساتنې د خدای مجسمې ايښودل شوې وې.

د بين النهرين اوسېدونکو د خپلو خدايانو د خوښۍ په موخه بېلابېل مراسم ترسره کول. قربانۍ يې کولې او په ګډه يې مذهبي سرودونه ويل. هغوی له مړينې وروسته په ژوند باور درلود چې له همدې امله يې له مړو سره په قبرونو کې وسايل ايښودل.

د تاريخي روايتونو او ديني نصوصو له مخې الله تعالی، حضرت ابراهيم (ع) ولېږه چې خلک د باطلو خدايانو له عبادت څخه منع کړي او د واحد خدای عبادت ته يې راوبولي. د حضرت ابراهيم(ع) توحيدي دعوت د دغه مهال د پاچا (نمرود) له مقاومت سره مخامخ شو، خو ډېر ژر د بين النهرين له پولو تير او فلسطين او جزيرة العرب ته ورسيد.

کرنه: د دجلې او فرات د اوبو سترو سرچينو شتون د بين النهرين د کرنې د پراختيا او ودې بنسټيز لامل و چې له امله يې د اوبه خورا منظم سيستم رامنځته شو او د ټولنيز ژوند د نظام لپاره لاره هواره شوه. غنم او اوربشې د بين النهرين مهم کرنيز پيداوار وو.

ليک: له بين النهرين څخه ډېرې خټينې لوحې ترلاسه شوي چې پر مخ يې په بېلابېلو بڼو ليکنې خرګندېږي. د مؤرخينو خبرنو په ډاګه کړې، دغه لوحې چې لرغونتوب يې ۵۰۰۰ مخزېږد ته رسېږي، په واقعيت کې د هغه مهال کتابونه دي. له همدې امله ويلای شو چې د نړۍ تر ټولو لرغونی کتابتون په بين النهرين کې رامنځته شوی دی. دغه لوحې د ښوونې او روزنې، د خدايانو د عبادت، د حقوقي مسايلو، جګړو، راکړې ورکړې او داسې نورو په اړه مطالب لري چې په ميخي ليک ليکل شوي. په دې توګه ويلای شو چې په بين النهرين کې لومړنی رامنځته شوی ليک ميخي دی.

علوم: د نجوم پوهې په بين النهرين کې د پام وړ پرمختګ کړی و چې لامل يې د ستورو عبادت و هغوی هغه ستوري چې اوس عطارد، زهره، مريخ، مشتري او زحل نومېږي، پيژندل. د دجلې او فرات د سيندونو څېړو د بين النهرين وګړي هڅول چې د اوبه خور سيستم د تنظيم او د خپلو ځمکو د پولو ټاکلو په موخه ډېر فکر وکړي. په دې ډول لومړني هندسي او رياضيکي فعاليتونه منځته راغلل چې ورپسې د جمعې، منفي، ضرب او تقسيم عمليې هم رامنځته شوې. د بين النهرين وګړو کال په دولسو سپوږمېزو مياشتو او هره مياشت په څلورو برخو وېشلې وه چې په دې ډول اونۍ رامنځته شوه.

ډېرپوه شئ: بابل د لرغونې نړۍ ستر او پرتمين ښار

بابل د بين النهرين له لرغونو ښارونو څخه دی. د مؤرخينو په آند دغه ښار له ٤٠٠٠ مخزېږد راهيسې شتون درلود او د نړۍ له لومړنيو ښارونو څخه شمېرل کېده. د بابل ښار د لرغونې بابلي واکمنۍ په ځانګړې توګه د حمورابي د واکمنۍ پر مهال ډېره پراختيا وموندله. په ۵۳۹ مخزېږد کې د بابا ښار د هخامنشي واکمن کوروش په ولکه کې راغی د بابل ښار د فرات د سيند په غاړه پروت دی. د دغه پراخه ښار مساحت ۵۲۰ کيلومتر مربع اټکل شوی دی. د ښار د شا و خوا لوړو او کلکو استحکاماتو شتون درلود. دغو استحکاماتو کابو ۲۵۰ برجونه او ۱۰۰ دروازې درلودې، چې په خواکې يې له اوبو ډکې ژورې کندې موجودې وې. د ښار دېوالونه يې ۹۰ کيلومتره اوږده وو. د فرات سيند د ښار له منځه تېرېده چې دواړو خواو يې د ښکلو پلونو په واسطه له يوبل سره لاړ موندله.

د ښار سترې ودانۍ له ډبرو جوړې وې. د دغو ډبرو مخ په سفالي رنګ پوښل شوی و. د ښار له سترو ودانيو څخه يوه هم هغه برج ډوله اووه پوړيزه ودانۍ وه چې کابو ۲۰۰ متره لوړوالی يې درلود او د نړۍ تر ټولو لوړه ودانۍ ګڼل کېده. د دغې ودانۍ باندينی لوری د ښکلو انځوريزو کاشيو په واسطه پوښل شوی و.

بين النهرين ته د يونانيانو له راتګ وروسته بابل د سکندر د پام وړ وګرځېد او د هغه استوګنځای شو. د سکندر د ځای ناستو د شخړو په پايله کې دغه ښار ډېر زيانمن شو او له هغه وروسته د سقوط په لور روان شو. د روايتو له مخې حضرت ابراهيم (ع) په بابل کې بتان مات کړل او د بابل د حاکم (نمرود) په امر په اور کې واچول شو، خو الله تعالی وژغوره. د بابل د ښار کنډوالې د بغداد د سويل په ۸۵ کيلومترۍ کې د کوفې ښار ته نژدې شتون لري.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په درې ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د بين النهرين د وګړو د مذهبي عقيدو، دويمه ډله دې په بين النهرين کې د علومو د پرمختګ او دريمه ډله دې د بابل د ښار په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د بين النهرين د عبادت ځايونو په اړه څه پوهېږئ؟ توضيح يې کړئ.
۲- د علومو په برخه کې بين النهرين کومې لاسته راوړنې لري؟
۳- د بابل د ښار په اړه څه پوهېږئ؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د بابل د حاکم (نمرود) په اړه معلومات راټول او نورو ټولګيوالو ته دې وړاندې کړي.

د مصر تمدن

په دې لوست کې به په مصرکې د تمدن د رامنځته کېدو د لاملونو، د هغې د بشپړتیايي پراوونو او همدارنګه د لرغوني مصر له سياسي وضعې سره آشنايي پيداکړئ.

د مصر هېواد په افريقاکي پروت دی. د مؤرخينو په آند په مصرکې د بشري مدنيت د رامنځته کېدو رغنده لامل د نيل سيند و چې په خپلو ښيرازو غاړو مورګو کې يې کلي اوښارونه رامنځته شول. په لوړه کچه يې کلتور ته پراختياورکړه او د بشر د ډېرو فعاليتونو بنسټ يې کېښود.

په مصر کې له ۵۰۰۰ تر ۳۲۰۰ مخزېږد پورې پېر له تاريخ وړاندې دوره بلل کېږي. هغه مهال د نيل په وادۍ کې مرکزي واکمني نه وه، خوسره له دې هم ځينې ځايي واکمنۍ يوموټی شوې او دوه واکمنۍ چې يوه په سويل اوبله په شمال کې رامنځته کړه.

په دغه دوره کې هنر وده وکړه. د دودونو پر بنسټ قانون جوړشو اوهمدارنګه ليکنې او کلېزې رامنځته شوې چې ددغه پېرله علمي پرمختياووڅخه ګټل کېږي.

په ۳۲۰۰ مخزېږد کې د سويلي او شمالي واکمنيو د يوځای کېدو په ترڅ کې مرکزي واکمنۍ منځته راغله. د دغې واکمنۍ بنسټ ايښودونکی لومړی مينز (Menz) و چې د لومړۍ دورې بنسټ ايښودونکی هم و.

د لرغوني مصر د ودې پراوونه

مؤرخين د مصرلرغونی تاريخ د مينز له مهاله د هخامنشيانو تر ورتګ پورې په درې دورو وېشي.

۱- لرغوني واکمني

لرغوني واکمني واک ته د مينز له رسېدو سره پيلېږي. په دغه واکمنۍ کې شپږ کورنۍ يو بل پسې واک ته ورسېدې. په دغه دوره کې د واکمنۍ سيستم تيوکراسي (ديني) و. پاچا هم سياسي او هم ديني مشر و ځکه د هغه ځواک د خدای ځواک ګڼل کېده او په خلکو کې يې خورا درناوی کېده. له همدې

امله ورته د فرعون لقب ورکړ شوی و.

لرغونې واکمنۍ د پام وړ پوځي ځواک نه درلود او سیاست یې سوله ییز و. دغه دوره په ۲۳۰۰ مخزېږد کې پای ته ورسېده، ورسره په مصرکې نوی پېر پیل شو او دوه پېړۍ یې دوام وکړ چې د فیوډالي دورې په نامه یادېږي. په یاده دوره کې ګډوډي واکمنه وه. نجیبان د ډېرځواک خښتنان وو چې له امله یې د ټولنیزو پوړکو (طبقاتو) له لوري وخت په وخت پاڅونونه رامنځته کېدل.

۲- منځنۍ واکمني

په ۲۱۰۰ مخزېږد کې یوولسمه کورنۍ واک ته ورسېده چې په پایله کې یې ګډوډۍ پای ته ورسېدې او د مصر په تاریخ کې یوه نوې پاڼه پرانیستل شوه چې د منځنۍ واکمنۍ په نامه یادېږي.

دغه واکمنۍ د لرغونې واکمنۍ په پرتله کمزورې وه. فرعونیان یوبل پسې واک ته رسېدل، خو اصلي ځواک د کوچنیو واکمنانو په لاس کې و. دولسمې کورنۍ دغه حالت ته بدلون ورکړ. فرعونیان یې د پوره ځواک خښتن کړل. عدالت یې ټینګ او خلک یې د اصلیت او توکم له توپیر پرته په کارونو وګومارل. ویلای شو چې دولسمه کورنۍ د ولسواکۍ لومړنۍ بنسټ ایښودونکې وه. دغه واکمني د ټولنیز عدالت او علمي پرمختیاوو له مخې یوه زرینه دوره وه. له پای ته رسېدو سره یې مصر یوځل بیا د ګډوډیو او بهرنیو بریدونو دورې ته ورننوت چې له دوه پېړیوپې زیات دوام وکړ او په پایله کې یې ټولنیزې اوعلمي پرمختیاوې له منځه ولاړې. هکسوسیانو، چې په لوېدیځې آسیا واکمن شوي وو، مصر تر ولکې لاندې راوست. دغې ولکې پرمصریانو مهم اغېز وکړ. هغوی یې نه یوازې له جګړه ییزو اصولوسره بلدکړل، بلکې د بهرنیانو په وړاندې یې یو موټی کېدو ته هم وهڅول. مصري واکمنانو د هکسوسانو په وړاندې پاڅونونه پیل کړل او بهرني ځواکونه یې له خپلې سېمې څخه وایستل. د دغې بریا اتل د اتلسمې کورنۍ مؤسس لومړی اهموز و.

۳- د امپراتورۍ دوره



د فرعون انځور

دغه دوره د هکسوسانو له ایستلو او د لومړي اهموز له واک ته رسېدوسره پیلېږي اهموز د مخکنیو دورو په پرتله یو پیاوړی نظام رامنځته کړ. فلسطین یې ونیو او تر سوریې پورې ورسېد. د دغې دورې تر ټولو بریالي بریدونه د دریم توتمس پرمهال پېښ شول چې د دجلې او فرات ترمنځ سېمه یې د مصر په قلمرو کې ورګډه کړه.

د امپراتور له مړینې وروسته یوځل بیا ګډوډۍ رامنځته شوې، خو مصري فرعونیان یې په له منځه وړلو کې پاتې راغلل. له امله یې یو په بل پسې انقلابونه پیل شول او تر دولسمې مخزېږدې پېړۍ پورې یې نیول شوې سیمې له لاسه ووتې او واکمنۍ یې د ځوړتیا په لور روانه شوه.

په ۶۷۰ مخزېږدکې مصر د اسوریانو له لورې ونیول شو او تر ۶۶۲ مخزېږد پورې یې تر استعمار لاندې واوسېده. له دې وروسته مصر یو ځل بیا ځواک تر لاسه کړ او کلتور پراختیا وموندە، خو دغه حالت ډېر دوام ونه کړ. په ۵۲۵ مخزېږدکې مصر د فارس امپراتورۍ له لورې ونیول شو چې له دې وروسته تېرتمدن بیا راڅوندی نه شو.

په ټولیزه توګه په مصرکې شل کورنۍ واک ته ورسېدې او ګڼ شمېر فرعونیانو پکې واکمنې وکړه. له هغوی څخه یو هم دویم رامسس و چې د واکمنۍ پرمهال یې حضرت موسی علیه السلام راڅرګند شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د لرغونې واکمنۍ، دویمه ډله دې د منځنۍ واکمنۍ او دریمه ډله دې د امپراتورۍ دورې په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱-د نیل په وادي کې مرکزي واکمني څه مهال او د چا له لوري رامنځته شوه؟

۲-د لرغوني مصر د تاریخي دورو په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ.

۳-حضرت موسي (ع) د کوم فرعون په واکمني کې راخرګند شو؟ نوم یې واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د مصر د فرعونیانو په اړه معلومات راټول او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.


د مصر تمدن او فرهنگ

په دې لوست کې به د مصريانو د مذهبي عقايدو، ټولنيزې وضعې، اقتصادي سيستم، علمي لاسته راوړنو، هنري فعاليتونو او د لرغوني مصر له تاريخي آثارو سره آشنايي پيداکړئ.

دين: دلرغوني مصر د وګړو په ټولنيز ژوند کې مذهب ډېر رول درلود او د ژوند په هر اړخ يې اغېز کړی و. د لرغوني واکمني سيستم تيوکراسي (ديني) و. په منځنۍ واکمنۍ او آن د امپراتورۍ په دوره کې د هېواد چارې د مذهب له لارې اداره کېدې.

په لرغونې واکمنۍ کې بېلابېل دينونه سره يوځای او يو واحد دين منځته راغی. همدارنګه له بېلابېلو خدايانوڅخه دری آمون (د لمر رب النوع) چې د عدالت، رښتينولۍ او د کايناتو د اخلاقي چارو ساتندوی ګڼل کېده او اوسيروس (د نيل رب النوع) چې د نباتاتو خدای ګڼل کېده منځته راغلل. د منځنۍ واکمنۍ او د امپراتورۍ په پېرکې دين خپل وروستنی تکامل ترلاسه کړ.

د هکسوسانو د يرغل پرمهال دغه دين په خرافاتي دين تبديل شو. خلکو د پيسو په مقابل کې په پاپيروس ليکل شوی بښنليک اخيسته او د مړي ترڅنګ يې په قبر کې ايښوده. په دې ليک کې له ارباب الانواعوڅخه د نوموړي شخص د بښلو غوښتنه کېده. د غو ديني خرافاتو چې د روحانيونو له خوا پلي کېدل، پر چاپېريال ناوړه اغېز وکړ چې له امله يې په ۱۳۷۵ مخزېږدکې دځلورم امنوهوتپ


د مصر اهرامونه

په مشرۍ پاڅون رامنځته شو. زوړ مذهب له منځه ولاړ او پرځای یې نوی دین رامنځته شوچې په هغه کې د اتون د خدای (د لمر لرغونی نوم) عبادت کېده. امنوهوتپ خپل نوم په اخناتون تبدیل کړ. وروستیو فرعونانو له دغه مذهب سره لیوالتیا نه درلوده، په تیره توتن خامون چې دیني خرافات یې بیا دود کړل او د اتون دین یې له منځه یووړ.

د لرغوني مصر کلتوري میراثونه تر ډېره اهرامونه، مومیایي جسدونه، عبادتځایونه، مقبرې، مجسمې، انځورونه، ډبرلیکونه او مذهبي سرودونه دي چې ټول یې د مذهب په سیوري کې منځته راغلي دي.

مصریانو پر ډول ډول خدایانو عقیده درلوده. لمر، سپوږمۍ، نیل او ځینې حیوانات یې سپېڅلي بلل او د درناوي په موخه یې د هغوی انځورونه او مجسمې په عبادتځایونو کې ایښودې. دا هم باید په یاد و لرو چې ددغو ټولوخرافاتو او شرک ترڅنګ الله تعالی د توحید لارې ته د خلکو د رابللو په موخه پیغمران علیهم السلام راستولي دي. موسی علیه السلام او ورور یې، هارون علیه السلام په مصر کې په پیغمبرۍ مبعوث شول. موسی علیه السلام او پیروانو یې د الهی تعلیماتو په رڼا کی د ژوندانه او واحد خدایﷻ د عبادت بیرغ پورته کړ او د دغه مهال له فرعون سره یې نښته وکړه.

د شرک او خرافاتو او د فرعون د تېري او بې عدالتۍ په وړاندې د موسی علیه السلام پاڅون په پای کې د خلکو په یو خوځښت تبدیل شو چې په پایله کې یې فرعون ډوب شو او د توحید دعوت یوځل بیا لوړ پوړ ته ورسېده.

په پیل کې مصریانو خپل مړي په ټوټو پوښل او په قبر کې یې ایښودل، خو وروسته یې دغه لاره بدله کړه او د بدن د ساتنې په موخه یې هغوی مومیایي کول او د اړتیا وړ وسایل یې ورسره په قبر کې ایښودل.

ټولنیزحالت

مصري ټولنه په واقعیت کې له څلورو پوړیو څخه جوړه شوې وه. په هر پوړ کې یې افرادو او په سر کې یې فرعون ځای درلود. د پوړکو ترمنځ د ژوند توپیر ډېر نه و. ټول وګړي د قانون په وړاندې برابر وو. سره له دې چې اقتصادي توپیرونو شتون درلود، د شاهي کورنۍ له غړوپرته د هیڅ تن ټولنیز موقعیت څرګند نه و او ان نوکرانو او غلامانو کولای شول له یوه ټولګي څخه بل ته پورته شي. غلامان، چې په پیل کې په سختو کارونو ګومارل کېدل، وروسته په عسکري خدمت کې شامل شول او په ژوند کې یې بدلون راغی چې په پایله کې د غلامانو ټولګی ببخي له منځه ولاړ.

په مصري ټولنه کې ښځو لوړ مقام درلود، تر دې چې فرعوني تاج اوتخت ته ورسېږي. په کورنۍ کې د ننه ودونو ډېر دود درلود. د دغه دود له مخې فرعونیانو له خپلو نژدې خپلوانو او د کورنۍ له غړو سره واده کاوه.

د ښوونې او روزنې په ډګر کې هم مصر د پام وړ پر مختګ کړی و. د دولتي ښوونځيو ترڅنګ خصوصي ښوونځيو هم شتون درلود او د هر ټولګي افرادو پکې زده کړه کولای شوه.

اقتصادي سیستم

د مصر اقتصادي بنسټ په کرنې اومالدارۍ ولاړ و. کرنې ډېره پراختیا موندلې وه اوځمکو ښه حاصل ورکاوه. د هغه مهال د کلتور له مخې ټولې ځمکې د فرعون ملکیت وې چې د مالیې په مقابل کې یې پرخلکو وېشلې. له شلمې مخزېردې پېړۍ وروسته سوداګرۍ چټکه پراختیا وموندە او د اقتصادي بنسټ په پیاوړتیا کې یې ترټولو زیات اهمیت ترلاسه کړ.

مصریانو له بهرنیو هېوادونو سره سوداګریزو اړیکو ته پراختیا ورکړې وه چې ښه بېلګه یې په ۳۰۰۰ مخزېرد کې مصرته د افغانستان د لاجوردي ډبرو رسېدل و.

صنعت هم د مصرد اقتصاد په پیاوړتیا کې ډېر ارزښت درلود. ښېرۍ جوړونه، ښیښه جوړونه، کولالي، د ټوکرانو اوبدل او د ډبرې توږل هغه صنایع وې، چې ګڼ شمېر وګړي یې په کارونو بوخت کړي وو. د فلزي پیسو په جوړونه کې هم مصر نړیوال شهرت ترلاسه کړي و.

د امپراتوري تر دورې پورې ځمکې د خلکو ترمنځ وېشل شوې وې او د حکومت له عملي کنټرول څخه بهرګڼل کېدې، خو د دغې دورې زیات لګښت په کروندګرو د لورې مالیې لامل وګرځید چې په دې توګه فرعونیان د ځمکوخښتن او کروندګر یې نوکران شول. سربېره پر دې د زیاتو پیسو د لاسته راوړلو په موخه بهرنۍ سوداګري هم د دولت له لورې انحصار شوه.

د اخناتون له دورې پرته د امپراطورۍ په ټوله دوره کې روحانیون له مالیې معاف وو او د دولت په پانګه کې یې مهمه ونډه درلوده. سربېره پر دې د کرنیزې ځمکې یو پر اوومه برخه د روحانیونوحق و او همدارنګه د زرګونو څارویو او کابو سل بېړیوخښتنان هم وو.

ادبیات

مصریان لومړني خلک وو چې انځوریز لیک (هیروغلیف) یې رامنځته کړ. مصري کاهنانو دغه لیک د عبادتځایونو، ماڼیو او د فرعونیانو د مقبرو د اړونده مطالبو د لیکلو په موخه کاراوه او په ځانګړو

مدرسو کې يې زده کوونکو ته ورښوده. له هيروغليف پرته د ديموتيک په نامه هم يوليک دود و چې د منځني پوړ وګړو او سوداګرو ورځخه کار اخيسته.

کاهنان په مدرسوکې د اشرافو د زامنو په روزنه او د بېلابېلو علومو په ښوونه بوخت وو. په دغو مدرسو کې د پاپيروس له کاغذ څخه ګټه اخيستل کېده.

دکليزو رامنځته کېدل هم د يادونې وړدي چې په حقيقت کې د هغه مهال د تاريخ کتابونه وو. په دغو کليزو کې مصري منشيانود فرعونيانو برياوې څرګندولې او د هغوی اړوند مسايل يې ليکل.

هنر او معماري

د مصر تمدن ته تړپره هغوکلتوري ميراثونو شهرت ورکړی چې د يادګار په ډول پاتې دي. دغه آثار له اهرامونو، عبادتځايونو، مانيو، مجسمو او هغو انځورونو څخه عبارت دي دا آثار د وخت د واکمنيو د لويې او پوهې څرګندونه کوي، چې د مصر درې ګوني اهرامونه يې ښې بېلګې دي. د اهرامونوسربيره ګڼ عبادتځايونه هم ودان شوي وو چې په چاپېر کې يې د کاهنانو، غلامانو او کار کوونکو ځانګړو ځايونو شتون درلود. په دغو عبادتځايونو کې د سپيڅلو څارويو مجسمې ايښودل شوې وې او ستنې يې له دينې ليکنو او انځورونو ډکې وې.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دريو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د مصريانو د مذهب، دويمه ډله دې د اقتصادي سيستم او دريمه ډله دې د هنر او معماری په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د مصريانو د ديني عقيدو په اړه څه پوهېږئ؟ توضيح يې کړئ.

۲- د مصريانو د ټولنيز حالت په اړه څه پوهېږئ؟ توضيح يې کړئ.

۳- د مصريانو د ادبياتو په اړه څه پوهېږئ؟ توضيح يې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د مصريانو د لاسته راوړنو په اړه خپل معلومات وليکي او ټولګيوالو ته دې واوروي.

د فارس تمدن

په دې لوست کې به د آريانا تمدن د فارس له برخې سره آشنا شئ او هم به د فارس د تمدن سياسي، ټولنيزې، اقتصادي او کلتوري وضعې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

هغه مهال چې آريايان په بلخ کې مېشت شول، د وګړو د ډېرښت له امله د اريانا دننه خټيځ او لويديځ ته وکوچېدل. هغه شمېر، چې لويديځ ته کډه شول د فارس په شمال د (اوسني ايران) کې مېشت شول د ((ماد)) او ((فارس)) په نومونو د يوه مدنيت بنسټ يې کېښود، چې د فارس د تمدن په نوم شهرت لري.

د فارس پراخې دښتې، سيندونه، شتمنۍ او طبيعي زيرمې د دې لامل شوې چې په دغه هېواد کې کرنه، مالداري او صنعت د پام وړ پراختيا وکړي او بشري تمدنونه رامنځته شي.

سيالک، ګوران، مارلک، جيروفت او شهر سوخته د فارس نامتو لرغونې سيمې دي چې وګړو يې د ګاونډيو سيمو له وګړو، لکه د مندېګک، موهنجودارو او هرپې له اوسېدونکو سره اړيکې درلودې.

له ميلاد څخه ۳۰۰۰ کاله وړاندې ايلامي وګړو په فارس کې د ايلام تمدن رامنځته کړ. د دغه تمدن په اړه ډېر تاريخي معلومات د شوش له ښار څخه، چې د ايلامي واکمنۍ سياسي مرکز و، ترلاسه شوي دي. ايلام د ادب، هنر او صنعت په برخه کې د پام وړ پراختيا وموندله. د بابليانو او اشوريانو له واک ته رسېدو سره ايلاميان کمزوري شول او په پايله کې په ٦٤٥ زېږديز څخه وړاندې کې د اشور بناپال له لوري فتح شو. اشوري ليکنې د هغو دوو قبايلو يادونه کوي چې د فارس په شمال لويديځ کې مېشت وو او د ماد او پارسيانو څخه عبارت دي.

د هيرودت په وينا د اتمې مخزېږدې پېړۍ په وروستيو کې د دياکو په نامه يوه شخص د ماد قبايل تر خپلې ولکې لاندې راوستل او د ماد د واکمنۍ بنسټ يې کېښود.

په دغه لړۍ کې دري نامتو پاچاهان واک ته ورسېدل چې یو له هغوی څخه هم استیاګ و چې په واکمنۍ کې یې د ماد ځواک خپل لوړې پوړۍ ته ورسېد او د ماد قلمرو ته یې ډېره پراختیا ورکړه.

د ماد د قلمرو پراختیا د فارسي قبایلو له لوري ودریده. پارسیان د کوروش په مشرۍ یو موټی شول او په ۵۵۳ مخزېږد کې یې د ماد واکمني له منځه یووړه. په فارس کې د ماد له راپرځېدو سره هخامنشي واکمني منځته راغله. د دغې واکمنۍ نامتو واکمن لوی کوروش و چې د بابل ښار یې تر ولکې لاندې راوست او ځان یې د بابل پاچا وبالله.

له کوروش وروسته د هغه زوی لومړی کمبوجیه واک ته ورسېد. کمبوجیه په مصر یرغل وکړ او هغه یې په خپله ولکه کې راوست. د هخامنشیانو اته واکمنان یو په بل پسې واک ته ورسېدل چې په پای کې په ۳۳۵ مخزېږد کې د هخامنشیانو وروستي واکمن، دریم داریوش د مقدوني سکندر د یرغلونو په پایله کې ماته وخوړه او ورسره دغه لړۍ پای ته ورسېده.

تمدن او فرهنګ

دین: د شرک او خرافاتو د خپرېدو په پایله کې په پخوانۍ فارس کې د ځینو ځارویو، ځمکې، آسمان، اوبو او اور عبادت تر ډېره دود و. د اور عبادت د ستورو عبادت په تېره د لمر عبادت ځانګړی رول درلود. د پخوانیو فارسیانو په مذهب کې عبادتځایونو شتون نه درلود. دیني مراسم، دعاګانې او قربانۍ په مناسبو ځایونو کې ترسره کېدې. خو وروسته عبادتځایونه ودان شول چې د خدایانو مجسمې پکې ایښودل کېدې او خلکو به یې عبادت کاوه.

ایلامیانو له مړینې وروسته پر ژوند باور درلود او له خپلو مړو سره یې خاورینې کوزې خښولې او همدارنګه یې له کانالونو څخه قبرونو ته اوبه ورتویولې چې مړي تږي نه شي.

د زردشت په راڅرګندیدو سره زردشتي مذهب د فارس دولتي مذهب شو او ډېر ارزښت یې ترلاسه کړ.

هنر، صنعت او معماري

په لرغوني فارس کې ایلامیانو د خټینو او فلزي لوښو په جوړولو، مجسمه جوړولو او د ډبرو پر مخ د انځورونو په کښلو کې ډېر مهارت درلود. د ماد وګړو خپل کورونه په لوړو ځایونو کې د ټینګو کلا ګانو په منځ کې جوړول. د دغو کلا ګانو شا او خوا تاو راتاو دیوالونو او د څار برجونو شتون درلود چې د جګړې د سنګرونو په څېر ورځخه ګټه اخیستل کېده.

ماد د خپلو شاهانو لپاره په غرونو کې قبرونه کیندل. د لرغونپوهانو په واسطه موندل شوي خاورین لوښي او فلزي آثار د هنر او معماری په برخه کې د ماد د هنري مهارتونو څرګندونه کوي.

هخامنشي واکمنانو د خپل ځواک د ښوولو په موخه ګڼ شمېر مانۍ ودانۍ کړې وې، چې له هغو څخه یوه هم د جمشید تخت دی.

له هخامنشي لړۍ څخه د بیستون ډبرلیک ډول ډول فلزي، طلایي، نقره یي او د زیړو آثار لکه: سکې، وسلې، جامونه، لوښي او لوحې پاتې دي چې د هغه مهال د صنعت د پرمختګ څرګندونه کوي.



د جمشید د تخت یو انځور

د جمشید تخت: د هغو ښکلو مانۍو مجموعه وه چې د هخامنشیانو په واسطه جوړه شوې وه. داریوش دغه ځای د خپلې مانۍ لپاره غوره کړ او د جوړیدو په موخه یې له ټول هېواد څخه ګڼ شمېر هنرمندان په کار وګمارل. له داریوش وروسته ټولو هخامنشي واکمنانو په دغه

ځای کې مانې جوړې کړې.

په دغه سېمه کې هر کال د نوروز د جشن مراسم ترسره کېدل چې له بېلابېلو ولایتونو څخه پکې له ښکلو سوغاتونو سره استازیو ګډون کاوه. د یوناني سکندر له راتګ سره د دغه تخت ډېر ارزښتناکه وسایل له منځه ولاړل او ودانۍ یې زیانمنې شوې.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د ماد او فارسیانو د واکمنۍ دویمه ډله دې د پښوانې فارس د مذهب او دریمه ډله دې د هنر او معمارۍ په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپل معلومات نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د فارس لرغونې سېمې کومې دي؟

۲- د هخامنشي واکمنۍ بنسټ ایښودونکی څوک و او څه مهال رامنځته شو؟

۳- د ماد د واکمنۍ د هنر او معمارۍ په اړه څه پوهېږئ واضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت


زده کوونکي دې د جمشید د تخت په اړه معلومات ولیکي او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

د هند تمدن

په دې لوست کې به د هند تمدن د رامنځته کېدو د څرنګوالي، سیاسي، ټولنیزې او کلتوري وضعې، علمي لاسته راوړنو او د لرغوني هند د هنر او معماری سره آشنایي پیداکړئ.

هند په آسیا کې د تمدن د پیدایښت له لرغونو مرکزونو څخه ګڼل کېږي. هند هغه پراخه او ښکلې سیمه ده چې په خپله غېږ کې یې ډېر مدنیتونه، علوم او مذهبونه روزلي دي.

په ۱۹۲٤ز کال کې لرغونپوهانو په هند کې د دوو لرغونو سیمو (هراپه او موهنجودارو) پاتې شونې ومونډل چې لرغونتوب یې ۳۰۰۰ مخزېږد ته رسېږي. هر په او موهنجودارو کراچۍ ته څېرمه ځای لري، د دراویدي اقوامو اړوند او د هند له لرغوني تمدن څخه ګڼل کېږي. د هرپه او موهنجودارو تمدن د سند په لویدیځ کې رامنځته شوی. له دغې سیمې څخه تر لاسه شوي آثار څرګندوي چې =د دغې



له موهنجودارو څخه د ودانیو پاتې شونې

سېمې وګړي په ۳۰۰۰ مخزېږدکې په کرنه، مالداري او د میوه لرونکو ونو په روزنه بوخت وو. هغوی له برونزو څخه د کار وسایل، د کور لوښي او وسلې جوړولې او په لاسي صنعت کې هم مخکښ وو. د هرپه او موهنجودارو پاتې شونې ښیي چې په دغه سېمه کې له پخو خښتو څخه جوړ ګڼ شمېر کورونو، دوکانونو او واټونو شتون درلود، چې عموماً کورونه دوه پوړیز او د پراخه کوڅو لرونکي وو. په دغو ښارونو کې د تالارونو، د اوبو ځاګانو، حمامونو، د کانالونو په واسطه د اوبه خور سیستم او د کانالیزاسیون سیستم شتون دا په ډاګه کوي چې دغه وګړي د یو پرمختللي تمدن لرونکي وو.

له مخزېږد څخه ۱۵۰۰ کاله وړاندې آریایان هند ته کډوال شول او د دراویدي اقوام یې چې د پرمختللي تمدن لرونکي وو، د ځان تابع کړل. آریایانو هند ته له راتګ وروسته د کاست (طبقاتي) سیستم رامنځته کړ. د دغه ویش پر بنسټ ځلور طبقې لکه: برهما (روحانیون) کشتاتریان (جګړه ماران) ویستا (سوداګر او کروندګر) او سودرا (کارګران) رامنځته شول.

آریایانو په هند کې واحده واکمني رامنځته نه کړه، بلکې هرې قبیلې د ځان لپاره یو کوچنی قلمرو غوره کړ او یکې میشت شول چې په پایله کې بهرنیانو ته په هند د یرغلونو زمینه برابره شوه.

هخامنشي واکمن داریوش د هند شمال فتح کړ، خو د سکندر په واسطه د هخامنشیانو له منځه تلو سره د هند شمال د یونانیانو لاس ته ورغی. د سکندر له مړینې سره سم یو هندي قوماندان چندرا ګوپتا د یونانیانو په وړاندې پاڅون وکړ او هغوی یې له هند څخه وایستل. هغه په لنډ وخت کې ځایي واکمنۍ سره یوموټي او یوه ځواکمنه واکمني یې رامنځته کړه چې د موریایانو واکمني بلل کېږي. د دغې واکمنۍ له مشهورو واکمنانو څخه یو هم اشوکا و چې په تاریخ کې ډېر شهرت لري. له موریایانو څخه وروسته په هند کې د ګوپتا واکمني منځته راغله چې څو پېړۍ یې دوام وکړ.

فرهنګ او تمدن

دين: دتاريخي حقايقو او سمو ديني عقايدو په نظرکې نيولو سره، توحيد او د يوه خداى عبادت د انسانانو په ديني تاريخ کې يو اصل دى او له خداى ﷻ څخه پرته د نورو شيانو عبادت ته مخه کول له سمې لارې څخه انحراف او بې لارې ده. د همدې انحراف پربنسټ د آريايانو له مهاجرت وړاندې په هند کې د حيواناتو او طبيعت لمانځنه کېده. لوى او غټ خدايان يې اګني (د اور خداى) او اندېرا (د باران خداى) وو. په لرغوني هند کې ډېر کيشونه رامنځته شول، چې له هغوى څخه يو هم برهمن و. د برهمن دين دولت ته د خدايي مقام ورکاوه او پاچا يې سپېځلى باله.

په شپږمه مخزېږده پېړۍ کې په هند کې د بودا دين منځته راغى چې د اشرافو له ملاتړ څخه برخمن شو او ډېره براختيا يې وموندە.

علم، هنر او معماري

د لرغوني هند وګړو په رياضي او طبابت کې ډېر پرمختګ کړى و. له ۱- ۹ پورې اعداد، اعشاري سيستم او داسې نور د هنديانو له لورې رامنځته شول. هنديانو د اړتيا له مخې د جشن او قربانۍ ورځې وټاکلې او له همدې امله يې نجوم ته هم ډېر پام اړولى و.

په لرغوني هند کې هنر او معمارۍ هم ډېره پراختيا موندلې وه چې بېلګې يې د هرپې او موهنجودارو په ټاټې شونو کې تر سترګو کېږي. د بودايي دين له پراختيا سره سم په ټول هېواد کې ګڼ شمېر عبادت ځايونه ودان شول. سربېره پردې د واکمنانو لپاره ښکلي او ستري مانۍ جوړې شوې، چې ټاټې شونې يې تر دې مهاله شتون لري او په لرغوني هند کې د هنر او معمارۍ د پرمختګ څرګندونه کوي.

د هندي هنرمندانو يو بل مهم کار د مجسمو جوړول وو. هغوی د بودا او هندي خدایانو لپاره له لرګیو او ډبرو څخه ګڼ شمېر مجسمې جوړې کړې وې چې د وګړو له لوري يې عبادت کېده.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې هند ته د آریایانو د ورتګ، دویمه ډله دې د لرغوني هند د دین او دریمه ډله دې د هنر او معمارۍ په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د هند د لرغونو سیمو په اړه څه پوهیږئ؟ واضیح يې کړئ.

۲- آریایان هند ته څه مهال ولېږدیدل او څه ډول طبقاتي سیستم يې رامنځته کړ؟

۳- په لرغوني هند کې د علم د پراختیا په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د هندیانو د کلتور په اړه معلومات راټول او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

په دې لوست کې به د لرغوني چین له سیاسي، ټولنیزې، کلتوري او اقتصادي وضعې او تاریخي اثارو سره آشنایي پیداکړئ.

د چین هېواد د آسیا په ختیځ کې پروت او د نړۍ له لرغونو تمدنونو یو څخه دی. د چین تمدن د هوانګهو د سیند په غاړه کې رامنځته شوی چې ښېرازه ځمکې یې درلودې او وګړي یې په کرنه بوخت وو.

په لرغوني چین کې لومړنۍ واکمني په ۱۵۰۰ مخزېږد کې رامنځته شوه چې د شانګ په نامه یادېږي. د خط او کلیزې رامنځته کېدل او د چیني لوښو جوړېدل د شانګ دورې له مهمو تمدني لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي.

دویمه واکمني چې په چین کې رامنځته شوه، د (چو) په نامه یادېږي، چې واکمنانو یې له ۱۰۲۸ – ۲۵۶ مخزېږد پورې واکمني وکړه. د چو د واکمنۍ په وروستیو کې په چین کې کورنۍ جګړې او اخ وډب رامنځته شوی چې په پایله کې یې د (چه این) په نامه قبیلو پر چین ولکه ومونده او د لرغوني چین د یوې مشهورې واکمنۍ بنسټ یې کېښود.

د چه این قبایلو واکمن شي هوانګ تي و چې د چین په تاریخ کې ډېر شهرت لري. شي هوانګ تي پیاوړی پوځي ځواک درلود او له همدې امله په دې بریالی شو چې وړې واکمنۍ له منځه یوسي. هغه د چین پر پراخه هېواد ولکه ومونده او خپل ځان یې لومړی سترواک وباله. په دغه واکمنۍ کې د چین د تمدن د ودې او نیکمرغۍ دوره پیل شوه. قوانین رامنځته شول، سړکونه جوړ شول او د بهرنیو بریدونو د مخنیوي په موخه د یوه دیوال جوړول پیل شول چې دا مهال د چین د ستر دیوال په نامه یادېږي.

د شي هوانګ تي له مړینې وروسته په چین کې ګډوډۍ رامنځته شوې چې په پایله کې یې د هان لړۍ واک ته ورسېده. د هان د واکمنۍ پر مهال بودایي مبلغانو چین ته سفرونه وکړل او په دغه هېواد کې یې بودایي دین ته پراختیا ورکړه.

فرهنګ او تمدن

دين: په لرغوني چين کې وګړو د آسمان، ځمکې او خپلو نيکونو عبادت کاوه. د پخواني چين دوه ستر کيشونه د تاو او کنفيسوس عقايد دي. د دغو دينونو له نظره انسان او طبيعت سره ډېر نژدې دي او يو پر بل اغېز کوي. د تاو دين د ساده ژوند ښېګڼې او پرخپلو غوښتنو سترګې پټول تبليغوي. کانفوسيوس له ټولنې سره د اړيکو پيدا کولو او د انسانانو ترمنځ د اړيکو په درلودلو باندې ټينګار کوي. دغه دين د پخوانيو دودونو، مشرانو، پلرونو، نيکونو او د کورنۍ يووالي په درناوي تاکيد کوي.

د هان په واکمنۍ کې د بودا دين دغه هېواد ته راغی او ګڼ شمېر پيروان يې وموندل چې د چينايانو په کلتوري ژوند يې ډېر اغېز وکړ.

ادبيات: د چينايانو ليکدود د هيروګليف په څېر يو لرغونی ليکدود دی. دغه ليکدود د چه اين په واکمنۍ کې معياري شو او په ټول چين کې دود شو چې تر دې مهاله کارول کېږي. دغه ليکدود په نورو هېوادونو کې هم خپور شو او د جاپانيانو، کوريايانو او ويتناميانو د ليکدود بنسټ يې کېښود.

په لرغونو پېړيو کې ليک د هډوکو او لرګيو پرمخ کښل کېده. په لومړۍ ميلادي پېړۍ کې په چين کې کاغذ رامنځته شو چې په ليکلو کې يې يو ستر انقلاب رامنځته کړ او ډېرو خلکو ته يې پوهه ورسوله.

د چين د ليکدود پرمختګ د شتمنو ادبياتو لپاره لاره هواره کړه. ګڼ شمېر نثرونه، د قصيدو کتابونه او تاريخي آثار وليکل شول. د شعر په برخه کې هم د پام وړ پراختيا رامنځته شوه.

علم، صنعت او هنر

چینایانو د نجوم، ریاضیاتو او جغرافیې په برخه کې ډېر پرمختګ کړی و. د چوپه واکمنۍ کې د بېلابېلو ایالتونو لپاره نقشې جوړې شوې او د هېواد د جغرافیې په اړه ډېر معلومات ترلاسه شول. چینایانو د زلزلې په اړه هم معلومات لرل او د زلزلې د معلومولو لپاره یې یوه آله هم رامنځته کړې وه. هغوی د اوسپنې په مقناطیسي ځانګړتیا پوهیدل، چې وروسته یې قطب نما رامنځته کړه. چینایانو د انسان د اناتومۍ په برخه کې هم ډېره پوهه درلوده. په یوشمېر ناروغیو او د هغوی د درملنې په اړه یې هم معلومات درلودل.

چینایان لومړني وګړي وو چې له ختیځنولوښو او فلزکارۍ سره یې ښه آشنایي درلوده. د چین ستر ښارونه له پوهانو او صنعتکارانو ډک وو. د کاغذ او چاپ فن، قطب نما او د باروتو جوړول د چینایانو ویاړونه دي. د چیني لوښو جوړونې او د ټوکر او بدلو صنعت ډېر پرمختګ کړی و.

په لرغوني چین کې هنر او معماري هم ډېره وده کړې وه. د لرغوني چین په ښارونو کې ګڼ شمېر مانۍ او عبادت ځایونه جوړ شوي وو. د چین ستر دیوال د هغه مهال د معماري د مهارت یوه څرګنده بېلګه ده.



د چین ستر دیوال

د چين ستر ديوال د نړۍ له برمه ډک تاريخي اثر دی. دغه تاو راتاو ديـوال د آرام سمندر له غاړو او مورگو څخه پيلېږي او د تبت په پولو کې پای ته رسېږي. دغه ديوال د شي هوانگ تي ستروا‌ک په امر په شلو کلونو کې جوړ شوی دی. د دغه ديوال لوړوالی اووه نيم متره دی، پراخوالی يې هم په همدې کچه دی. داسې ويل کيږي چې کله به کوم کارگرمړ کېده او يا به ناجوړه کېده هغه به يې په ديوال کې خښاوه. د ديوال له پاسه په هره سل متری کې امنيتي پوستې موجودې دي.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د چين د واکمنيو او دويمه ډله دې د چين د تمدن او فرهنګ په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې خپل معلومات نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د چه اين قبايلو مشر څوک و او کوم کارونه يې ترسره کړل؟

۲- د پخواني چين د مذهبونو په اړه څه پوهيږئ؟واصيح يې کړئ.

۳- د چينايانو د علمي پرمختيا په اړه معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د چين د ستر ديوال په اړه معلومات وليکي او ټولګيوالو ته دې وړاندې کړي.

د یونان تمدن

په دې لوست کې به د کرت تمدن، د یونان ښاري دولتونو، ټولنیزې او کلتوري وضعې او همدارنګه د لرغوني یو نان له علمي او هنري لاسته راوړنو سره آشنایي پیداکړئ.

د یونان تمدن د نړۍ د لرغونو تمدنونو هغه مهم مرکز و چې لویدیځې نړۍ ورځخه الهام واخیست او د خپل کلتور بنسټ یې پرې کېښود.

د یونان لومړنی تمدن د کرت په نامه یادېږي. کرت د لرغوني یونان اړوند ټاپووزمه وه. په ۱۹۰۰ زېږدیز کې د لرغونپوهانو څېړنو په ډاګه کړه چې د کریت په جزیره کې یو پرمختللي تمدن شتون درلود چې د مصر او بین النهرین له تمدنونو سره یې سیالي کوله. له دغې سیمې څخه ګڼ شمېر ډېرین او خاورین آثار، د پخلنځي وسایل او داسې نور آثار ترلاسه شوي چې لرغونتوب یې له ۲۵۰۰ - ۱۵۰۰ مخزېږد پورې رسېږي. په کرت کې مرکزي واکمني د ۲۰۰۰ مخزېږد په شاو خوا کې رامنځته شوه چې پلازمېنه یې د کنوسوس ښار و. د کرت تمدن د آریایي قبایلو د یرغل په پایله کې له منځه ولاړ.

یونانیان: یونانیان له هغو آریایي قبیلو سره تړاو لري چې له خپل اصلي میشت ځای (آریانا ویجه) څخه د اروپا لور ته ولېږدیدل او د ۲۵۰۰ مخزېږد په شاو خوا کې یونان ته ننوتل. د آریایانو لومړۍ ډله اکینان وو، چې یونان ته ننوتل هغوی د یونان اصلي اوسیدونکي د ځان تابع کړل او نه یوازې یونان بلکې د ایجن سمندرګي ټولې سیمې یې ترلاسه کړې.

د ۱۶ مې مخزېږدې پېړۍ په شاو خوا کې د اکینانو له لوري د لومړنۍ واکمنۍ بنسټ کېښودل شو او په می سن کې سترې او ښکلې مانۍ ودانې کړې. د اکینانو تمدن تر لسمې مخزېږدې پېړۍ پورې دوام وکړ.

اکینان په کرنې بوخت وو او د برونزو له وسایلو یې ګټه اخیستله. دغه دوره له میلاده لس پېړۍ وړاندې د دوریانو د یرغل په ترڅ کې پای ته ورسېده او دوریان په لرغوني یونان واکمن شول. دوریانو د کلتور پرمختګ ته پام نه درلود، خو هغه مشهورې حماسي کېسې چې د (الیاد او ادیسه) په نامه یادېږي په همدې دوره کې منځته راغلي دي. دغه کېسې چې د نړۍ په ادبیاتو کې لوړ مقام لري، د ړوند یوناني شاعر هومر په واسطه ویل شوي دي.

د یونان ښاري دولتونه

په یونان کې د زیاتو غرونو او ټاپو وزمو شتون او همدارنګه قبیلوي تعصبات ددې لامل شول چې یوناني قبایل له یوبل څخه بېل او په خپلواکه توګه ژوند وکړي. په دې توګه په یونان کې ډېر ښاري دولتونه رامنځته شول چې سپارت او اتن یې تر نورو مشهور دولتونه وو. دغو دواړو دولتونو له یو بل سره توپیر درلود. د سپارت وګړو په جګړو کې ډېر شهرت موندلی و، خو د اتن وګړو په دموکراسۍ او د علم او فلسفې په دودولو کې ډېر شهرت درلود.

د یونان ښاري دولتونو له یو بل سره سیالي او دښمني درلوده. هغوی په دوو ډلو وېشل شوي وو چې د یوې ډلې په سر کې اسپارت او د بلې په سر کې اتن ځای درلود.

په یونان کې کورنیو جګړو چې د پلوپونیز جګړو په نامه یادېږي ډېر وخت دوام وکړ چې په پایله کې یې اسپارتیان بریالي شول، خو هغوی هم د تبس ښاري دولت له لوري مغلوب شول. په دې توګه کورنیو ګډو وډیو یونان ډېر کمزوری کړ. همدغه مهال مقدوني فلیپ چې د یونان په شمال کې د مقدونیې حاکم و، په یونان ولکه پیدا کړه چې دغه کار د فلیپ د زوی مقدوني سکندر د فتوحاتو لپاره لاره هواره کړه. سکندر د ترکیې او مصر له نیولو وروسته فارس ته مخه کړه او له ۳۳۶-۳۲۳ مخزېږد پورې یې په هخامنشیانو بری ومونده او د هند تر شمال پورې وړاندې ولاړ.

د سکندر له مړینې وروسته یوناني ستروا کي تجزیه شوه، چې ورسره رومي امپراتورۍ ته د غوړېدو او پراختیا زمینه برابره شوه.

کلتور او تمدن

دین:د توحید او د یوه خدای ﷻ د عبادت دعقیدې د نشتوالي او د اعتقادي انحراف له امله یونانیانو په ډېرو خدایانو باور درلود او د لرغونې نړۍ د نورو وګړو په څېر یې باور درلود چې آسمان، ځمکه، برېښنا، مینه او ښکلا او پوهه هر یو ځانګړی پیدا کوونکی لري. زیوس د آسمان خدای پاسیدون د سمندر خدای اپولو د لمر خدای او اتینا د بریالیتوب خدای ګڼل کېدل. د یونانیانو په اند د دوی یوشمېر خدایان د الپ په غره کې اوسیدل چې له همدې امله ورزشي سیالۍ د المپیا غره ته څېرمه ترسره کېدلې، د المپیک سیالۍ د همداغه مهال یادګار دی.



د یونان د لرغوني مدنیت یوه بېلګه

یونانیانو له مړینې وروسته پر ژوند باور درلود او د خپلو مړو ترڅنګ یې ځینې وسایل په قبر کې ایښودل.

په یوناني ښارونو کې ګڼ شمېر عبادت ځایونو شتون درلود، چې خلک د دیني مراسمو په موخه ورتلل.

هنر او معماري: له لرغوني یونان څخه ډېر آثار لکه مجسمې، لوښي، سکې اوعبادت ځایونه پاتې دي، خو د یونانیانو معماري او مجسمه جوړونه د ډېر شهرت لرونکې ده. هغوی به د خپلو خدایانو او همدارنګه د خپلو واکمنانو لپاره مجسمې جوړولې. هغوی خپلې ودانۍ له ډبرو او لرګیو څخه جوړولې، موسیقي او تیاتر هم په یونان کې ډېر دود درلود.

علم او فلسفه: علم په یونان کې ډېر پرمختګ کړی و ځکه چې هغوی له علمي خبرو اترو سره ډېره لیوالتیا درلوده. د علم د پرمختګ یو بل لامل له مصر او کوچنۍ آسیا سره د یونانیانو سوداګریزې

اړیکې وې چې له همدې امله د آسیا او افریقا علمي لاسته راوړنو یونان ته لار موندله او علم ته یې لا زیاته وده ورکوله.

د یونان فیلسوفان په نړۍ کې د ډېر شهرت لرونکي دي، چې د هغوی له جملې څخه سقراط، افلاطون او ارسطو د یادونې وړ دي. سقراط هغه لوی فیلسوف و چې په ښار کې به ګرځېده او له خلکو سره به یې خبرې اترې کولې. هغه ډېر زده کوونکي درلودل چې تر ټولو نامتو یې افلاطون دی.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د کرت د تمدن، دویمه ډله دې د یونان د ښاري دولتونو او دریمه ډله دې د یونان د کلتور او تمدن په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازی دې نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د کرت د جزیرې په اړه څه پوهېږئ؟

۲ - د یونان مشهور ښاري دولتونه کوم وو؟

۳- د یونانیانو د مذهبي عقایدو په اړه معلومات وړاندې کړئ.

٤- د یونان مشهور فیلسوفان څوک وو؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د المپیک د ورزشي سیالیو په اړه معلومات ولیکي او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

د روم تمدن

په دې لوست کې به د روم د امپراتورۍ د رامنځته کېدو، د لرغوني روم له سیاسي، ټولنیزې او کلتوري وضعې، او همدارنګه دلرغوني روم له هنري بریاوو سره آشنایي پیداکړئ.

د روم تمدن په ایټالیا کې متمرکز و. دغه تمدن هغه پل ګڼل کېږي چې د یونان د تمدن لاسته راوړنې له دې ځایه نورو اروپایي هېوادونو ته رسیدلې.

پخوانیو ایټالویانو له یونانیانو څخه الفبا، دیني عقیدې او هنرونه زده کړل چې له همدې امله د ایټالیا نوم یوناني نوم دی. د روم تمدن له میلاد څخه وړاندې په شپږمه پېړۍ کې پرمختیا پیل کړه او د یونان د تمدن له څوړ وروسته خپلې لوړې پوړۍ ته ورسېد.

د روم ښار په ۱۰۰۰ مخزېږد کې د لاتیوم په سیمه کې جوړ شو. د لرغونو رومیانو د ژبې لاتیني نوم له همدغې کلمې څخه اخیستل شوی دی. هغه مهال د روم یوشمېر میشت قومونه سره یو موټی شول چې د لاتینیانو په نامه یې شهرت پیدا کړ او څه مهال وروسته یې شاهي نظام رامنځته کړ چې تر ۵۰۹ مخزېږد پورې یې دوام وکړ. له شاهي نظام وروسته په روم کې د جمهوري نظام بنسټ کېښودل شو چې د مشرانو جرګه، سنتوري یا سل کسیزه شورا او قبایلي جرګه یې درلوده.

وروسته له هغه چې رومیانو پر ټولې ایټالیا ولکه پیدا کړه د نورو سیمو د نیولو هڅې یې پیل کړې چې په ترڅ کې یې د رومیانو او کارتاژیانو ترمنځ جګړه پیل شوه. دغه مهال کارتاژ (ننني تونس) د مدیترانې پر ټاپو وزمو او د شمالي افریقا په ډېرو سواحلو ولکه درلوده. د رومیانو او کارتاژ جګړې له یوې پېړۍ ډېر دوام وکړ چې په پایله کې رومیان بریالي شول او په ۱۴۶ مخزېږد کې د کارتاژ دولت پای ته ورسېد.

رومیانو خپلو بریاوو ته ادامه ورکړه او د مصر او کوچنۍ آسیا په نیولو سره یې یو پراخه حکومت رامنځته کړ. په دې توګه د روم حکومت د روم په امپراتورۍ بدل شو.

اکتاو هغه شخص و چې د روم د ستروا کې بنسټ یې کېښود. او له ۲۷ مخزېږد څخه تر ۱۴ زېږدیز پورې یې پر روم واکمني وکړه. له دې وروسته د روم په تاریخ کې یوه نوې دوره پیل شوه چې د

امپراتوری د دوري په نامه یادېږي او تر ٤٧٦ زېږدیز پورې یې دوام وکړ. اکتاو یو پیاوړی ستروا‌ک و. د هغه په واکمنۍ کې ډېر اصلاحات رامنځته شول، فساد له منځه ولاړ، قانون او نظم غښتلی شو، نوې محکمې جوړې شوې او د پوستي خدمتونو بنسټ کېښودل شو. له اکتاو وروسته ګڼ شمېر واکمنان واک ته ورسېدل خو ډېرې یې بې کفایته وو.

له دریمې زېږدیزې پېړۍ وروسته رومي امپراتوري له ستونزو سره مخ شوه او ځواک یې کمزوری شو. کنستانتین چې د روم امپراتور و د بیزانتوم (قسطنطنیه) ښار یې د خپلې پلازمېنې په توګه غوره کړ. دغه ګام رومي امپراتوري په دوو برخو (ختیځ او لوېدیځ روم) ووېشله. لوېدیځ روم د بهرنیو بریدونو په ترڅ کې د ځوړ په لور روان شو، خو ختیځ روم ترهغه پایښت وموند چې پلازمېنه یې په ١٤٥٣ زېږدیز کې د ترکي مسلمانانو له لوري فتحه شوه. په دې ډول د نړۍ دغه لوېه سترواکي هم له منځه ولاړه.

کلتور او تمدن

دین: رومیانو هم د یونانیانو په څېر په ډېرو خدایانو باور درلود او د هغوی عبادت یې کاوه. مریخ په جګړو کې مرسته کوونکی، جونو د ښځو ساتونکی، مشتري باران ورووونکی او عطارد پیغام رسوونکی خدای ګڼل کېده. په روم کې ډېر عبادت ځایونه ودان شوي وو. په دغه عبادت ځایونو کې به هغو غیب ویونکو شتون درلود چې خلکو پرې باور درلود.

په روم کې د مسیحیت خپرېدو د خلکو په ټولنیز ژوند ډېر اغېز وکړ. مسیحیانو په رومي خدایانو باور نه درلود چې له همدې امله په پیل کې د دولتي مامورینو او کاهنانو له کینې او مخالفت سره مخامخ شول، خو د مسیحیت په پراختیا سره د مسیحي دین نظریاتو د پخوانیو نظریاتو ځای ونېوه او د روم د رسمي دین په توګه وپېژندل شو.

ټولنیز حالت: د روم د واکمنۍ د جوړېدو پر مهال، رومي ټولنه له دریو اصلي ډلو، (اصلي رومیان، غیر رومي وګړي او غلامانو) څخه جوړه شوې وه.

د ځمکې د مالکیت او په ټاکنو کې د ګډون حق یوازې لومړۍ ډلې درلود او دولتي چارواکي هم له همدې ډلې ټاکل کېدل، خو د وخت په تېرېدو سره دغه حالت بدلون وکړ او دویمې ډلې هم د



اعتراضاتو او هڅو په پایله کې د لومړۍ ډلې امتیازات ترلاسه کړل. په روم کې د غلامانو حالت ډېر خراب و چې له همدې امله به یې ځینې وخت اخ وډب رامنځته کېده. په رومي ټولنه کې خلک په بېلابېلو دندو بوخت وو. شتمنو طبقاتو خپل ډېری وخت په تیاترونو او ورزشي سیالیو کې تېراوه. د هغوی کورونه ډېر ستر وو چې د خوب خونه، حمام، پخلنځی او د غلامانو د اوسېدو ځای یې درلود.

قانون او دولت: نړۍ ته د روم قوانین او اداري اصول ښه ډالۍ ده. د روم قانون درې څانګې درلودې چې یو یې مدني او کورنی قانون و چې یوازې د رومي اتباعو لپاره رامنځته شوی و. دویم یې د خلکو قانون و چې د ستروا کی په ټولو وګړو عملي کېده او بل یې هم طبیعي قانون و چې د محاکمو په پرتله یې له فلسفې سره ډېر کار درلود.

رومي قوانینو د امپراتورۍ له یووالي، د سوداګرۍ په هڅونه او د تولیداتو په خپرېدو کې ډېره

مرسته وکړه. د اجراییه او مقننه قواوو لرونکې واکمنۍ بنسټ د رومیانو له خوا کېښودل شو. د جمهوریت غوښتنې نظریې ته هم رومیانو وده ورکړه.

هنر او معماري: د هنر او معمارۍ په برخه کې رومیانو ډېر پرمختګ کړی و، خو هنري لاره یې د یوناني هنر تر اغېز لاندې وه چې له همدې امله رومي هنر د یوناني هنر دوام بلل کېده. له لرغوني روم څخه ډېر اثار لکه: لوښي، سکې، وسلې، مجسمې او داسې نور ترلاسه شوي چې د رومي تمدن څرګندونه کوي. رومیانو د پلونو، مجسمو او ودانیو په جوړولو کې ډېر پرمختګ کړی و چې بېلګې یې لا تراوسه په دغه هېواد کې شتون لري.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دریو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د روم د امپراتورۍ د منځته راتګ په اړه، دویمه ډله دې د رومیانو د مذهب په اړه او دریمه ډله دې د رومیانو د قانون او دولت په اړه بحث وکړي او د هرې ډلې استازي دې نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د روم د جمهوري نظام په اړه معلومات وړاندې کړئ.

۲- اکتاو څوک و او په واکمنۍ کې یې کوم کارونه ترسره شول؟

۳- رومي ټولنه په څو برخو وېشل شوې وه؟ په اړه یې معلومات وړاندې کړئ.

٤- د روم د قانون په اړه څه پوهېږئ؟ واضیح یې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د مسلمانانو له لوري د ختیځ روم د نیولو په اړه معلومات ولیکي او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

د امريکا تمدنونه

په دې لوست کې به د امريکا د لرغونو تمدنو نو د سياسي، ټولنيزې، اقتصادي او کلتوري وضعې په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

ډيره موده وړاندې داسې فکر کېده چې د امريکا د تمدنونو لرغونتوب ډېر لنډ او وروستيو پېړيو ته رسېږي. خو د پوهانو څېړنو دا په ډاګه کړه چې انسانانو په امريکا کې له څو زرو کلونو راهيسې ژوند پيل کړی او د پرمختګ ښلابښل پړاوونه يې تېر کړي دي.

د امريکا د لومړنيو ميشتو وګړو په اړه ښلابښل نظريات شتون لري خو ددې نظر پلويان ډېر دي چې د دغې سېمې لومړني وګړي مغول وو چې د سايبريا له لارې الاسکا ته ليږديدلي او ځينې تمدني اثار يې له ځان سره وړي دي. له امريکا څخه ترلاسه شوي آثار څرګندوي چې په لرغونو پېړيو کې ځينو کلتورونو په هغو تمدنونو خپل اغېز پرېښود چې وروسته په سترو واکمنيو بدل شول.د دغه تمدنونواغېز په مرکزي امريکا کې د مايايانو او ازتکانو او سويلي امريکا کې له اينکايانو څخه عبارت دي.

د مايا تمدن

د مايا تمدن چې تاريخ يې څه ناڅه ۱۵۰۰ مخزېږد ته رسېږي، تر نهمې زېږديزې پېړۍ پورې ډېر پرمختګ وکړ او د مرکزي امريکا په ګواتيمالا، مکسيکو، هاندوراس او د يوکاتان په سيمو کې خپور شو. د دغه تمدن پاتې شونې دګواتيمالا په تيکال، پالينکو او بونامپاک او د هاندوراس په ګوپان سيمو کې موندل شوي دي. په دغو سېمو کې داسې ودانۍ ترلاسه شوي چې په انځورونو ښکلې کړی شوي دي.

مايايانو کليزې، الفبا او انځوريز ليک رامنځته کړی و. له صفر او اعدادو سره يې اشنايي درلوده او په شمېر هم پوهېدل. هغوی د کلونو تيريدل په پام کې نيول او د هرې شل کلنې دورې لپاره يې د يادګار په موخه يوه ستنه جوړوله چې کاتون بلل کېده.

مايايانو د ښلابښلو خدايانو لکه: د اور خدای، د اورښت خدای، د لمر خدای او د هنر او سولې خدای عبادت کاوه او د هغوی د خوښۍ لپاره يې قربانۍ کولې. په نهمه مخزېږده پېړۍ کې د مکسيکو درې ته د خلکو نوې ډلې رانغوتې او د مايايانو تمدن يې له منځه يووړ.

د ازتک تمدن

ازتکان په نهمه مخزېږده پېړۍ په مکسیکو کې راڅرګند شول. هغوی جګړه مار خلک وو او څه موده وروسته د همدې سېمې واکمنان شول. ازتکانو یوه ستره امپراتوري رامنځته کړه چې پر ۳۸ ولایتونو وېشل شوې وه هره برخه یې د یوه والي له لوري اداره کېده.

د ازتکانو پاچا به په عین وخت کې راهب هم وچې د اشرافو، او جنګیالیو د یوې شورا له لوري به ټاکل کېده. د ازتک ټولنه په جنګیالیو، سوداګرو او کسب ګرو وېشل شوې وه. هغوی د یوشمېر خدایانو لکه: د لمر خدای عبادت کاوه. او د فلزاتو په ویلي کېدو او له هغو څخه په کار اخیستنې پوهېدل.

د ازتکانو ژبه ناهوت وه چې تر دې مهاله یوه ژوندۍ ژبه ده او لیک یې انځوریز و. په ۱۵۲۱ زېږدیز کې دغه امپراتوري د اسپانویانو له خوا پای ته ورسېده.

د اینکا تمدن

د اینکا تمدن په یوولسمه زېږدیزه پېړۍ کې د اینکایانو د قبیلې له خوا، چې هغوی هم له آسیا څخه امریکا ته رالېږدیدلي وو رامنځته شو. اینکایانو یوه ستره امپراتوري رامنځته کړه چې د اکوادور، پېرو او چېلي سېمې پکې شاملې وې.

د اینکا واکمن د مذهبي کاهنانو په مرسته په خپل قلمرو کې واکمني کوله او خپل ځان یې د خدای زوی او استازی باله. سیاسي ځواک د پاچا په لاس کې و، خلکو هیڅ واک نه درلود او د پاچا او کاهنانو تر اوامرو لاندې یې ژوند کاوه. د خلکو لپاره ډېر سخت مقررات وضع شوي وو. ځمکه د دولت ملکیت وه، جوار او کچالو د کرنې غوره تولیدات وو کروندګرو د خپلو پیداوارو دریمه برخه ترلاسه کوله. یوه برخه یې دولت ته او یوه برخه یې د امپراتور لپاره ښلوله. صنعتي او کرنیز پیداوار د دولتي کارکوونکو له خوا په خپلو منځو کې وېشل کېدل.

اینکایانو کلیزه درلوده او په معماریۍ، مهندسۍ او لاسي صنایعو کې یې هم ډېر پرمختګ کړی و. د اینکا ښارونه د سترو جوړښتونو لکه ماڼیو، عبادت ځایونو، رسمي ګودامونو او جنګي کلاوو لرونکي

وو. هنر او لاسي صنعت هم ډېر وده کړې وه. اینکایانو د ژېړو لوښي، وسلې او له مسو او زرو څخه ښکلې ګانې جوړولې. هغوی له ازتکانو سره سوداګریزې اړیکې درلودې او خپل صنعتي تولیدات یې د ازتک امپراتورۍ ته صادرول.

د اینکا مدنیت د پاتې شونو یو انځور



په ۱۵۳۲ زېږد کال کې هسپانویان د اینکا قلمرو ته رارسېدل او د اینکایانو وروستی امپراتور اتاهولپا یې له منځه یووړ او په دوو کلونو کې یې په ټولې امپراتورۍ ولکه پیدا کړه چې په دې ډول دغه امپراتوري هم پای ته ورسېده.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د مایا د تمدن دویمه ډله دې د ازتک د تمدن او دریمه ډله دې د اینکا د تمدن په اړه خپل بحث وکړي او د هرې ډلې استازي دې نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د امریکا لومړني خلک څوک وو؟ په اړه یې معلومات وړاندې کړئ.

۲- د مایا تمدن څه مهال رامنځته شو او په کومو سیمو کې خپور شو؟

۳- د ازتکانو په اړه څه پوهیږئ؟ معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې په دې اړه، چې د امریکا لومړني خلک څوک دي، معلومات ولیکي او خپلو ټولګیوالو ته دې وړاندې کړي.

د اسلام تاریخ

دا څپرکی لاندې لوستونه لري:

- د اسلام د راڅرګندېدو پر مهال د نړۍ او عربستان د ټاپوزمې اوضاع
- له کوچنیتوب څخه تر بعثت او له بعثته تر رحلته پورې د حضرت رسول اکرم ﷺ ژوند
- د عقبېې لومړی او دویم ترون
- غزوات
- د حدیبیې سوله
- د مکې فتح
- حضرت ابوبکر رضي الله عنه
- حضرت عمر رضي الله عنه
- حضرت عثمان رضي الله عنه
- حضرت علی (کرم الله وجهه)
- د خلفای راشدین روښانه دورې ته لنډه کتنه
- امویان
- د امویانو په دوره کې اقتصادي، اداري، کلتوري او پوځي وضعیت
- عباسیان
- د عباسیانو سیاسي، اداري او کلتوري اوضاع

د څپرکي موخې

هیله کیږي چې د دې څپرکي په پای کې به زده کوونکي لاندې موخو ته ورسېږي:

- د اسلام د راڅرګندیدا پر مهال به د نړۍ او عربستان د وضعې، د حضرت محمد ﷺ د بعثت، هجرت او رحلت، دخلفاې راشدینو د ژوندانه او کړو وړو او د اموي او عباسي واکمنانو په اړه معلومات تر لاسه کړي.
- د اسلام د راڅرګندیدا پر مهال به د نړۍ او عربستان وضعه د حضرت محمد ﷺ، راشدینو خلفاوو، اموي او عباسي واکمنانو د دوران او د مهمو پېښو د تحلیل وړتیا پیدا کړي.
- د اسلام له سپېڅلي دین، د حضرت محمد ﷺ د خلفاې راشدینو له کړو وړو او د اموي او عباسي واکمنو له ښو صفاتو سره یې مینه او لیوالتیا پیدا شي.

د اسلام د را څرګندیدا پر مهال د نړۍ او د عربستان د ټاپو وزمې اوضاع

په دې لوست کې به د اسلام د مبارک دین د ظهور پر مهال د نړۍ او عربستان د سیاسي، ټولنیزې او کلتوري وضعې په اړه معلومات وړاندې کېږي.

د اسلام د مبین دین له ظهور څخه مخکې د نړۍ پر مخ د کفر، جهالت او ناپوهۍ د تورو وریځو لړۍ خپره وه. په هر ځای کې ظلم و او حق تر پښولاندې کېده که څه هم د اروپا او افریقا د زیاتو او د لویدیځې آسیا د ځینو برخو خلکو په یهودیت او نصرانیت باور درلود او ځانونه یې د حضرت موسی علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام پیروان بلل، خو دوی هم په دغو ادیانو کې ډېر زیات انحرافات او بدلونونه رامنځ ته کړي وو او اصلي او اساسي لاره یې په



د اسلام نه مخکې د عربو مراسم

ټولیزه توګه پریښې وه ظلم او بربریت خپل اوج ته رسیدلی و، زور او ځواک د حاکمانو د حکومت چلولو یوازینۍ وسیله وه. د فارس او خراسان خلکو د اور نمانځنه کوله او ظالمو ساساني حاکمانو وړاندې حکومت کاوه. په هند، چین، د خراسان ختیځو برخو او د آسیا په سوېلي سیمو کې بودایي دین دود او د بت لمانځنې بڼه یې خپله کړې وه. د مکې اوسیدونکو د بتانو لمانځنه کوله او د ناپوهۍ په اور کې ښکیل وو.

جزیرة العرب چې په څو برخو لکه یمن، نجد او حجاز وېشل شوې وه په یمن کې یې حبشیانو او د هغو پلویانو حکومت کاوه او خلک یې د یهودیت، نصرانیت او بت نمانځنې لارویان وو. د حجاز ډېرو خلکو د بتانو نمانځنه کوله. د یهودیانو اونصرانیانو لږکیو هم په حجاز کې شتون درلود. سربېره پردې په جزیرة العرب کې د لمر، سپوږمۍ او ستورو نمانځنه هم دود وه. د عربستان د خلکو کاروبار

سوداګري، کرنه او څارويو ساتنه وه. د دې هېواد زورور په ناوړه کارونو او فساد کې ډوب وو. بېوزلو په ډېره خواري او غريبۍ کې د ژوندانه ترخې شېپې او ورځې تېرولې. په عربستان کې ظلم او تېرى خپلې لوړې کچې ته رسېدلى و. همدارنګه يوشمېر خلک د لوړې له ډاره خپلې نجونې ژوندۍ تر خاورو لاندې کولې او د هغوشتون يې ځانونو ته ننګ او شرم ګانه. دوى د ښځو شخصيت ته هيڅ درناوى نه درلود او هغوى يې د عادي توکو په څېر اخيستلې اوخرڅولې. هماغه و چې لوى څښتن حضرت محمد مصطفى ﷺ په رسالت او نبوت مبعوث کړ چې په خپلو نه ستړي کېدونکو هلو ځلو او د لوى خداى جل جلاله د هر اړخيزې مرستې په برکت يې د ناپوهۍ تيارې د نړۍ له مخې لرې او پر ځاى يې د اسلام د مبارک دين رڼا خپره کړه.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د جزيره العرب د وګړو د اديانو او دويمه ډله دې دعربستان داقتصادي وضعې په اړه خپل معلومات د خپل آستازي په وسيله نورو ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- عربو د نجونو او ميرمنو په وړاندې څه ډول چلند کاوه؟

۲- ولې الله ﷻ حضرت محمد ﷺ په پيغمبرۍ مبعوث کړ؟

۳- عربو تر اسلام وړاندې په کومو اديانواو شيانو عقيده درلوده؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د عربو د معتقداتو او اديانو په اړه د خپل کلي او سېمې له عالمانو او پوهو شخصيتونو څخه معلومات ترلاسه کړي او بيا دې په ټولګي کې نورو ته واوروي.

د حضرت محمد ﷺ ژوند له کوچنیوالي تر بعثته پورې

په دې لوست کې به د حضرت محمد ﷺ د نسب، د کوچنیتوب د دوران په پیغمبرۍ د مبعوثېدو د څرنګوالي او د مسلمانانو د لومړني هجرت په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

حضرت محمد ﷺ د ۵۷۱ زېږدیز کال د اپریل د میاشتې په شلمه چې د ربیع الاول له دولسمې نېټې سره سمون لري- د دوشنبې په سهار دې نړۍ ته تشریف راوړ. د حضرت محمد ﷺ پلار، عبدالله څو میاشتې د مخه تر دې چې حضرت محمد ﷺ دنیا ته راشي وفات شوی و. حضرت نبي کریم ﷺ له زېږېدنې وروسته څلورکاله د بني سعد په قبیله کې د بي بي حلیمې سعدې تر روزنې لاندې و. کله چې شپږ کلن شو مور یې بي بي آمنه وفات شوه. له دې وروسته یې پالنه نیکه عبدالمطلب په غاړه واخیسته کله چې اته کلن شو نو نیکه یې عبدالمطلب هم له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. له هغه وروسته د حضرت محمد ﷺ پالنه د ده د تره ابوطالب په غاړه شوه. تر هغه چې ځوان شو. ابوطالب ته حضرت محمد ﷺ له خپلو زامنو څخه ګران و. پر هغه باندې یې دېره مهرباني او ځانګړې لورینه د رلوده.

حضرت محمد ﷺ په دولس کلنۍ کې له ابوطالب سره د شام په سفر ولاړ. په شام کې یوه مسیحي دیني عالم بحیرا د حضرت محمد ﷺ له علایمو ومونډله چې دی د آخر زمان نبي او رسول دی، نو ځکه یې له ابوطالب څخه وغوښتل چې په ساتنه کې یې دېره هڅه وکړي.

د حضرت محمد ﷺ عقلي او اخلاقي غوره والی تل هغه له نورو څخه ممتاز کاوه چې د کعبې په دېوال کې د حجرالاسود د دېرې د کېښودو څرنګوالی یې روښانه دلیل دی. الله ﷻ د خپل پیغمبر په پوهې او حکمت سره د اعرابو قبایل له وینې توییونې څخه چې هره شېبه یې انتظار کېده وساتل.

په ځوانۍ کې حضرت محمد ﷺ په مکه کې په نیکو اخلاقو، رښتینولۍ او امانت ساتنې مشهور و، نو ځکه د بي بي خدیجې رضی الله عنها چې د قریشو یوه شتمنه مېرمن وه د پام وړ وګرځېد او له حضرت نبي کریم ﷺ څخه یې وغوښتل چې شام ته د هغې د سوداګریز کاروان مشري په غاړه واخلي حضرت رسول اکرم ﷺ دغه بلنه ومنله. کاروان یې شام ته ورساوه او له دېرې ګټې سره بېرته مکې ته راستون شو.

کله چې قافله مکې ته ورسېده د بي بي خديجې غلام چې له هغه سره په سفر کې مل و حضرت بي بي خديجې رضي الله عنها ته يې د حضرت محمد ﷺ د ښو فضايلو کيسه وکړه. بي بي خديجې له حضرت محمد ﷺ څخه غوښتنه وکړه چې واده ورسره وکړي. حضرت محمد ﷺ دغه بلنه ومنله په دې مهال کې حضرت نبي کريم ۲۵ کلن او بي بي خديجه ۴۰ کلنه وه.


د حضرت محمد ﷺ ژوند او سيرت د ټولو الهي پيغمبرانو د ژوند په تاريخ کې ترټولوښه سيرت دی. د حضرت محمد ﷺ ژوند په ټولوبرخو کی روښانه دی.د حضرت محمد ﷺ د ژوند ټولې پېښې له زيږيدو څخه ترکوچنيتوب،ځوانی، له بعثت څخه وړاندې يې کار او له مکې بهر سفرونه يې اوپه لنډه توګه ترهغه چې الله ﷻ هغه په پيغمبری مبعوث کړ، د لمړيه شان روښانه دي.

له بعثت څخه تر هجرت پورې

له بعثت څخه وړاندې الله ﷻ د حرا غار ته د حضرت محمد ﷺ ورتګ په زړه پورې کړی و.

پيغمبر ﷺ به هر کال يوه مياشت په هغه کې تېروله او د نړۍ د پيدايښت او د الله تعالی پر ستر ځواک به يې فکر کاوه او د وحې تر راتګ او د قرآن کريم تر نزول پورې يې دغه عادت ته دوام ورکاوه.

کله چې پيغمبر ﷺ څلويښت کلن شو. د روژې د مياشتې په دولسمه د دوشنبې په ورځ جبرئيل امين د الله ﷻ وحې حضرت محمد ﷺ ته راوړه په داسې حال کې چې د حرا په غار کې په عبادت بوخت و. يوه پرښته ورته راغله او ورته يې وويل: ولوله: پيغمبر ﷺ وويل لوستی يې نشم. پيغمبر ﷺ وايي چې دغې پرښتې په خپله غېږ کې ونيولم او سخت زور يې راکړ تر هغه چې خپله وړتيا مې له لاسه ورکړه. دري ځلې دغه عمل تکرار شو. په دريم ځل له زور راکولو وروسته پرښتې وويل:



د حراء غار

(اقرا باسم ربک الذی خلق.....)

ژباړه: ولوله د هغه پروردګار په نامه چې انسان يې د کلکې شوې وينې له يوې ټوټې څخه پيدا کړ. ولوله چې ستا رب ډېر مهربان او د کريمانو کريم دی. هغه خدای چې د قلم په واسطه

پې ور زده کړل او انسان ته يې د هغه څه تعليم ورکړ چې نه پرې پوهېدل. له لږ وخت وروسته د حضرت محمد ﷺ نژدې دوستانو حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه حضرت علي(کرم الله وجهه) او په ښځو کې حضرت بي بي خديجې رضي الله عنها د هغه په رسالت ايمان راوړ. د څه وخت له تېريدو وروسته د بيلابيلو قشرونو خلک په لسګونو تنه د اسلام په دين مشرف شول.

حبشې ته د مسلمانانو هجرت

حضرت محمد ﷺ د حضرت ارقم رضي الله عنه کور د خپل دعوت مرکز ټاکلی و او په همدې ځای کې يې له خلکو سره ليده کاته کول او خلک يې په پټه د اسلام دين ته رابلل. پټ دعوت درې کاله دوام وکړ. د دې وخت له تېرېدو وروسته حضرت محمد ﷺ د صفا په غونډې د اسلام دعوت ښکاره کړ. له دغې پېښې سره سم ابولهب، ابوجهل او نورو مشرکينو د مسلمانانو په ځوروني پيل وکړ. د دې لپاره چې د کفارو ظلم او تېرى له بريده تېر شو، نو ځکه حضرت محمد ﷺ مسلمانانو ته اجازه ورکړه حبشې ته چې پاچا يې نجاشي نومېده او يو عادل شخص و، هجرت وکړي.

د بعثت د پنځم کال د رجب په مياشت کې د لومړي ځل لپاره يو ولس تنو مسلمانانو د څلورو ښځو په ګډون حبشې ته هجرت وکړ. کله چې مشرکين له دې هجرت څخه خبر شول خپل زور زياتی يې نور هم ډېر کړ چې په پايله کې د نبوت په شپږم کال ۸۳ تنو مسلمانانو هجرت ته مخه کړه او حبشې ته ولاړل. د مکې کفار چې څنګه خبرشول مسلمانان د نجاشي د مهربانۍ وړ ګرځېدلي، د عمرو بن عاص په مشرۍ يې له سوغاتونو سره يو پلاوی حبشې ته ولېږه. خو د نجاشي پاچا د خپلې ځيرکۍ او د مهاجرينو د استازي په واسطه د اسلامي دعوت د حقيقت په پوهېدنې، نه يوازې د مکې د کفارو سوغاتونه رد کړل، بلکې د مهاجرينو ملاتړ ته يې لا ډېر پام واړاوه.

د طايف سفر

مسلمانان تل د مشرکينو له لورې ځوربدل، يو شمېر يې د کفارو د تېري له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ او په پيغمبر ﷺ فضا تنګه شوه.

د بعثت په لسم کال حضرت بي بي خديجه الکبرى رضي الله عنها او ابو طالب چې له هر پلوه د حضرت محمد ﷺ له نژدې دوستانو او ملاتړو څخه وو، وفات شول. دغو دوه پېښو د حضرت محمد ﷺ په

پاک روح باندې دومره اغېزه وکړه چې دغه کال يې د عام الحزن په نوم ونوماوه بيا هم دغو درد ناکو پېښو ونشوکړای چې د دعوت د رسالت د فريضې په سرته رسولو کې يو کوچنی څنډ رامنځته کړي.
د همدې اصل له مخې حضرت محمد ﷺ د خلکو د دعوت په موخه د رسالت د دندې د تر سره کولو لپاره طايف ته چې مکې ته يو نژدې ښارو سفر وکړ او د خلکو مشران يې اسلام ته دعوت کړل، هغوی نه يوازې د پيغمبر ﷺ دعوت ونه مانه، بلکې خپلو زامنو ته يې دنده ورکړه، چې د حضرت محمد ﷺ په څوروني پيل وکړي او له ښار څخه يې وباسي.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت محمد ﷺ د دعوت او دويمه ډله دې حبشې ته د مسلمانانو د هجرت په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د حضرت محمد ﷺ د نسب په اړه معلومات ورکړئ.

۲- مسلمانانو ولې حبشې ته هجرت وکړ؟

۲- د حضرت محمد ﷺ د دعوت په وړاندې د طايف د خلکو غبرګون څه و؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د خپلې سيمې له پوهو اشخاصو څخه د حضرت محمد ﷺ د ژوند په اړه پوښتنې وکړي او لاسته راغلي معلومات دې په ټولګی کې وړاندې کړي.

د عقبې ټرونونه(بیعت)

په دې لوست کې به زده کوونکي د عقبې د ټرونونو او مدینې ته د مسلمانانو د هجرت په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

الف- د عقبې لومړی ټرون: په ټبر لوست کې مو ولوستل چې کله پیغمبر ﷺ د مکې له خلکو څخه مایوسه شو، طایف ته لاړ او د بنې ثقیفه قبیله یې اسلام ته دعوت کړه چې هغوی هم ونه مانه او آن حضرت محمد ﷺ یې په ډبرو وویشته. نو حضرت محمد ﷺ د حج پر مهال د عربو بېلابېل قبایل اسلام ته دعوتول تر هغه چې د بعثت په یوولسم کال حضرت محمد ﷺ له شپږ تنو یثربي خذرجیانو سره له مکې بهر د عقبې په نامه یو ځای کې لیده کاته وکړل او اسلام ته یې راوبلل او د قرآنکریم څو آیاتو نه یې ورته تلاوت کړل. دغو شپږ تنو اسلام ومانه او ژمنه یې وکړه چې یو کال وروسته به بیا په همدې ځای کې سره وینې. د بعثت په دولسم کال په نوموړي ځای کې دولس تنو یثربو له حضرت محمد ﷺ سره وکتل او په یو لړ موضوعاتو هوکړې ته ورسېدل چې د عقبې د ټرون په نامه مشهور شو. د دغه ټرون مندرجات په لاندې ډول دي:

هیڅوک او یا شی له خدای جل جلاله سره نه شریکوو. غلا او ټول ناوړه اعمال نه تر سره کوو. خپل اولادونه نه وژنو. دروغ نه وایو. په چا پورې تهمت نه ټرو او د خدای جل جلاله د رسول نافرماني نه کوو.

حضرت محمد ﷺ د ټرون له لاسلیکولو وروسته حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه ته دنده ورکړه چې له دغو دولسو تنو سره مدینې ته لاړ شي. خلک اسلام ته راوبلي او د اسلامي تعلیم چارې مخ ته یوسي. د هغوی د مخلصانه هڅو په پایله کې ګڼ شمېر یثرب د اسلام په دین مشرف شول.

ب- د عقبې دویم ټرون

د بعثت په دیارلسم کال ۷۳ تنو نارینه وو له دوه ښځو سره د دریم ځل لپاره په عقبه کې له رسول الله ﷺ سره ولیدل. د دغې کتنې په لړ کې هغوی ژمنه وکړه چې اسلام ته د خلکو د رابللو سر ببره به د خدای له رسول سره هم هر ډول مرسته کوي. دغه ټرون د عقبې د دویم ټرون په نامه ونومول شو. د دغه ټرون په لړ کې لاندې پریکړې وشوې:

موږ د خدای جل جلاله د پیغمبر هر حکم ته مثبت ځواب وایو. مالي لګښتونه یې په غاړه اخلو. کله چې حضرت محمد ﷺ مدینې ته تشریف راوړي موږ له هغه سره هر ډول مرسته کوو او له هغه څخه داسې ملاتړ کوو لکه چې له خپل اولاد او دخپلې کورنۍ له غړو څخه یې کوو. موږ د دغو خدماتو په مقابل کې یوازې او یوازې جنت غواړو. دغه بیعت په حقیقت کې د اسلامي حکومت د بنسټ ډبره وه، چې کېښودل شوه.

هجرت

کله چې حضرت محمد ﷺ د یثرب له خلکو څخه د هر ډول مرستې ژمنه تر لاسه کړه په تعقیب یې د یثرب لور ته د مسلمانانو هجرت پیل شو. او حضرت محمد ﷺ یوه میاشت وروسته له مکې څخه د یثرب لورته هجرت وکړ. د هجرت د پیل پر مهال د حضرت محمد ﷺ کور د مشرکینو له لوری کلابند و. په همدې شپه چې حضرت محمد ﷺ وغوښتل چې له کور څخه بهر شي. حضرت علی رضی الله عنه ته یې دنده ورکړه چې د هغه په بستره کې ویده شي چې په دې ډول کفار غافل شي. حضرت





محمد ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه له ځان سره ملګری کړ او د ثور د غره غار ته لاړل. درې ورځې او درې شپې یې هلته تېرې کړې. سره له دې چې کفار د غار تر خولې پورې هم ورسېدل، خو الله تعالی خپل دغه دوه دوستان د کفارو له شر څخه وساتل. په څلورمه ورځ د واړو د یثرب په لور حرکت وکړ. له نهو ورځو شپو وروسته د ربیع الاول په اتمه نېټه د دوشنبې په ورځ قبا ته چې د یثرب په دوه میلۍ کې پروت دی ورسېدل. په دغه ځای کې یې د لومړني جومات بنسټ کېښود. بیا یثرب ته وخوځېدل.

حضرت نبي کریم ﷺ د بني سالم بن عوف په سیمه کې د جمعې لومړنی لمونځ وکړ او د یوې وینا په لړ کې یې مسلمانان خپلو اصلي دندو ته متوجه کړل او داسې یې وفرمایل: اصلي حاکمیت الله تعالی پورې اړه لري یوازې د هغه عبادت وکړئ او له هغه سره شریک مه راوړئ. خپله حقیقي لارښوونه د الله تعالی کتاب یعنې قران او د هغه د پیغمبر سنت ویولئ او هغه په ځان حاکم کړئ. د الله ﷻ د ښمنان خپل د ښمنان وګڼئ او د دین د غلبې په موخه په جهاد منګولې ولګوئ. ستاسو اسلامي نوم مسلمان دی او تاسو ټول مسلمانان او د یوې ټولنې افراد یاستئ چې د اسلامي امت په نامه یادېږئ. له دې وروسته د مهاجرینو او انصارو تر منځ د وروروليۍ ټرون رامنځته. او د اسلام د مبارک دین له برکته د اوس او خزرج د قبیلو لس کلنې جګړې له منځه ولاړې او په وروروليۍ بدلې شوې.

نسبي، سیمه ییز او توکمیز امتیازات له منځه ولاړل. پر ځای یې تقوی او ښه عمل د برترۍ معیار وګرځېد. او د یوه ۵۲ ماده ییز منشور په لړ کې عملاً د یوه اسلامي حکومت بنسټ کېښودل شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د عقبې د لومړي ټرون او دویمه ډله دې یثرب ته د مسلمانانو د هجرت په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د عقبې لومړي ټرون کوم موضوعات درلودل؟

۲- د عقبې دویم ټرون په کوم کال را منځته شو؟

۳- حضرت محمد ﷺ د جمعې لومړنی لمونځ چېرته اداکړ؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې مدینې ته د حضرت محمد ﷺ د هجرت په اړه د خپلې سېمې له پوهانو څخه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

غزاګانې

په دې لوست کې د غزاګانو، د هغو د پېښېدو د لاملونو او پایلو په اړه معلومات وړاندې کېږي.

وروسته له هغه چې پیغمبر ﷺ او مسلمانان په مدینه منوره کې ځای په ځای شول. او د لومړني اسلامي دولت پښې ټینګې شوې. د اسلام د دښمنانو مخامخ دښمنۍ هم پیل شوې چې په پایله کې یې د مسلمانانو او کفارو تر منځ غزوې پیل شوې.

مؤرخین او سیرت لیکوونکي هره هغه جګړه چې د مسلمانانو او کفارو تر منځ شوې وي او په هغه کې د الله تعالی رسول ګډون کړی وي د غزوې په نامه او هره هغه جګړه چې پیغمبر ﷺ پکې ګډون نه وي کړی د سریې په نامه یادوي.

په مدینه کې د اسلامي حکومت تاسیس، کفار په عمومي توګه او د مکې مشرکین په ځانګړې توګه له ویرووونکي حالت سره مخامخ کړل او د دې په لټه کې شول چې په هرې ممکنې وسیلې سره د مسلمانانو د پرمختګ مخه ونیسي. مسلمانان هم پوهېدل که چېرې جهاد ونه کړي له زوال سره مخامخ کېږي، نو ځکه دوی هم د الله ﷻ له امر سره سم دفاعي تیاری نیوه او په غزاګانو یې پیل وکړ چې له مهمو څخه یې په لاندې ډول یادونه کېږي.

ستاسو د زیاتو معلوماتو لپاره

حضرت محمد ﷺ د هجرت په لومړي کال په مدینې کې د ځای په ځای کېدو وروسته د ژوندانه د چارو د تنظیم په موخه د بېلا بېلو قبایلو تر منځ یو ترون لاسلیک کړ چې په تاریخ کې د مدینې د منشور په نامه یادېږي. دغه ترون انسانیت او ټولنیز عدالت ته د احترام څرګندونه کوي چې ځینې مواد یې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

۱- له تفرقې پرته د اسلامي امت یووالی.
۲- په انساني کرامت او حقونو کې د مسلمانانو برابري.
۳- د ګناه، تېري او یرغل د پای ته ر سولو په موخه له مسلمان امت سره همکاري.
٤- د اسلامي دولت له باغیانو سره جګړه او له هغوی سره له همکارۍ څخه ډډه.
٥- په غیر مسلمانانو لازمه ده چې د اسلامي دولت په لګښتونو کې برخه واخلي.
٦- په غیر مسلمانانو لازمه ده چې د بهرنیو خطراتو د له منځته وړلو لپاره د جګړې په حالت کې له مسلمانانو سره مرسته وکړي.
۷- په اسلامي دولت لازمه ده چې په غیر مسلمانانو باندې د ظلم او تېري مخه ونیسي دا کار د هغو مسلمانانو په وړاندې، چې تېری پرې کېږی، هم عملي کېږي.
۸- د ګنهکار او ظالم ملاتړ نه کېږي.
۹- د همکارۍ، پرهېزګارۍ او ښو کړنو پر بنسټ ټولنه رامنځته کېږي، نه د ګناه او یرغل پر بنسټ.
۱۰- هیڅوک د بل چا په ګناه نه نېول کېږي او حدود یوازې په جنایتکار باندې پلي کېږي.

د بدر غزا

دا غزا د هجرت په دويم کال د روژې د مياشتې په اوولسمه نېټه پېښه شوه. لامل يې دا و چې مسلمانانو غوښتل د قريشو سوداګريز کاروان، چې له شام څخه د مکې لور ته روان و، تر لاسه کړي. پيغمبر ﷺ د جګړې اراده نه درلوده، خو د کاروان مشر ابوسفيان قريشو ته پيغام ولېږه چې د هغه کاروان د مسلمانانو له تعرض څخه وساتي، نو له دې امله زر تنه قريش چې شپږ سوو تنو يې زغرې په غاړه درلودې له سلو آسونو چې سورويې هم زرې لباس درلود او اويا اوښانو سره جګړې ته تيار شول. سيرت ليکوونکي په يوه خوله دي چې: دغه لښکر سره خوش آوازه کنيزانو او ساز يانو چې دريايي وهلې هم ملګرتيا کوله. د مسلمانانو شمېر ۳۱۳ تنو ته رسيده چې زياتره يې انصار وو دغه لښکر سره دوه يا دري اسونه او اويا اوښان هم وو چې په نوبت سره مسلمانان پرې سورېدل. که څه هم لږ وخت وروسته د قريشو مشرکينو اطلاع تر لاسه کړه چې کاروان ژغورل شوی، خو سره له دې يې هم جګړې ته مخه کړه او په غرور او تکبر سره يې وويل غواړو مسلمانانو ته سزا ورکړو او مغلوب يې کړو. کله چې د واړه لښکر يې له يوبل سره مخامخ شوې د خدای رسول مخکې له دې چې جګړې ته داخل شي، و غوښتل له خپلو يارانو، په تېره له انصارو څخه، مشوره وغواړي. ټولو مهاجرينو د غزا مشوره ورکړه. کله چې انصار وپوهېدل چې پيغمبر زمونږ نظر غواړي. سعد بن معاذ د انصارو په استازيتوب وويل: ای رسول الله مونږ په تا ايمان راوړ او د ستا نبوت مو تصديق کړ او شاهدې مو ورکړه څه شی چې تا راوړي حق دي. ستا د فرامينو د اطاعت ژمنه موکړې. ای د خدای رسوله په هغه څه چې غواړې په لور يې حرکت وکړه. مونږ ټول له تا سره يو. نورو هم د سعد په څېر خبرې وکړې. دغو خبرو په پيغمبر ﷺ کې بې کچه خوښي رامنځته کړه او ويې ويل: د الهي برکت په پناه سره حرکت وکړئ. په تاسو دې زېرې وي چې الله تعالی له دغو دوو څخه ديوې ژمنه را سره کړې يا کاروان او يا د قريشو په جنګي ځواکونو بريا چې د کاروان د نجات لپاره راغلي دي په دې دوو جګړه ونښته. په دې غزا کې د ابوجهل او ځينو نورو مشرانو په ګډون د مشرکانو اويا تنه ووژل شول. اويا تنه نور اسيران شول.



پيغمبر ﷺ امر وکړ چې وژل شوي خبنې کړئ او مدينې ته ستانه شئ او له خپلو يارانو سره يې د اسيرانو د برخليک په اړه مشوره وکړه.

د احد غزا

دا غزا د هجرت په دريم کال پېښه شوه. قريشو د بدر غزا د انتقام په موخه درې زره تنه، چې په زرې جامو سمبال وو، له دوو سوو آسونو او درې زره اوښانو سره د جګړې لپاره چمتو کړل او په مدينه کې د احد د غره په سيمه کې جګړې ته تيار شول. حضرت محمدص د جګړې نقشه داسې جوړه کړه چې د اسلامې لښکر شا د احد غره ته او مخه يې د دښمن لورته وي. حضرت عبدالله بن جبير رضي الله عنه ته يې دنده ورکړه چې له پنځوسو تنو غشي ويشتونکو سره د غره له لورې چې د جبل الرماة په نامه يې شهرت درلود، د مسلمانانو ساتنه وکړي او د بريالیتوب او يا ماتې په صورت کې هم دغه ځای پرې نږدي. حضرت محمد ﷺ د سپارو قوماندانې حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه ته او د پلیو قومندانې حضرت حمزه (رض) ته وسپارله او حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه يې بيرغچي په توګه وټاکه. جګړه ونښته چې په پايله کې يې کفارو ماتې وخوړه او تېښتې ته يې مخه کړه. مسلمانان د غنيمتونو په راغونډولو بوخت شول. د احد په غره کې د ځای پرځای شويو ځخه هم زياتره راغلل چې له دغو غنايمو ځخه بې برخې نشي. خالد چې د احد غر خالي وليد، له هماغې لارې له خپلو سپارو جنګيالیو سره راغی. حضرت عبدالله بن جبير رضي الله عنه او څو تنه نور يې چې ورسره پاتې وو په شهادت ورسول او د شا له لورې يې پر مسلمانانو چې پر غنيمتونو بوخت وو يرغل وکړ. او مشرکين په دې بريالی شول چې ځانونه حضرت محمد ﷺ ته ورسوي. د هغو له خوا ډبرې ويشتل کېدې چې له امله يې د حضرت محمد ﷺ مخ ټپيی شو او مبارک غاښ يې په شهادت ورسېد او د حضرت حمزه رضي الله عنه په شمول اويا تنه مسلمانان په شهادت ورسېدل. په دې غزوه کې د مسلمانانو شمېر ۷۰۰ تنه وو.



د احد غر

د بني نضير غزا

بني نضير يوه يهودي قبيله وه چې مدينې ته نژدې اوسېدله او د خزرج له قبيلې سره يې ټرون درلود. له مسلمانانو سره يې د سولې ټرون کړی و، خو له دې امله چې خيانت او شرارت د يهوديانو له برخليک سره يو ځای دی او د دوی په زړونو کې ريښې لري، هغوی يې پری نښودل چې په خپلې ژمنې وفا وکړي.

یوه ورځ د خدای جل جلاله پیغمبر او څو تنه یاران یې په بني نضیر کې وو. پیغمبرﷺ د یوه کور دیوال ته ډډه لګولې وه. یهودیانو د هغه د وژلو دسیسه جوړه کړه او غوښتل یې چې د کوټې له بام څخه یوه لویه ډبره په هغه ور وغورځوي او د پیغمبرﷺ ژوند پای ته ورسوي، پیغمبرﷺ د وحي له لارې د هغو په دسیسې پوه شو، په چټکۍ سره له خپل ځای څخه پورته شو او د ښمن ته یې داسې وښوده چې کوم کارته ځي. د مدینې په لور روان شو او یاران یې هم ورپسې ورغلل. له دې وروسته پیغمبرﷺ، محمد بن مسلمه له داسې پیغام سره بني نضیر ته ولېږه:

له هېواد څخه مې وځئ. تاسو نشئ کولای چې له ما سره په مدینه کې و اوسېږئ، ځکه تاسو خیانت وکړ او په ژمنه ونه درېدئ.

محمدبن مسلمه د پیغمبرﷺ د فرمان له ابلاغېدو وروسته هغو ته لس ورځې وخت ورکړ چې په دغه وخت کې سیمه پرېږدي.

بني نضیر د پیغمبرﷺ د اخطار په اورېدلو سره د سېمې پرېښودلو ته تیار شو، خو د منافقانو مشر عبدالله بن ابي ورته پیغام ورولېږه چې سیمه پرې نږدي او له دې سربیره یې وعده ورکړه چې دوه زره تنه به د هغو د دفاع او مرستې لپاره هم ورولېږي.

بنی نضیر ددغه پیغام په اورېدلو سره له خپلې پریکړې څخه واوښتل، خپل سنګرونه یې کلک، د خپلې سېمې له پرېښودو څخه یې ډډه وکړه او د خدای رسولﷺ ته یې پیغام ولېږه چې خپله سېمه نه پرېږدي.

حضرت محمدﷺ له خپلو یو شمیر یارانو سره د بني نضیر په لور حرکت وکړ او غزوه پېښه شوه چې په پایله کې یې بني نضیر ماتې وخوړه او د ځانګړو شرایطو لاندې چې حضرت محمدﷺ د هغو لپاره وضع کړي وو، سېمه یې پرېښوده.


د خندق غزوه

یهود بني نضیر چې د ټرون له سرغړونې له امله د مدینې څخه ایستل شوي او په خیبر کې ځای شوي وو، له مسلمانانو سره ډیره کینه درلوده. له دې امله چې مسلمانانو سره یې د جګړې وړتیا نه درلوده، خپل مشر حیی بن اخطب یې مکې ته ولېږه چې د مکې کفار او د غلطفان قبیله د مسلمانانو په وړاندې جګړې ته وهڅوي هغوی په خپل کار کې بریالي شول. د هجرت په پنځم کال د ذوالقعدې په میاشت کې لس زره تنه د ابوسفیان په مشرۍ د مدینې په لور په حرکت کې شول. حضرت محمدﷺ په مدینه منوره کې د حضرت سلمان فارسيرضی الله عنه په مشورې د ۱۲ زره زراع (ګزو) په اوږدوالي د خندق په کیندلو پیل وکړ. په خپله حضرت محمدﷺ د خندق په کیندلو کې برخه واخېسته. کله چې د مکې کفار مدینې ته ورسېدل، د خندق د کیندلو کار بشپړ شوی و. د مسلمانانو لپاره له یوې خوا خندق او له

نورو لورو د خرماوو باغونه ښه سنګرونه وو چې د کفارو د يرغل خنډ ګرځېدل، خو يهود بني قريظه له مسلمانانو سره تړون درلود او کولای يې نشوای چې د مسلمانانو په ضد عمل وکړي، خو حيی بن اخطب په پای کې په دې بريالی شو چی د بني قريظه مشر، کعب بن اسد وهڅوي چې له مسلمانانو سره خپل تړون له منځه يوسی. دغه کار د مسلمانانو د پريشانۍ لامل شو. په همدې وخت کې حضرت نعيم بن مسعود رضي الله عنه د اسلام په دين مشرف شو. کفار د هغه له مسلمانېدو خبرنه وو. هغه له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اجازه واخېسته چې له رواني جګړې څخه په استفادې سره کفار متفرق کړي. نوموړی بني قريظه ته ورغی او ورته يې وويل!

که چيرې قريش ماتې وخوري مکې ته ځي، تاسې به چيرته لاړشئ؟ بيا يې د نصيحت په ډول ورته وويل څو تنه د قريشو يرغمل ونيسئ، چی تاسو يوازې پرې نږدي. وروسته د مکې مشرکين او بني غطفان ته ورغلل او ورته يې وويل چې بني قريظه له خپل تعهد څخه چی تاسو سره يې کړی و، پښيمانه شوي.

حضرت محمد صلی الله عليه وسلم سره يې ليده کاته کړي او غواړي چې ستاسو څو تنه تر لاسه کړي او هغه ته يې وسپاري. لنډه دا چې بني قريظې د شنبې د ورځې په مناسبت جګړه ونه کړه او له قريشو څخه يې څو تنه د يرغملو په توګه وغوښتل چی د هغو په وفاداری ډاډمن شي. د حضرت نعيم رضي الله عنه خبرې په دې اړه ډېری ښې تمامې شوې. د بني قريظه له لوري د يرغملو غوښتنې، د قريشو او غطفانيانو بدګومانې ډيره کړه او د هغو دغه عمل د مکې مشرکين ناهيلي کړل. په همدی مهال د خدای جل جلاله په امر يو شديد طوفان چې خاورې او وړې شګې ورسره وی پيل شو. دغه طوفان دومره شديد و چې د مشرکينو او کافرانو، ديګونه، خيمې او ټول شيان يې چپه کړل. دغې پېښې کفار سخت وارخطا کړل. په پای کې ابوسفيان حکم وکړ چې لښکر دغه ځای کې پرېږدي او مکې ته ستانه شي په دې ډول بری د مسلمانانو په برخه شو.



د بني قريظه غزا

د ا غزا د خندق (احزابو) د غزا په تعقيب په پنځم هجري کال کې پېښه شوې ده: وروسته له هغه چې حضرت محمد ﷺ د يهوديانو خيانت او له قريشو او نورو سره د هغو پيوستون وليده او آن د احزابو په جګړه کې دغې خاينې قبيلې له پيغمبر ﷺ سره خپل تړون مات کړ. له دې امله چې دغه خاينه قبيله له رسول اکرم ﷺ سره په مدينه منوره کې اوسېده، نو له هغو څخه د لوی شر انتظار کېده. که چېرې داحزابو غزا پای ته نه وای رسيدلې د هغو له لورې مسلمانان له لوی ګواښ سره مخامخ کېدل. هماغه و چې پيغمبر ﷺ هوډ وکړ چې دغه خاينان وټکوي او د جهاد او دعوت مرکز، مدينه منوره د هغو له شتون څخه پاکه کړي ترڅو په راتلونکې کې داسې شرايط پيدانشي چې هغوی په مسلمانانو يرغل وکړي.

حضرت محمد ﷺ د الله تعالی له حکم سره سم له دريې زره کسيزه لښکر سره د بني قريظه په لور حرکت وکړ او پنځه ويشت ورځې يې هغوی په کلابندۍ کې وساتل چې په پايله کې يهوديان تسليم شول. حضرت محمد ﷺ د هغوی په منځ کې سعد بن معاذ د حاکم په توګه وټاکه. حضرت سعد د بني قريظه په اړه خپله پريکړه صادره کړه.

پيغمبر ﷺ د سعد بن معاذ پريکړې ته عملي بڼه ورکړه او د يهوديانو د سيسې يې، چې موخه يې د پيغمبر ﷺ او په مدينه کې د اسلامي دعوت له منځه وړل وو، پای ته ورسولې.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په درېو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د بدر غزا، دويمه ډله دې د احد او بني نضير د غزاګانو او دريمه ډله دې د خندق او بني قريظې د غزاګانو په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د بدر په غزا کې څو تنه کفار ووژل شول؟

۲- د احد د غزا لامل روښانه کړئ.

۳- د خندق په غزا کې د کفارو د ماتې لامل څه و؟ په لنډه توګه يې تشريح کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د احزابو، بني نضير او بني قريظه د غزاګانو د پايلو په اړه له منابعو، د مسجد له امامانو او پوهانو څخه معلومات ترلاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د حدیبیې سوله- بیعت الرضوان

په دې لوست کې به د حدیبیې د سولې او د هغې د موادو او هم د خیبر او موته د غزاګانو په اړه معلومات وړاندې شي.

حضرت محمد ﷺ د هجرت په شپږم کال د بیت الله د زیارت او د عمرې د ادا کولو په موخه له (۱٤۰۰) تنو سره د مکې په لور روان شو. مکې ته نژدې قریشو د مسلمانانو لاره نیولې وه او پرې یې نښودل چې عمره وکړي. پیغمبر ﷺ، حضرت عثمان رضي الله عنه چې د مکې قبیلوته د درناوي وړ شخص و، د استازي په توګه د مکې خلکوته ورولېږه ترڅو هغوی وپوهوي چې مسلمانان د جګړې لپاره نه، بلکې د عمرې د ادا کولو لپاره راغلي دي. قریشو له ټاکلي وخت څخه د ډېر وخت لپاره حضرت عثمان رضي الله عنه وساته. له دې امله داسې آوازه خپره شوه چې حضرت عثمان رضي الله عنه یې په شهادت رسولی دی. دې موضوع پیغمبر ﷺ وهڅاوه چې له قریشو سره د جګړې لپاره ځان چمتو کړي. په همدې اساس حضرت محمد ﷺ په داسې حال کې چې په حدیبیه کې تر یوې ونې لاندې ولاړ و، د جګړې په اړه له مسلمانانو څخه بیعت واخیست. دغه بیعت په تاریخ کې د بیعت الرضوان په نامه یادېږي. کله چې کفار د مسلمانانو له دې پریکړې څخه خبر شول د مکې مشرکینو سهیل بن عمرو د یوه پلاوي په مشرۍ پیغمبر ﷺ ته ورولېږه. خبرې اترې پیل شوې او دواړه اړخونه په یو ترون سلا شول چې په لاندې ډول دی:

۱- دواړه اړخونه باید د لسو کالو لپاره سوله وکړي او له یو بل سره جګړه ونه کړي.

۲- حضرت محمد ﷺ دې له خپلو اصحابو سره سږ کال بېرته وګرځي، حج دې نه کوي. راتلونکی کال دې راشي او هغه هم په داسې حال کې چې له توري پرته ورسره بل شی نه وي او هغه هم په تیکې کې وي.

۳- له قریشو پرته د عربو هره قبیله له حضرت رسول اکرم ﷺ سره د اړیکو د ټینګولو اختیار لري.

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا(١)

٤- كه چېرې له قريشو څخه مسلمانانو ته چاپناه وروړه، مسلمانان بايد هغه بېرته ورته وسپاري. خو كه چېرې له مسلمانانو څخه د مكې كفارو ته چا پناه وروړه، حضرت محمد ﷺ يې د غوښتنې حق نه لري.

دغه سوله د حديبيې په مقام كې وشوه، چې په قرآن كريم كې د فتح مبين په نامه يادە شوې. ددغه ټرون يوه مهمه ګټه دا وه چې مسلمانان د قريشو له لوري په امن كې شول او وخت يې ترلاسه كړ چې خپل پام ټولو عربي قبايلو ته واړوي.

د حديبيې له سولې وروسته حضرت محمد ﷺ د اصحابو په واسطه د روم قيصر، د ايران شاه، د مصر عزيز مقوقش، د حبشې پاچا نجاشي او ديمامه او شام مشرانو ته بلنليكونه ولېږل او هغوی يې د اسلام مبارك دين ته راوبلل. په پايله كې د حبشې، عمان او بحرين پاچاهانو دغه دعوت ومانه، خو د ايران پاچا (خسرو پرويز) ليك څېړې كړ. ځينو يې چوپتيا اختيار كړه، خو حارث غساني نه يوازې دعوت ونه مانه. بلكې د حضرت رسول اكرم ﷺ استازی شجاع بن وهب يې هم په شهادت ورساوه چې همدغه غير انساني حركت د موته د جګړې لامل وګرځېد.

د خيبر غزا



د اووم هجري کال د محرم په مياشت کې وروسته له هغه چې حضرت محمد ﷺ د مکې د کفارو له لوري ډاډمن شو، ويې غوښتل ترون ماتوونکو ته سزا ورکړي. له دې امله يې يو لښکر چمتو کړ او د شپې له خوا يې له لښکر سره ځان رجيع ته ورساوه. کله چې سهار شو يهوديان خپلو کارونو ته تلل او مسلمانان خيبر ته ورسېدل. يهوديانو چې مسلمانان ولېدل تېښته يې وکړه او خپلو کلاګانو ته يې پناه يووړه: غطفانيانو غوښتل چې له هغو سره مرسته وکړي، خو ويې لېدل چې د رجيع دره د مسلمانانو په ولکه کې ده او خيبر ته د رسېدو بله لار هم نشته، نو له خپلې پرېکړې څخه تېر شول. د خيبر کلاګاني د مسلمانانو، په تېره بيا د حضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه د سرښندنو او هڅو په پايله کې فتح شوې. په پايله کې د خيبر يهوديان تسليم شول. د خيبر له غزا څخه د حضرت محمد ﷺ د ښرته ستنېدو په بهير کې د قريشو دوه تنه مشران او اتلان خالدبن وليد او عمروبن عاص پيغمبر ﷺ ته راغلل او د اسلام د منلو اعلان يې وکړ.

د موتې غزا

غسانيانو د حضرت محمد ﷺ استازی وژلی و او له بل لوري ددې وخت را رسېدلی و چې هغوی يو ځل بيا د اسلام مبارک دين ته راوبلل شي. له دې امله حضرت محمد ﷺ د هجرت په اتم کال د

هغوی د ځپلو په موخه درې زره کسیز لښکر د حضرت زید بن حارث رضي الله عنه په مشرۍ ولېږه او ورته یې وویل که چېرې حضرت زید رضي الله عنه شهید شو، حضرت جعفر رضي الله عنه دې د لښکر مشري په غاړه واخلي او که هغه هم شهید شو بیادې حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه د لښکر مشري په غاړه واخلي. کله چې مسلمانان د شام هېواد، د موته په سیمه کې د اعرابو او رومیانو له ګډ لښکر سره مخامخ شول، جګړه پیل شوه. د اسلامي لښکر قوماندانان یو په بل پسې په شهادت ورسېدل. په پای کې اسلامي لښکر سیف الله یعنی خالد بن ولید رضي الله عنه د خپل قوماندان په توګه وټاکه. هغه خپل تیت او پرک لښکر یو ځل بیا را غونډ او منظم کړ.

تر دوو ورځو سختو جګړو وروسته یې د غره لمنې ته پناه یووړه او دښمن هم له جګړې څخه لاس واخیست. په پای کې د اسلام لښکر مدینې ته ستون شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د حدیبیې د سولې او دویمه ډله دې د خیبر دغزا په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- بیعت الرضوان څه مفهوم لري؟ معلومات ورکړئ.

۲- د حدیبیې له سولې وروسته حضرت محمد ﷺ کوم پاچاهان د اسلام دین ته راوبلل؟


۳- د موته د غزا لامل څه و؟ بیان یې کړي.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د حدیبیې د سولې د ګټو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د مکې مکرمې فتح

په دې لوست کې به د مکې د فتحې، د حنين د غزوې د منځته راتلو د څرنګوالي، حجة الوداع او د حضرت محمد ﷺ د رحلت په اړه معلومات ورانديږي.



مکه معظمه

د مکې خلکو د هغه تړون له مخې، چې د هجرت په شپږم کال يې له مسلمانانو سره ترلې و او د هغې له مخې يې ښايي د خزاعې له قبيلې سره چې د مسلمانانو سره يې تړون کړی و جګړه نه وای کړې او مسلمانانو هم بايد د مکې خلک او د هغو تړون کوونکو ته مزاحمت نه کولای، خو بني بکر، د قريشو په مرسته د بني خزاعه څو تنه وګړي ووژل. له همدې امله بني خزاعه له مسلمانانو څخه د مرستې او ملاتړ غوښتونکي شول. نو حضرت رسول اکرم ﷺ پوه شو چې قريشو د سولې تړون مات کړی. په دې توګه لس زره کسيزه لښکر يې چمتو او د مکې په لوري يې حرکت وکړ.

کله چې د مکې خلک له دې پېښې څخه خبرشول، سخت وارخطا شول، ابوسفيان او د قريشو زياتره مشران حضرت محمد ﷺ ته تسليم شول. حضرت محمد ﷺ پر هغوی مهرباني وکړه او هغوی يې تر خپل حمايت لاندې ونيول. سربېره پردې داسې امتيازات يې ابوسفيان او نورو ته ورکړل چې اصلاً هغوی يې فکر هم نه کاوه، حضرت محمد ﷺ وفرمايل: ((هر څوک چې کعبې شريفې ته او يا د ابوسفيان کورته پناه يوسي او يا په خپلو کورو کې پاتې شي او خپلې دروازې له شا څخه وتړي په امن کې دي.)) په دې لړکې کومه مهمه جګړه پېښه نه شوه. پيغمبر ﷺ مکې ته له ننوتلو وروسته،

لومړی طواف وکړ او بیا یې د مکې د شاوخوا درې سوه او شپیته بتان له منځه یووړل وروسته کعبې شریفې ته ننوت او دوه رکعته لمونځ یې اداکړ. له لمانځه څخه وروسته د کعبې شریفې په دروازه کې ودریدل. قریش منتظر وو چې پیغمبر ﷺ څه کوي؟ د هغه د خبرو له جملې څخه چې د خدای ﷻ رسول وکړې یوه یې داوه: ((اې قریشو! تاسو څه ګمان کوئ چې زه به ستاسو په وړاندې څه وکړم؟)) قریشو وویل:

((یوازې خیر او ښېګڼه، ته مهربان ورور او مهربان وراره یې)) رسول الله ﷺ وفرمایل:

زه نن هغه څه چې تاسو ته وایم، یوسف علیه السلام یخوا خپلو وروڼو ته ویلي وو.

نن تاسو ته سزا نشته ځئ، ټول آزاد یاست وروسته له دې اعلانه د مکې خلکو ته داسې خوښې ورپه برخه شوه لکه چې اوس نوي زیږیدلي وي.

وروسته خلک په صفا کې را ټول شول چې پیغمبر ﷺ ته بیعت وکړي.

رسول الله ﷺ د صفا په غره کې کښېناست او د هغوی بیعت یې د الهي فرامینو څخه د اطاعت په بنسټ ومانه.

د حنین غزوه

د مکې له فتحې وروسته، حضرت محمد ﷺ د مسلمانانو پورې د اړوندو چارو د ترتیب او تنظیم په موخه ۱۵ ورځې په مکه کې پاتې شو. په همدې مهال خبر ورسېد چې د هوازن قبیله د مالک بن عوف په مشرۍ د ثقیف د قبیلې په مرسته جګړې ته چمتو ده.



خپلې ښځې، ماشومان او مالونه یې هم د جګړې میدان ته راوړي دي، تر څو د هغوی شتون د جګړې انګېزه په دوی کې پیاوړې کړي او ماته و نه مني. حضرت محمد ﷺ له ۱۲ زره تنو اصحابو سره چې دوه زره تنه یې نوي د اسلام په مبین دین مشرف شوي وو، د هغوی د له منځه وړلو په موخه ورغی.

کله چې دا لښکر د حنین تنګي ته

ورسېد، دښمن په کمين کې ناست و. د هوازن جګړه مارانو ناڅاپه پر مسلمانانو يرغل وکړ. مسلمانان ددې يو ناڅاپي يرغل له امله له ماتې سره مخامخ شول، حضرت محمد ﷺ چې د لښکر تر شاه تشريف درلوده حضرت عباس رضي الله عنه ته وويل چې په لوړ غږ مسلمانان جهاد ته راوبولي. د دې غږ د اورېدو له امله مسلمانان يو ځل بيا سره را ټول شول او په کفارو يې يرغل وکړ، چې له امله يې په دې وخت کې دښمن خپلې ښځې، مالونه او اولادونه ځای پرځای پريښودل او خپله تښتې ته اړشول او خپلې پښې يې سپکې کړې. مالک د هوازن د قبيلې مشر طايف ته وتښتېد. طايف هم د مسلمانانو له خوا کلابند شو او وروسته له څه مودې پيغمبر ﷺ د کلابندۍ له دوام څخه لاس واخيست او مکې ته ستون شو. له څه مودې څخه وروسته د هوازن خلکو د مخالفت څخه لاس واخيست او پيغمبر ﷺ ته تسليم شول او ايمان يې راوړ. پيغمبر ﷺ هم هغه ټول غنيمتونه چې د حنين په جګړه کې يې له هغوی څخه لاس ته راوړي وو، بېرته ورکړل.

د تبوک غزوه

د هجرت په نهم کال کې پيغمبر ﷺ ته اطلاع ورسېده چې د روم امپراتورۍ خوسوه زره کسيزه لښکر د نوي جوړ شوي اسلامي دولت د له منځه وړلو په موخه د جګړې لپاره چمتو کړی دی، ځکه د هجرت په نهم کال د رجب په مياشت کې يې ۳۰ زره کسيز لښکر د حضرت رسول اکرم ﷺ په مشرۍ د تبوک په لور روان شو. کله چې دغه لښکر تبوک ته ورسېد، رومیان ووېرېدل د مقابلې جرات يې په ځان کې ونه ليده او هر لوري ته خپاره شول.

د اسلام لښکر په تبوک کې شل ورځې تېرې کړې. له دې امله چې دښمن جګړې ته حاضر نه شو، اسلامي لښکر بېرته مدينې ته بريالی ستون شو.

حجةالوداع

د لسم هجري کال د ذوالقعدة الحرام په ۲۵ مې نيټې د دوشنبې په ورځ د ماسپښين تر لمانځه وروسته د حج د مراسمو د ادا کولو په موخه حضرت محمد ﷺ له اصحابو سره، چې شمېر يې له سل زره تنو څخه ډېر وه، د مکې مکرمې په لور روان شو. ددغه سفر لومړۍ شپه يې په ذوالحليفه کې تېره کړه. د ورځې يې احرامونه وترل. له اتو ورځو سفر وروسته مکې مکرمې ته ورسېدل. د الله تعالی د کور

طواف او د صفا او مروه مراسم يې پای ته ورسول او د مکې په لوړه، حجون ته نژدې ځای په ځای شول او د ذوالحجې په اتمه ورځ يې منا ته سفر پيل کړ.

شپه يې هلته تېره کړه او د ذوالحجې په نهمه ورځ له لمر ختلو وروسته د عرفات په لور روان شول.

په دغه ځای کې حضرت رسول الله ﷺ داسې هر اړخيزه او ارزښتناکه وينا وکړه چې مؤرخين يې ترټولو غوره نړيوال او اسلامي اساسي قانون بولي. ددغې وينا ځينې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

- اې خلکو خبرې واورئ او له هغو څخه اطاعت وکړئ. ښايي په دې بريالی نشم چې راتلونکی کال له تاسو سره و اوسم.

- د يو بل د مال خوړل او د وينې تويول پرتاسو حرام دي

- د جاهليت د مهال ټولې چارې منع دي

- د ښځو په اړه له خدای ﷻ څخه ووېرېږئ. ښځې پرتاسو او تاسو په ښځو حقونه لرئ

- هغه څه چې ما تاسوته پرېښې، که پر هغو منګولې ولګوئ هيڅ وخت به ګمراه نشئ او هغه د الله تعالی له کتاب او زما د سنتو څخه عبارت دي

- يوازې او يوازې د يوه الله تعالی عبادت وکړئ. پنځه وخته لمونځ وکړئ. روژه ونيسئ او په خوښۍ سره د خپلو مالونو ذکات ورکړئ. د بيت الله حج وکړئ او د او لوالامر اطاعت وکړئ او جنت ته داخل شئ.

- زما په اړه به له تاسو څخه پوښتنه وشي او ستاسو ځواب به زما په اړه څه وي؟ اصحابو وويل:

مونږ ګواهي ورکوو چې تاسو مونږ ته الهي احکام راورسول، زمونږ خير مو وغوښته، هغه مو ولټاوه او حق مو ادا کړ.

بيا يې وفرمايل:

((اې زما پاکه خدايه! تاسو شاهد و اوسئ))

په لسمه ورځ يې په مناکې د يوې وينا په لړکې وفرمايل: ((آيا ما د الله تعالی احکام تاسو ته ورسول؟)) اصحابو وويل: هو: حضرت رسول اکرم ﷺ وفرمايل:

((اې لويه خدايه شاهد ووسئ))

او بيا يې زياته کړه: ((حاضر خلک دې دغه خبرې غايبو خلکو ته ورسوي.))د ذوالحجې په ۱۳ نېټه يې له منا څخه بيت الله ته تشريف راوړ او له طواف او خدای پامانۍ وروسته د مدينې لور ته روان شو.

د حضرت رسول اکرم ﷺ رحلت

حضرت نبي کريم ﷺ له حجة الوداع څخه مدينې منورې ته له راستنېدو څه مهال وروسته د سرخوږۍ په ناروغۍ اخته شو. له لږ رغېدو وروسته، په داسې حال کې چې مبارک سر يې تړلی و، جومات ته يې تشريف راوړ. لومړی يې د احد د شهيدانو په حق کې د خير او مغفرت دعا وکړه. سپارښتنه يې وکړه چې د انصارو درناوی کوئ او د هغو د ښېګڼو يادونه يې وکړه بيايې و فرمايل: ((خدای عزوجل له خپلو بنده ګانو څخه يو بنده وټاکه چې له دنيا او اخرت څخه يو غوره کړي. هغه اخرت غوره کړ. ددې خبرې په اوربدو سره حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه وژړل او ويې ويل: خپل مور او پلار له تا څخه قربانوم.)) خلکو د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په حالت تعجب وکړ چې هغه ولې ژاړي او داسې خبرې کوي، خو د حضرت محمد ﷺ له رحلت وروسته د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د خبرو فهم او زړه نرمي خلکوته څرګنده شوه چې د حضرت محمد ﷺ د خبرو مفهوم يې په چټکی سره درک کړی و. حضرت نبي کريم ﷺ وويل:



نبوي جومات

((اې ابوبکره آرام اوسه.)) حضرت محمد ﷺ خپلو خبروته ادامه ورکړه او ويې فرمايل:

((د ابوبکر له دروازې څخه پرته هغه ټولې دروازې دې، چې د مسجد په لور خلاصې وي، وتړل شي)) زياته يې کړه: ((زه نه پوهيږم چې د ابوبکر د رفاقت په نسبت پرما باندې بل څوک ډېر حق ولري او که ما کولای شوای چې د الله تعالی له بنده ګانو څخه د خليل په توګه څوک وټاکم. يقيناً دغه شخص به ابوبکر و. خو بياهم زمور ترمنځ دوستي او ورورولي ټينګه ده، تر هغه وخته چې مور ټول د لوی خدای جل جلاله په وړاندې مخکې کېږو.)) همدارنګه يې وويل: ((د خدای لعنت دې پر يهودو او نصاراو وي چې د خپلو پيغمبرانو له قبرونو يې عبادت ځايونه جوړ کړي. زما له قبر څخه بت مه جوړوئ.))

ددې ترځنګه يې وويل: ((که څوک مې وهلی وي او يا مې بده خبره ورته کړې وي، خپل غچ دې واخلي او که د چا پوروړی يم او پرما حق ولري هغه غوښتلای شي.)) له اصحابو څخه يو تن وويل:

((زه پر تاسو درې درهم پور لرم. حضرت رسول اکرم ﷺ حضرت فضل بن عباس رضي الله عنه ته امر وکړ چې دغه مبلغ ورکړي.))

له رحلت څخه څلور ورځې وړاندې په داسې حال کې چې ناروغي يې زياته شوې وه په جومات کې حاضرينو ته ووېل: ((په مناسب وخت کې دې يهود، نصارا او مشرکين له جزيرة العرب څخه وايستل شي.))

نبي کريم ﷺ د پنجشنبې ورځې تر ماښام پورې د مسلمانانو امامت ته ادامه ورکړه، خو و يې نشوای کولای چې د ماسخوتن د لمانځه لپاره جومات ته لاړشي. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته يې امر وکړ چې امامت وکړي. له همدغه ماسخوتن څخه وروسته د حضرت محمد ﷺ تر رحلت پورې حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه د ۱۷ لمونځونو امامت وکړ. حضرت محمد ﷺ له رحلت وړاندې خپل غلامان آزاد کړل، اووه دينارې چې په کور کې يې درلودل، خيرات کړل او خپله جنګي وسله يې مسلمانانو ته وروښله. حضرت رسول اکرم ﷺ د هجرت په يوولسم کال د ربيع الاول په دولسمې نيټې د دوشنبې ورځې د غرمې پرمهال د (٦٣) کالو په عمر له دې فاني نړۍ سره مخه ښه وکړه.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په درېو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د مکې د فتحې، دويمه ډله دې د حنين د غزا او دريمه ډله دې د حجة الوداع په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- مکه په کوم کال کې فتح شوه او لامل يې څه و؟

۲- د حنين غزا څرنګه پېښه شوه؟ معلومات ورکړئ

۳- حضرت محمد ﷺ په کوم کال، مياشت او ورځ رحلت وکړ؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د حضرت محمد ﷺ د شخصيت په اړه معلومات را غونډ او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

ابوبکر صدیق رضي الله عنه

په دې لوست کې به د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د نسب، خلافت ته د رسیدو د څرنګوالي او د هغه د خلافت د دورې د مهمو پېښو په اړه معلومات وړاندې شي.

د حضرت ابوبکر صدیق نوم عبدالله او د پلار نوم يې ابو قحافه او د مور نوم يې ام الخير سلما بنت ضحر و او د حضرت محمد ﷺ له لورې د صديق او عتيق لقبونه ورکړل شوي وو. له عام الفيل څخه دوه کاله او څو مياشتې وروسته يې نړۍ ته سترګې پرانيستې. نسب يې په شپږم نيکه(جد) کې له حضرت محمد ﷺ سره يو ځای کېږي. شغل يې سوداګري وه. کله چې حضرت محمد ﷺ په پيغمبرۍ مبعوث شو، په نارينه وو کې لومړنی کس و چې د اسلام په دين مشرف شو. هغه د اسلام او د فی سبيل الله جهاد په لاره کې خپله ټوله شتمني قربان کړه. د تبوک د غزا لپاره د تيارۍ پر مهال يې د خپل کور ټول مالونه نبوي جومات ته راوړل او څه يې چې درلودل هغه يې له اسلام څخه قربان کړل. د حضرت محمد ﷺ له رحلت وروسته انصار په سقيفه بني ساعده کې را غونډ شول او غوښتل يې چې حضرت سعد بن عباده رضي الله عنه د خليفه په توګه وټاکي. د دې خبرې په اورېدو سره حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رضي الله عنهما د سقيفې په لور روان شول. په لاره کې ورسره حضرت عبيده بن جراح رضي الله عنه هم ملګری شو. څنګه چې سقيفې ته ورسېدل، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د يوې وينا په وړاندې کولو انصار په دې قانع کړل چې د خلافت له دعوې څخه لاس واخلي. حضرت عمر رضي الله عنه له حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره د خليفه او د پيغمبر ﷺ د ځای ناستي په توګه بيعت وکړ. له هغه وروسته ټولو له حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره بيعت وکړ. په دې ډول د خلافت مسئله په ښه توګه حل شوه. د دغې ورځې په سبا حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په نبوي جومات کې د يوې ارزښتناکې وينا له لارې خپله کړنلاره مسلمانانو ته ابلاغ کړه او ويې ويل: «اې خلکو، زه پر تاسې خليفه شوم، په داسې حال کې چې زه له تاسو غوره نه يم، که چېرې مې ښه کارونه کول، ما

سره مرسته وکړئ او که مې بدکار کاوه منع مې کړئ. ستاسو ځواکمن زما په وړاندې کمزوری او ستاسو کمزوری زما په وړاندې ځواکمن دی، تر څو د هغه حق له ځواکمن څخه واخلم او ورته يې وسپارم. هغه قوم چې جهاد و نه کړي الله تعالی دغه قوم ذليلوي. او په هغه قوم کې چې بدکاري دود شي له بلاوو سره مخامخ کېږي)).

د پيغمبر ﷺ له رحلت سره يو شمېر افرادو، لکه مسليمه کذاب، طليحه اسدي او نورو د نبوت دعوای وکړه او ځينو خلکو بيت المال ته د زکات له ورکولو ډډه وکړه. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه اسلامي لښکر ته دنده ورکړه چې د دروغجنو پيغمبرانو او د هغو خلکو، چې د زکات ورکولو څخه يې ډډه کړې او هغه څوک چې مرتد شوي، کار يوې خوا ته کړي. دغو جګړو له يوه کال څخه ډېر دوام وکړ. تر هغه چې مسليمه کذاب او ټول مرتدين د خپلو اعمالو په سزا ورسېدل. مرتدين ووژل شول او هغه چا چې زکات نه ورکاوه اصلاح شول او زکات يې قبول کړ.

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د اسلام د مبارک دين د خپرولو په موخه د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه په مشرۍ اسلامي لښکر شام ته ولېږه او هغه هم بريالی له خپلې دندې راستون شو. د دغو جګړو په لړ کې د قران کريم ګڼ شمېر حافظان په شهادت ورسېدل. هماغه و چې د حضرت عمر رضي الله عنه په وړاندیز حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه امر وکړ قران کريم چې د پيغمبر ﷺ په مهال په جلاجلا ډول ليکل شوی و او د اصحابو په واسطه په سينو کې خوندي شوی و په يوه مصحف کې را غونډ کړي. وروسته له هغه چې د هېواد کورنی حالت سم شو، حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه يې د څلو زره کسيز لښکر په مشرۍ عراق ته ولېږه. هغه په يو کال او دوه مياشتو کې د فرات د سيند د سېمې وګړي د اسلام په دين مشرف کړل.

په داسې حال کې چې مسلمانان په بريالو بوخت وو، رومیانو له وخت څخه ګټه واخيسته او ۲۴۰ زره کسيز لښکر يې راغونډ کړ چې له مسلمانانو سره وجنګېږي. حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د

هغوی د دفعې په موخه حضرت عمرو بن عاص(رض) فلسطین ته، حضرت ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه حمص ته، حضرت یزید ابن ابي سفیان رضي الله عنه یې دمشق ته او حضرت شرحبیل بن حسنه رضي الله عنه یې اردن ته ولېږل او حضرت سیف الله خالد بن ولید رضي الله عنه ته یې امر وکړ چې عراق مثنی بن حارث ته پرېږدي او خپله شام ته لاړ شي. په دې وخت کې د حضرت خالد رضي الله عنه د عسکرو شمېر شپږ دېرش زره تنو ته رسېده. په هغه جګړه کې چې د هجرت په دیارلسم کال د یرموک د سیند په غاړه پېښه شوه، دښمن له تاریخي ماتې سره مخامخ شو او ۱۳۰زره تنه یې په قتل ورسېدل. په داسې حال کې چې د مسلمانانو له لوري یوازې درې زره تنه په شهادت ورسېدل او هر قل(هراکلیوس) نهیلی او له شام څخه وتښتېده. په دغه جګړه کې د ټولو عسکري ځواکونو اعلی قوماندان حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه و. هغه خپل لښکر په ۳۸ برخو ووېشه او په یوه وخت یې په دښمن له درېو خواوو یرغل وکړ. دغه تاکتیک دښمن دومره حیران کړ چې خپلې ټولې طرحې یې له یاده ووتې او د زمان له زغملو پرته یې هیڅ کار له واکه پوره نه و.

د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت یوه بله مهمه پېښه داوه چې د حضرت عمر رضي الله عنه په مشوره یې یو شمېر کار پوهان د زید بن ثابت په مشرۍ مکلف کړل چې قران کریم راغونډ کړي. دغه کار د دې لامل شو چې مسلمانان د قران کریم په اړه یو موټي پاتې شي.

لومړي خلیفه د خپل خلافت د دوو کلونو او درې میاشتو په دوره کې اسلام او مسلمانانو ته داسې خدمتونه او کړنې تر سره کړې چې د اسلام او نړۍ په تاریخ کې ساری نه لري او اسلامي تاریخ پرې ویاړي.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت د مهمو کارونو او دویمه ډله دې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د لومړنۍ خطبې په اړه بحث وکړي او خپل معلومات دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه څنګه خلافت ته ورسېد؟

۲- حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه څو کاله خلافت وکړ؟

۳- د حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه د مهمو کارونو نومونه واخلئ.

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د خپلې سیمې له پوهانو او علماوو څخه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه

په دې لوست کې به د حضرت عمر رضي الله عنه د نسب، شخصيت، بریاوو او د هغه د خلافت د لاسته راوړنو په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د اسلام د دویم خلیفه اصلي نوم، عمر بن خطاب او د فاروق او عادل په نومونو ملقب دی. د عام الفیل په دیارلسم کال د قریشو په یوې ښاغلې کورنۍ کې نړۍ ته راغی. په نهم نیکه کې یې د نسب لړۍ حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ته رسېږي.

د بعثت په شپږم کال د اسلام په مبارک دین مشرف شو. کله یې چې اسلام راوړ خپل مسلمانېدل یې په ښکاره اعلان کړل او هم یې د هجرت پر مهال په ښکاره اعلان وکړ چې هجرت کوي او ووایي ویل! که څوک ورسره حساب لري او یا غواړي چې زوی یې یتیم او میرمن یې بې خاونده شي، زما پسې دې راشي. حضرت عمر رضي الله عنه له حضرت محمد صلى الله عليه وسلم سره په ټولو غزواتو کې ګډون کړی او له حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره یې له هیڅ ډول مرستې څخه ځان نه دی سپمولی.

لومړي خلیفه به په ټولو کارونو کې له هغه څخه مشوره اخېستله. کله چې لومړی خلیفه ناروغ شو. له اصحابو سره له مشورې وروسته یې حضرت عمر رضي الله عنه د خپل ځای ناستي په توګه وټاکه چې د انصارو او مهاجرینو له لوري تایید شو. حضرت عثمان رضي الله عنه د هغه په اړه وویل:

((حضرت عمر رضي الله عنه سخت ګیره دی، خو زموږ په منځ کې د خلافت لپاره وړ بل څوک شتون نه لري.))

فتوحات: د مسلمانانو د دویم خلیفه د خلافت دوره یوه روښانه او له بریاوو ډکه دوره وه. د نظم، انصاف او عدل له مخې د اسلام په تاریخ کې ساری نه لري. هغه بریاوې چې د امیرالمومنین حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په لس کلنه دوره کې تر لاسه شوي، د امویانو او عباسیانو د دورې له ټولو بریاوو سره برابرې دي. د حضرت عمر رضي الله عنه فتوحات په ختیځ کې تر ترکستان او خراسان، په لویدیځ کې تر لیبیا، په سوېل کې تر سوډان او په شمال کې د شام او تور سمندرګي تر وروستیو پولو پورې رسېدل. حضرت عمر رضي الله عنه د نهاوند او قادسیې د جګړو په پایله کې د فارس امپراتوري له منځه یووړه او د فارس (اوسني ایران) خلک یې په اسلام مشرف کړل.

د قادسیې په جګړه کې د مسلمانانو غازیانو شمېر دېرش زره تنه او قوماندان یې حضرت سعد بن وقاص رضي الله عنه و. په داسې حال کې چې د فارس د لښکر شمېر ۱۵۰۰۰۰ تنو ته رسېده. دغه جګړه

په ۱۴ هجري کال کې پېښه شوه. د فارسي لښکر قومندان رستم نومېده. هغه د تېښتې پر مهال خپل ځان په اوبو کې وغورځاوه، خو د هلال بن علقمه د تورې په ګذار سره ووژل شو. دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت پر مهال د بصرې او کوفې ښارونه ودان او ډېره پراختیايي تر لاسه کړه. پلونه جوړ شول، کانالونه او نهرونه وایستل شول، منظمې عسکري قشلې رامنځته شوې، بیت المال منظم شو او اسلامي امارت د هر ولایت لپاره والي وټاکه. اداري نظام منظم شو، اداري او نظامي تشکیلات، مالي دفترونه او ځینې نورې اداري جوړې شوې. قاضیان وټاکل شول. د خراج نظام په فعالیت پیل وکړ. له زړو، ښځو او کوچنیانو څخه خراج نه اخیستل کېده. د صحابه کرامو په مشورې د حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت کې د هجرت تاریخ د مسلمانانو د تاریخ د مبداء په توګه وټاکل شو. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه له لس کلونو او پنځو میاشتو خلافت وروسته د ۲۳ هجري کال د ذوالحجه په ۲۷ نېټه د مجوسي ابو لؤلؤ له لورې په شهادت ورسېد. د هغه د خلافت دوره د بریاوو، نظم، عدل، انصاف، برابرۍ، سوکالۍ او د ژوندانه د آسانتیاوو د تامین له پلوه د اسلام په تاریخ کې یوه روښانه دوره ده.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د اسلام په خپرېدو کې د حضرت عمر رضي الله عنه د دولت د رول او دویمه ډله دې د حضرت عمر رضي الله عنه د عدل په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څه وخت د اسلام په مبارک دین مشرف شو؟

۲- حضرت عمر رضي الله عنه څنګه خلافت ته ورسېد؟

۳- حضرت عمر رضي الله عنه څه وخت او د چاله لورې په شهادت ورسېد؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې له کتابونو او همدارنګه د دیني علماوو په مرسته د حضرت عمر رضي الله عنه د ژوند او د هغه د عدالت په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

حضرت عثمان رضي الله عنه

په دې لوست کې به د حضرت عثمان رضي الله عنه د نسب، شخصیت، خلافت ته د رسېدو د څرنګوالي، بریاوو او د هغه د خلافت د مهال د پرمختګونو په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د دریم خلیفه نوم عثمان بن عفان او لقب یې ذوالنورین و. په پنځم نیکه کې یې نسب حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته رسېده. له عام الفیل څخه پنځه کاله وروسته په مکه کې په یوې درنې کورنۍ کې نړۍ ته راغی. د ځوانۍ له وخته په سوداګرۍ بوخت و. د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په دعوت سره د اسلام په دین مشرف شو. حضرت عثمان رضي الله عنه یو نرم خویه، حلیم او پرهېزګاره شخص و. د اسلام د دین د پراختیا په لاره کې یې د خپلې شخصي شتمنۍ لویه برخه صدقه کړه. د بدر له غزا پرته په ټولو غزاګانو کې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره ملګری و. د وحې کاتب و. کله چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د ابو لؤلؤ له لوري ټپي شو، مخکې له دې چې له بدن څخه یې روح جدا شي، د خلیفه د ټاکنې په موخه یې اووه تنه لوی صحابه، هر یو حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه، علي بن ابي طالب رضي الله عنه، طلحه بن عبیدالله، زبیر بن عوام رضي الله عنه، سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه، عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه وټاکل او زیاته یې کړه چې عبدالله بن عمر د رای حق لري، خو د ځان د کاندید ولو حق نه لري. له دري ورځو خبرو اترو وروسته په پای کې د رایو په اکثریت سره حضرت عثمان رضي الله عنه د مسلمانانو د خلیفه په توګه وټاکل شو او ټولو ورسره بیعت وکړ.

د حضرت عثمان د دورې بریاوې دوه برخې لري. لومړی د هغو سیمو خلک چې د حضرت عمر رضي الله عنه له شهادت وروسته یې بغاوت کړی و، لکه ری، همدان، سکندریه او اذربایجان بېرته د اسلامي حکومت تر ولکې لاندې راغلل. دویم د قبرس او ترکیې سیمې کله چې حضرت معاویه رضي الله عنه د شام والي و، د اسلامي حکومت په ولکه کې راغلې. همدا رنګه په افریقا کې هم یو شمېر سیمې د مسلمانانو لاسته ورغلې. حضرت عثمان رضي الله عنه د خپل خلافت پر مهال سمندري ځواک رامنځته کړ او قران کریم چې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په وخت کې راغوند شوی و د

مصحف په ډول وليکل شو او فتحه شويو سيمو ته ولېږل شو. حضرت عثمان رضي الله عنه د دولس کلونو خلافت وروسته په ۳۶ هجري کال د بلواګرو له خوا په داسې حال کې، چې د قران کريم په تلاوت بوخت و، په شهادت ورسېد.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې د حضرت عثمان رضي الله عنه د ژوندانه او دويمه ډله دې د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت د فتوحاتو معلومات په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- حضرت عثمان رضي الله عنه څنګه د خليفه په توګه وټاکل شو؟

۲- د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کې کومې سيمې ونيول شوې؟

۳- حضرت عثمان رضي الله عنه څه وخت او څنګه په شهادت ورسېد؟

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د حضرت عثمان رضي الله عنه د ژوندانه په اړه معلومات تر لاسه کړي او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

په دې لوست کې به د حضرت علي کرم الله وجهه د نسب، شخصيت او د خلافت د مهمو پيښو په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

حضرت علي رضي الله عنه د ابوطالب زوی او د حضرت محمد ﷺ د تره زوی او زوم و. لقب يې اسدالله او حيدر و او د ابوالحسن او ابوتراب په کنيت هم مشهور و. له هجرت څخه ۲۱ کاله وړاندې په مکه کې وزېږيد. لس کلن و چې د اسلام په مبارک دين مشرف شو. هغه د اسلام په لار کې له هيڅ ډول سرښندنې څخه ځان ونه سپماوه. د حضرت رسول اکرم ﷺ د هجرت په شپه د هغه په بستره کې ويده شو، تر څو هغه کفار چې د حضرت محمد ﷺ کور يې کلابند کړی و، غافله شي او ډاډ من شي چې پيغمبر ﷺ چېرته نه دی تللی او په خپله بستره کې ويده دی. حضرت علي رضي الله عنه د علم او پوهې باب و او د وروروليِ په ترون کې په خپله حضرت محمد ﷺ هغه ته د وروريِ لاس ورکړ.

د حضرت عثمان رضي الله عنه له شهادت وروسته په دويمه ورځ په مدينې منورې کې ورسره خلکو بيعت وکړ او هغه يې د اميرالمومنين په توګه وټاکه. د هغه په خلافت کې حضرت معاويه رضي الله عنه هم نظره او ټينګار يې کاوه چې د حضرت عثمان رضي الله عنه د قاتلينو قصاص بايد دفعتاً واخيستل شي، خو حضرت علي رضي الله عنه استدلال کاوه چې د حکومت د داخلي وضعې تر ښه کېدو پورې بايد انتظار وايستل شي، چې په پايله کې يې د حضرت علي رضي الله عنه پلويان او د حضرت عثمان رضي الله عنه د قصاص پلويان بصرې ته نژدې د جګړې لپاره تيار شول. د جګړې له پېښيدو وړاندې د حضرت قعقاع رضي الله عنه په منځګړتوب نژدې و چې د دواړو لوريو تر منځ سوله ټينګه شي، خو د عبدالله بن سبا، يهودي منافق په لمسون په شپه کې جګړه پيل شوه. د حضرت طلحه او زبير رضي الله عنه په شمول چې عشره مبشره صحابه وو، گڼ شمېر صحابه شهيدان شول او جګړه د حضرت علي رضي الله عنه په گټه پای ته ورسېده. حضرت ام المومنين عايشه رضي الله عنها چې په اوښ سپره وه و نيول شوه او له ورور سره يې په ډير احترام د حضرت علي رضي الله عنه په امر مدينې منورې ته ولېږل شوه.

د صفين جګړه

دغه جګړه د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت معاويه رضي الله عنه تر منځ په ۳۷ هجری کال کې د صفين په سيمه کې پېښه شوه. حضرت علي رضي الله عنه له پنځو کلونو خلافت وروسته په ۴۰ هجري کال د روژې

په ۱۹ نېټه د خوارجو د فکر د یوه تن پیرو، عبدالرحمن بن ملجم په واسطه د سهار د لمانځه په موخه جومات ته د تګ په حال کې ټپي شو چې په پای کې د همدې ټپ له امله دوه ورځې وروسته د روژې په ۲۱ نېټه په شهادت ورسېد. هغه د خلافت چارې د عدالت انصاف او په خلکو باندې په شفقت او مهربانۍ سره مخ ته وړلې.

د حضرت علي رضي الله عنه له شهادت وروسته د هغه زوی حضرت حسن رضي الله عنه د خلیفه په توګه وټاکل شو. هغه له خبرو او څېړنو وروسته دې پایلې ته ورسېد چې باید د ځان او مال او د مسلمانانو د یووالي د ساتلو په موخه له حضرت معاویه رضي الله عنه سره له دښمنۍ او سیالۍ لاس واخلي او د خلافت له دعوای څخه تېر شي. داکار د دې لامل شو چې حضرت معاویه رضي الله عنه سره اړیکه ټینګه کړي او د هغه په ګټه له خلافت څخه تېر شو. له یویل سره یې توافق وکړ. چې باید هغه له ځان څخه وروسته د خلافت چارې په خپله مسلمانانو ته پرېږدي، تر څو په خپلواکه توګه خپل خلیفه وټاکي. په دې ډول توافق وشو او خلافت اموي کورنۍ ته انتقال شو.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې خلافت ته د حضرت علي رضي الله عنه د رسېدو د څرنګوالي او دویمه ډله دې د حضرت علي رضي الله عنه د خلافت د پېښو په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د حضرت علي رضي الله عنه د نسب په اړه په څه پوهیږئ؟

۲- د صفین جګړه د چا تر منځ پېښه شوه؟

۳- حضرت علي کرم الله وجهه په کوم کال او د چا په واسطه په شهادت ورسېد؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د حضرت علي کرم الله وجهه د ژوندانه د ټولو اړخونو په اړه له کتابونو او د خپلې سیمې له علماوو څخه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

خلفاې راشدينو رونبانه دورې ته لنډه کتنه

په دې لوست کې به د خلفاې راشدين د سياست د څرنګوالي، لاسته راوړنو او د ټولو بدلونونو او پېښو په اړه معلومات وراندې شي.

د خلفای راشدينو رضي الله عنهم دوره چې د حضرت محمد ﷺ له رحلت څخه وروسته په ۱۱ هجري کال کې پيل او په ۴۰ هجري کال کې د حضرت علي کرم الله وجهه په شهادت سره پای ته رسېږي، د تاريخي شهکار او د عالم اسلام د ويار څرګندونه کوي.

په دغه وخت کې د اسلام خلفاوو هڅه کوله چې د زړې په اندازه د قران کريم له احکامو او اوامرو او نبوي سنتو څخه سر غړونه ونه کړي او په ټول قوت سره پر دغو احکامو ولاړ او عمل پرې وکړي. هغوی د حضرت محمد ﷺ په څېرله خلکو سره ښه چلن کاوه او هغو ته يې سمه لارښوونه کوله. عدل، انصاف، برابري او ورورولي يې تبليغ، دود، تحکيم او پلي کول.

خلفاې راشدين هغه کسان وو چې ځانونه يې د خدای ﷻ او خلکو په وړاندې مسؤول او ځواب ورکوونکي ګڼل او هره شېبه حساب ته حاضر او پرته له الله تعالی يې له هيڅا څخه ويره نه درلوده. هغوی له خدای ﷻ او د خلکو د حقونو له ضايع کولو څخه سخت په وېره کې وو. د جزا د ورځې له پوښتنې او ځواب څخه بې پروا نه وو. پرتم او دبدبه يې نه خوښوله. هر چاکولای شول چې په هر وخت او هر ځای کې ورسره ليدنه وکړي. دارالخلافه يې جوماتونه، فرش يې پوزی او مانۍ يې همدا جوماتونه و. په مړه ګډه يې دودۍ نه خوړه.

په کور او د کار په ځای کې يې ساتونکي نه درلودل. هغوی د الله تعالی په لاره کې له قولي او فعلي جهاد څخه يوه ګړۍ نه کښېناستل. د خلکو د يووالي لپاره يې دېرې هڅې کولې. هغوی چې د صحابه کرامو د مشرانو له لورې ټاکل شوي وو، د خلکو چارې يې د استعداد او تقوی خاوندانو ته يعنی کار يې اهل کار ته سپارە او له هغه څخه يې کلکه څارنه کوله.

د خلفاې راشدينو په دوره کې عسکري، قضايي، مالياتي، پستي، محاسبه يې، تعليمي او روزنيز او د خراج نظام په عامه توګه رامنځته کړای شو.

د خلفاې راشدينو په دوره کې فتوحات له لاندې لاملونو سره تړلي وو:

- په ټولو چارو کې يې له خدای ﷻ څخه وېره کوله او د الله تعالی رضا ته يې پام کاوه.
- يووالی، پاک نفسي، ايمانداري او په جهاد کې رښتينی خدمت د هغوی د بريالیتوب لامل ګڼل کېده.

- عزت او د دنيا او اخرت بريالیتوب يې په اسلام باندې په درېدو کې ليده.
- مسلمانان په دې باور جنګېدل که چېرې له کفارو سره په جګړه کې ووژل شي شهيد او که ژوندی پاتې شي غازيان کېږي.
- مسلمانانو د نيول شويو هېوادونو له وګړو سره ډېر ښه او د وروری چلند کاوه.
- دا يې عقيده وه چې اجل نه بدلېږي، نو ځکه ډاډه جنګېدل.
- پر خدای ﷻ تکيه او توکل هم د فتوحاتو يو لامل و.
- مشوري او د رازونو ساتنې ته يې ډېر پام کاوه.
- يوې قوماندې او د اولوالامر اطاعت ته يې غاړه ايښوده.
- صبر يې درلود.
- له لوړې، تندې او هر ډول ستونزو سره يې مقاومت کاوه.

د خلفاې راشدينو دا ډول صفات د دې لامل وګرځېد چې د اسلام مبارک دين د نړۍ تر لرو سيمو پورې خپور شي او د نړۍ ډېر وګړي پرې مشرف شي.

په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وويشل شي. لومړۍ ډله دې دخلفاې راشدينو د شخصي احوالو او دويمه ډله دي د هغوی د خلافت د کړنلارو په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- راشدينو خلفاوو په خپل رسمي او شخصي ژوند کې له څه ډول کړندلارې څخه پيروي کوله؟

۲- د خلفاې راشدينو په دوره کې د اسلامي فتوحاتو د لاملونو په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ.

له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د خپلې سيمې د ديني علماوو څخه د خلفاې راشدينو د ژوندانه او کړندلارو په اړه معلومات راغونډ اوپه ټولګي کې دي وړاندې کړي.

امويان

۴۱ – ۱۳۲هـ ۶۶۱ – ۷۵۰م

په دې لوست کې به د حضرت معاويه رضي الله عنه ، مشهورو اموي خلفاوو، د امويانو د فتوحاتو او د عاشورا د حماسې په اړه معلومات وړاندې شي.

د دې کورنۍ بنسټ ايښودونکی حضرت معاويه رضي الله عنه دی. له دې کورنۍ څخه ۱۴ تنو واکمني کړې چې لومړنی يې حضرت معاويه رضي الله عنه او وروستنی يې مروان دی. په دې دوره کې د اسلامي فتوحاتو لمن په لويديځ کې تر هسپانيې او فرانسې او په ختيځ کې تر ترکستان، چين او هند پورې ورسېده.

حضرت معاويه رضي الله عنه

حضرت معاويه رضي الله عنه د ابوسفيان رضي الله عنه زوی او د حرب لمسی دی. له هجرت څخه پنځلس کاله وړاندې په مکه کې زېږېدلی دی پلار يې ابوسفيان د قريشو له مشرانو څخه و.

د مکې د فتحې په ورځ له ټولې کورنۍ سره د اسلام په دين مشرف شو. حضرت معاويه رضي الله عنه د وحې له کاتبانو څخه هم و او د حضرت محمد رضي الله عنه له لوري د وحې د کتابت دنده ورسپارل شوې وه.

د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کې د شام والي و. کله چې حضرت علي رضي الله عنه په شهادت ورسېد او حضرت امام حسن رضي الله عنه د خلافت لپاره وټاکل شو د څو مياشتو له تېرېدو وروسته له حضرت معاويه رضي الله عنه سره، چې د شام والي و، په دې موافقې ورسېد چې حضرت معاويه رضي الله عنه نشي کولای له ځان وروسته څوک د ځای ناستي په توګه وټاکي، بلکې دغه کار بايد مسلمانانو ته پرېږدي. په دې ترتيب حضرت معاويه رضي الله عنه د ټول اسلامي هېواد امير شو او حضرت امام حسن رضي الله عنه له خلافت څخه لاس واخيست. حضرت معاويه رضي الله عنه دمشق د خپلې پلازمينې په توګه وټاکه. بني هاشمو ته يې ډېر درناوی درلود. هغه په لوېديځ کې مراکش او المغرب، په شمال کې ترکيه او په ختيځ کې سيستان او خراسان فتح کړل.

د قوي سمندري ځواک په رامنځته کېدو کې يې ډېرې هڅې وکړې او په دې لاره کې يې بريالوې هم تر لاسه کړې. حضرت معاويه رضي الله عنه په ۶۱ هـ کال کې وفات شو.

یزید

۶۱- ۶۴ هـ ۶۸۱- ۶۸۴ م

یزید په ۲۵ هـ کال کې زیږیدلی او په ۶۱ هجري کال کې د پلار حضرت معاویه رضی الله عنه له وفات وروسته واک ته ورسېد. د هغه د واکمنۍ پر مهال د کربلا حماسه پېښه شوه چې په لړ کې یې حضرت امام حسین رضی الله عنه له ۷۲ تنو یارانو سره په شهادت ورسېد. یزید په ۶۴ هـ کال کې وفات شو.

عبدالملک بن مروان

۶۵- ۸۶ هـ ۶۸۵- ۷۰۵ م

د یزید له مړینې وروسته د هغه زوی دویم معاویه واک ته ورسېد، خو واکمنۍ یې له ۴۰ ورځو ډېر دوام ونه کړ او په ځای یې مروان بن حکم د چارو واک تر لاسه کړ. هغه ژمنه وکړه چې د چارو واک به د دویم معاویه زوی خالد ته وسپاري، خو چې کله یې قدرت تر لاسه کړ، د خالد له مور سره یې نکاح وکړه او د خالد په ځای یې خپل زامن عبدالملک او عبدالعزیز یو په بل پسې ځای ناستي وټاکل.

د مروان له مړینې وروسته عبدالملک واک ته ورسېد. هغه بصره، کوفه او هغه ټولې سېمې چې د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په لاس کې وې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او بیا یې د خوارجو فتنه له منځه یووړه. په ختیځ کې یې د فتوحاتو لمن تر کابل پورې وغځوله. په شمال کې یې قسطنطنیه فتح کړه. عقبه بن نافع چې د افریقې د شمال سیمې یې له لاسه وتلی وې، بیا تر لاسه کړې. عبدالملک بن مروان له ۲۱ کاله واکمنۍ وروسته په ۸۶ هجری کال کې د ۶۳ کالو په عمر وفات شو. نوموړی لومړنی اسلامي واکمن و چې په خپل نوم یې سکه ضرب کړه. په داسې حال کې چې له هغه وړاندې رومي او ساساني سکو دود درلود. د هغه په واکمنۍ کې عربي ژبې په ټولو دولتي ادارو کې رسمیت پیدا کړ.

عمر بن عبدالعزیز

۹۹ -۱۰۱هـ

په اموي کورنۍ کې حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه هغه څوک و چې له ډېرې پوهې، تقوی او عدل څخه برخمن و او په هغه یې ډېر شهرت درلود. هغه هڅه کوله چې خلفای راشدین په پله پېښه کېږدي. هغه د سلیمان له مړینې وروسته خلافت ته ورسېد. نوموړي د قران او نبوي احادیثو له احکامو

سره سم رفتار کاوه. هغه د عدالت د رعایت له امله په دویم عمر او پنځم راشده خلیفه نومول شوی دی.

حضرت عمر بن عبدالعزیز(رض) د خپلې خلافت په دوره کې د اموي دورې ټول والیان او قاضیان له کاره ګوښه کړل او پر ځای یې پرهېزګاره، پاک نفسه، ایماندار او عادل اشخاص وټاکل. د مالیاتو او خراج په اصولو کې یې بدلونونه راوستل.

له خلکو څخه یې درانده خراج لغوه او هغه یې د خلکو له وړتیا سره سم عیار کړل. له بیت المال او عامه شتمنیو څخه یې د ناوړې ګټې اخېستنې مخه ونیوله. له خاینینو، بدې اخیستونکو او مفسدینو سره یې په کلکه مبارزه کوله او له داسې افرادو څخه یې ډېره کرکه درلوده.

د حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه د ښو کړو وړو له امله، خوارجو او ټولو مخالفینو له دولت سره له مخالفت څخه لاس واخیست. هغه د خلکو د سوکالۍ په موخه روغتونونه، نهرونه، د اوبو بندونه او کانالونه جوړ کړل چې له امله یې ډېرې ځمکې کښت او کرنې ته چمتو شوې او هم یې یوه اندازه ځمکه په مستحقینو ووېشله.

حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه لومړنی کس و چې رسماً یې د نبوي احادیثو د راټولولو امر وکړ.

حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه له دوو کلو او پنځو میاشتو واکمنۍ وروسته دځینو خاینینو په دسیسه د یوه غلام له لورې په شهادت ورسېد. امویانو نژدې یوه پېړۍ په اسلامي نړۍ واکمنۍ وکړه چې مشهور واکمنان یې په لاندې ډول دي:

۱- معاویه بن ابي سفیان(رض) ۴۰- ۶۰ هـ ق

۲- یزید بن معاویه ۶۰- ۶۴ هـ ق

۳- عبدالملک بن مروان ۶۵ – ۸۶ هـ ق

۴- ولید بن عبدالملک ۸۷- ۹۶ هـ ق

۵- سلیمان بن عبد الملک ۹۷- ۹۹ هـ ق

۶- عمر بن عبدالعزیز(رض) ۹۹- ۱۰۱ هـ ق

۷- دویم یزید بن عبدالملک ۱۰۱- ۱۰۵ هـ ق

۸- هشام بن عبدالملک ۱۰۵- ۱۲۵ هـ ق

۹- ولید بن دویم عبدالملک ۱۲۵– ۱۲۶ هـ ق

۱۰- یزید بن ولید بن دریم عبدالملک ۱۲۶– ۱۲۷ هـ ق

۱۱- مروان، بن محمد ۱۲۷- ۱۳۲ هـ ق

د امویانو حکومت کابو له یوې پېړۍ واکمنۍ وروسته د زوال په لور روان شو. د امویانو وروستی واکمن مروان حران ته نژدې ماته وخوړه او د مصر لورته د تېښتې پر مهال ووژل شو او په دې توګه عباسیان و اک ته ورسیدل او اسلامي تاریخ نوی پړاو پیل کړ.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړۍ ډله دې د اموي کورنۍ د واک ته رسېدو د څرنګوالي او دویمه ډله دې د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د مهمو کارونو په اړه بحث وکړي او تر لاسه شوې معلومات دې په ټولګي کې وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د چا زوی او د چا لمسی و؟

۲- د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ په وخت کې د اسلامي فتوحاتو لمن تر کومو سیمو رسېده؟

۳- کوم اموي خلیفه، د دویم عمر او پنځم راشده خلیفه په نوم نومول شوی و؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د حضرت معاویه رضی اللہ عنہ د خلافت د څرنګوالي په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د امویانو په دوره کې اقتصادي، اداري، کلتوري او پوځي وضعیت

۴۱- ۱۳۲هـ.ق

په دې لوست کې به د اموي دورې د سیاسي، اقتصادي، کلتوري او پوځي مسایلو په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

په اموي دوره کې د اقتصاد له پلوه یو لړ مهم بدلونونه رامنځته شول. د غنیمت، عشر او خمس تر سرلیک لاندې ډېر مالونه له آسیایي او افریقایي نیول شوو هېوادونو څخه پلازمېنې دمشق ته لېږل کېدل. د نیول شویو هېوادونو تر منځ سوداګریزې اړیکې ټینګې شوې وې.

له کلتوري او تمدني پلوه په اموي دوره کې ډېر ښارونه جوړ شول. دغه ښارونه د لوړو برجونو لرونکي وو او په عین حال کې یې د دفاعي کلاګانو بڼه هم درلوده. دمشق چې د امویانو له لوري د پلازمېنې په توګه کارېده، په دغه وخت کې د نړۍ له ښکلو ښارونو څخه شمېرل کېده.

د لومړي ځل لپاره په اموي دوره کې د عبدالمالک په وخت کې سکه ضرب شوه. له هغه وړاندې رومي او ساساني سکو دود درلود. د حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه په وخت کې شاړې ځمکې تر اوبو لاندې شوې او د کرنې لپاره اماده شوې. د ناروغانو د درملنې لپاره روغتونونه جوړ شول. کرنې ته ډېر پام وشو او د کرنې د پراختیا په موخه نهرونه او د اوبو بندونه جوړ شول.

د امویانو په دوره کې اسلامي تمدن چټکه وده وکړه چې د خیریه موسسو، جوماتونو او د هغو له جملې څخه د دمشق د جامع جومات جوړېدل یې څرګنده بېلګه ده. اسلامي ادبیاتو علومو او فنونو، هنر او صنایعو پراختیا وموندە چې په نړۍ کې د اسلامي نظام د نورو د متمدن کیدلو لپاره یو معیار وګرځېد.

په پوځي برخه کې پوه افراد لکه موسی بن نصیر د عسکري ټولیو د مشرۍ لپاره وټاکل شول. موسی بن نصیر او طارق بن زیاد د افریقا په شمال او د اروپا په سوېل لوېدیځ کې د اسلام لمن تر هسپانیې پورې ورسوله، قطیبه بن مسلم د خپلو فتوحاتو لمن د منځنۍ آسیا تر هېوادونو، ترکستان او کاشغر پورې پراخه کړه او هم یې د چین دربار ته اسلامي پلاوی ولېږه.

محمد بن قاسم په هند کې په دې بریالی شو چې خپل فتوحات تر کراچۍ او ملتان پورې ورسوي.
مسلمه بن عبدالملک په کوچنۍ آسیا کې د خپلو فتوحاتو سرحد د انطاکیې تر ښاره پورې پراخه کړ.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې په اموي دوره کې د ټولنیزې وضعې او دویمه ډله دې په دې دوره کې د پوځي فعالیتونو په اړه بحث وکړي او په ټولګی کې دې وړاندې کړي.

پوښتنې

۱- د اسلامي مالیاتو په اړه معلومات ورکړئ.
۲- امویانو کوم ښار د خپل پایتخت په توګه ټاکلی و؟
۳- امویانو د عامه سوکالۍ لپاره کوم کارونه تر سره کړل؟
۴- محمد بن قاسم کومه سیمه تر لاسه کړه؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې په مدني او پوځي برخو کې د امویانو د بریالیتوب د رازونو په اړه له پوهو اشخاصو څخه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګی کې وړاندې کړي.

عباسیان

۱۳۲– ۶۵۶ هـ/ ۷۵۰– ۱۲۵۸ م

په دې لوست کې به له اموي کورنۍ څخه عباسیانو ته د واک د لېږد د څرنګوالي په اړه معلومات وړاندې شي.

له امویانو څخه عباسیانو ته د خلافت لېږد

په ۹۶ هـ کال کې د ولید بن عبدالملک له مړینې وروسته اموي حکومت ۳۶ کاله نور هم دوام وکړ، خو وضع يې ښه نه وه. عباسي کورنۍ پټه مبارزه کوله. علویانو هم له وړاندې څخه له امویانو سره کینه درلوده، خو مهمه موضوع چې دغه دښمني يې په ډاګه کړه، د مروان له لورې د امام ابراهیم وژل وو. د هغه قتل د دې لامل شو چې عباسیان خپل مخالفت علني کړي.

ابو مسلم خراساني په ۱۲۹ هـ کې په مرو کې تور بیرغ پورته کړ او اموي حاکم نصر بن سیار يې چې د نیشاپور حاکم و، شاتګ ته اړ کړ او وروسته يې په سل زره کسیز لښکر سره د زاب د سیند په غاړه د مروان ۱۲۰ زره لښکر ته ماتې ورکړه. مروان موصل ته وتښتېد. ابومسلم تور بیرغ په دمشق کې ورپاوه مروان د نیل د سیند په غاړه د عباسي عسکرو له لورې ووژل شو او په دې ډول عباسي کورنۍ واک ته ورسېده.

ابو العباس سفاح (۱۳۲– ۱۳۶ هـ)

د ابوالعباس اصلي نوم عبدالله بن محمد بن عبدالله دی. کله چې مروان ووژل شو، ابوالعباس رسماً خپل ځان خلیفه اعلان کړ. هغه خپله لومړنۍ خطبه د جمعې له لمانځه وړاندې خلکو ته واوروله او داسې يې څرګنده کړه چې د مسلمانانو په لارښوونه او خدمت کې به د خلفاې راشدینو کړنلاره پلي کوي. له دې امله دغې وینا د دمشق د ښار په خلکو اغېزه وکړه. له دې وروسته يې د اموي کورنۍ د غړو په ډله ییزې وژنې پیل وکړ. او د هغو دوینې په تویولو کې يې له شدت څخه کار واخېست چې له امله يې په اسلامي هېواد کې د سفاک په نوم مشهور شو. د هغه د خلافت څلور کلنه دوره د مخالفینو په وژلو سره تېره شوه او په ۱۳۶ هـ کې وفات شو.

ابو جعفر عبدالله المنصور
(۱۳۶– ۱۵۸ ق)

د ابوالعباس له مړینې وروسته يې ځای ناستی منصور پر تخت کښېناست. هغه یو هوښیار، پوه او زیرک شخص و. د عباسي خلافت د ټینګښت لپاره يې ډېری هڅې وکړې. هغه د دولتي چارو په

تنظیم کې هم ډېر بریالی و. د مالیاتو، پوهنې، کرنې او د لارو د جوړېدو په برخه کې یې ډېر زیار وایست. د هغه د خلافت په دوره کې کومه ناوړه پېښه رامنځته نه شوه. بلکې خلکو په آرامۍ سره ژوند کاوه. د دغې دورې د یادونې وړ پېښه د عبدالله بن علي پاڅون و چې هغه هم د منصور له لوري وځپل شو. منصور د خلافت مرکز له دمشق څخه بغداد ته ولېږداوه.

هغه له ۲۲ کلونو واکمنۍ وروسته په ۱۵۸ هـ کال کې حج ته د تلو پر مهال وفات شو.

محمد المهدی بن جعفر المنصور
(۱۵۸ هـ ۱۶۹ هـ ق)

مهدي د پلار له مړینې وروسته واک ته ورسېد. هغه د ښو اخلاقو، ښه سلوک تقوا او تواضع خاوند و. د هغه له لومړنیو کارونو څخه یو هم زندانیانو ته عمومي ښښنه وه. مهدي د مخالفینو ټول ملکیتونه چې د منصور له لوري نیول شوي و، بېرته خپلو خاوندانو ته وسپارل. هغه په مجموع کې ټولو انسانانو سره ښه رویه درلوده. قاضیانو ته یې ډېر درناوی درلود. د هغوی په وړاندې یې د یوه عادي فرد په څېر ودرېده او د هغو د پریکړو پلي کول یې د ځان لپاره یو مکلفیت او جدی مسؤولیت ګانه. هغه د بیت الحرام جومات ته پراختیا ورکړه او د عمومي لارو، کاروان سرایونو میلمستونونو او فرعي لارو په جوړېدو کې یې ډېرې هڅې وکړې. په پستي چاروکې یې ډېر خدمتونه وکړل او د مکې، مدینې، یمن او بغداد تر منځ یې منظم پستي سیستم رامنځته کړ. د زندانیانو د کورنیو لپاره یې له بیت المال څخه تنخواه وټاکله. د ژوند په وروستیو ورځوکې یې خپل زامن په ترتیب سره هادي د لومړي او هارون د دویم ځای ناستي په توګه وټاکل. له یو ولس کلونوخلافت وروسته په ۱۶۹ هـ کال کې وفات شو.

موسی الهادي(۱۶۹- ۱۷۰ هـ ق)

د المهدي له مړینې وروسته موسی الهادي واک ته ورسېد. هغه دغه مهال ۲۴ کلن و. الهادي د دربار د دروازو ساتونکي لرې کړل چې خلک مخامخ ستونزې ورته ووایي. د هغه د خلافت په وخت کې ادریس په مراکش او موریتانیا کې خپلواک دولت اعلان کړ. الهادي له دوو کلونو خلافت وروسته په ۱۷۰ هـ کې وفات شو.

هارون الرشید بن مهدی (۱۷۰- ۱۹۳ هـ)

هارون الرشید د پلار له وصیت سره سم د موسی الهادي له مړینې وروسته خلافت ته ورسېد. هغه نه یوازې په عباسي کورنۍ کې، بلکې د اسلام په تاریخ کې یو ستر شخص و. د هغه د هڅو پایله وه چې بغداد، د نړۍ په کچه د علومو په پلازمېنې بدل شو.

هارون الرشید یو مدبر او عالم شخص و. مېرمن یې زبیده هم پوهه، هوښیاره، عالمه او یوه مهربانه ښځه وه. د مکې د خلکو د څښلو د اوبو د ستونزې د هوارولو په موخه دې ته تیاره شوه چې د خپلو شخصي ګانو په پلور لو سره له طایف څخه مکې ته د نهر د کېندلو کار په بریا سره پای ته ورسوي. دغه د اوبو ویاله تر نن ورځې د زبیدې د نهر په نامه یادېږي. هارون الرشید په خپلې پوهې او کفایت سره ټول هغه بغاوتونه، چې د خپل ورور هادي په وخت کې منځته راغلي وو، په سوله ییزه توګه آرام کړل. هغه د پوهانو او فضلاوو ډېر احترام کاوه. د هغه په دوره کې علوم او فنون اوج ته رسېدلې وو. هغه ښوونځي، مدرسې، روغتونونه، کاروانسرایونه، پلونه، نهرونه او د اوبو بندونه جوړ کړل. د هغه د وخت یوه مهمه لاسته راوړنه په بغداد کې د ساعت جوړول و. کله یې چې یو ساعت د فرانسې پاچا، شارلمان ته د سوغات په توګه ولېږه، د فرانسې پاچا یې په لیدلو سره په تعجب کې شو. او خپلو وزیرانو ته یې وویل: ((دا مسلمانان عجیب خلک دي. د اوسپنې په یوه قطعې کې یې پیریان بند کړي، چې دغه کوچني شیان یې په حرکت راوستلي او ټک ټک آواز کوي.)) هارون الرشید لومړنی اسلامي شخصیت و چې د چین او فرانسې هېوادونو سره یې اړیکې ټینګې کړې او دغو هېوادونو ته یې سفیران ولېږل او د هغو سفیران یې په بغداد کې ومنل.

نوموړي ۹ ځلې د مکې مکرمې او مدینې منورې زیارت کړی و او له ۲۳ کلونو خلافت وروسته په طوس یا ننني مشهد کې وفات شو او همله خاورو ته وسپارل شو.

مامون الرشید (۱۹۹- ۲۱۸ هـ)

د هارون الرشید له مړینې وروسته امین خلافت ته ورسېد د هغه ورور مامون چې د مروې د والي په توګه یې دنده تر سره کوله، د امین خلافت ومانه، خو کله چې امین د فضل بن ربیع په لمسون، مامون له ولیعهدۍ څخه لرې کړ، مامون اړ شو چې تورې ته لاس کړي. په دې وخت کې د مامون له لوري طاهر فوشنجي چې د افغانستان والي و، د لښکر مشري په غاړه درلوده او د امین له لوري علي بن عیسی د لښکر مشرو. د جګړې به ترڅ کې امین ووژل شو او لښکر یې ماتې وخوړه او اسلامي

خلافت رسماً مامون ته ورکړل شو.

مامون الرشید پوهنې ته ډېر پام درلود. په دې دوره کې طب، ریاضیاتو، فلسفې، ادب منطق او نورو علومو ډېره پراختیا وموندله. له ډېرو بهرنیو ژبو په ځانګړې توګه له لاتیني ژبې څخه ډېر آثار وژباړل شول. په مجموع کې هڅه کېده چې د خپل تمدني سیر د نظام پر مختګ ته د هارون الرشید د دورې په څېر ادامه ورکړي. وروسته له هغه چې مامون وفات شو او معتصم واک ته ورسېده ځنګه چې لازمه وه د هېواد په چارو یې حاکمیت نه درلود. د اندلس او په مصر کې د فاطمیانو د حکومت رامنځته کېدل د بغداد د خلافت لمن محدوده کړه. د اسلامي خلافت په ختیځ لوري کې طاهر فوشنجي، چې د مامون له لوري د خراسان د والي په توګه مقرر شوی و په ۲۰۴ هـ کې د خپلواکۍ اعلان وکړ. په بغداد کې هم اصلي قدرت د ترکانو لاس ته ورغی. د دغې لړۍ وروستی خلیفه مستعصم بالله و چې د چنګیز د لمسي هلاکو په واسطه په بغداد کې ووژل شو او په دې توګه په ۶۵۶هـ کال کې د عباسي کورنۍ حاکمیت پای ته ورسېد.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې واک ته د عباسیانو د رسېدو د څرنګوالي او دویمه ډله دې د هارون الرشید د واکمنۍ په اړه معلومات بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د عباسي کورنۍ مهم شخصیت څه نوم درلود او د چا له لوري و وژل شو؟

۲- د عباسي کورنۍ وروستی واکمن د چا له خوا ووژل شو؟

۳- د مامون الرشید د خلافت په دوره کې په کومو علمي برخو کې پرمختګونه وشول؟

۴- منصور په کوم کال وفات شو؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د عباسي کورنۍ د تاریخي مخینې او د هغو د خلافت د مهمو کارونو په اړه له پوهانو څخه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

د عباسي دورې سياسي، اداري، کلتوري او اقتصادي حالت

په دې لوست کې به د عباسيانو د اداري چارو له څرنګوالي او په عباسي دوره کې د علم او هنر د پرمختګونو د رامنځ ته کېدو په اړه معلومات وراندې شي.

عباسيانو له لومړي سر څخه داسې څرګندوله چې امويانو د حضرت محمد ﷺ او راشدينو خلفاوو لاره پرېښې وه او دوی د محمدي ﷺ شريعت او راشدينو خلفاوو کړنلاره تعقيبوي. د دغه ډول ادعا يوه بېلګه د ابوالعباس تاريخي وينا ده چې خلافت ته د رسېدو پر مهال يې د جمعې له لمانځه مخکې وکړه.

د ابوالعباس له مړينې وروسته، د جعفر منصور په دوره کې سياست ته ډېر پام وګرځېد. ابو جعفر منصور هغه شخص و چې د وخت له پوهانو څخه يې د سلاکارانو په توګه کار اخيست. د متفکر او هوښيار يزيد بن مسلم مشاوريت د ابو جعفر منصور د سلاکارانو يوه بېلګه ده. د عباسيانو د نظامي سياست يوه ځانګړتيا دا وه چې د پېښې له پېښېدو وراندې هغې ته متوجه کېدل. که کله يې له کوم تن يا کوم لوري څخه د خطر احساس کاوه، هڅه يې کوله چې سخته ضربه ورکړي او يا تعرضي برېد پرې وکړي د مثال په توګه کله چې ابوجعفر منصور د ابومسلم له لوري د خطر احساس وکړ، د هغه په له منځه وړلو يې لاس پورې کړ او ژوند ته يې د پای ټکی کېښود.

دويمه ځانګړتيا يې د نړيوالو ديپلوماتيکو اړيکو ټينګول و چې د هغه پر بنسټ د ښه نيت دايمي او موقتي سفيران د نړۍ هېوادونو ته لېږل کېدل او بر عکس د نورو هېوادونو سفيران په خپل حاکميت کې منل کېدل.

د بېلګې په توګه هغه مهال چې هارون الرشيد د پراخه اسلامي هېواد خليفه و، هغه د نړۍ له ډېروهېوادونو سره ديپلوماتيکې اړيکې ټينګې کړې چې د بېلګې په توګه د هند، چين، فرانسې او يونان نومونه يادولی شو.

په دې دوره کې په علمي او کلتوري برخو کې هم ډېر پرمختګ وشو. طبابت ډېره وده وکړه او د ډېرو انساني، حيواني او نباتي ناروغيو لپاره دارو درمل جوړ شول. په بغداد کې د نړۍ له ډېرو هېوادونو

څخه پوهان، فيلسوفان، جغرافيه پوهان، نجوم پوهان، رياضي پوهان، هندسه پوهان، نقاشان، خطاطان، موسيقي پوهان، معماران او د هر فن او مسلک ماهرين راغونډ شوي وو او د عباسي واکمنانو له لوري يې سخت ملاتړ او درناوی کېده او له لوړو امتيازاتو څخه برخمن وو.

په بغداد کې د هر دين او مذهب خلکو شتون درلود. د هيڅا لپاره، مذهبي، ديني او کلتوري محدوديت نه و. عيسويانو، يهوديانو، مجوسيانو، بت پرستانو، او د بېلابېلو افکارو او عقايدو خلکو په خپلواکۍ سره خپل ديني مراسم تر سره کول او په بېلابېلو برخو کې په خپلو علمي او فني څېړنو بوخت وو.

په دې دوره کې علم، فن او معارف ښه وده وکړه. ډېر علمي او هنري کتابونه چې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په مختلفو ژبو تأليف شوي وو، په عربي ژبه وژباړل شول. مورخينو او جغرافيه پوهانو د معلوماتو د راغونډولو په موخه د نړۍ بېلابېلو سيمو ته سفرونه وکړل او په دې برخه کې يې ډېر زيار وايست. په دې سفرونو کې جغرافيه پوهانو ډېر کشفيات وکړل او مورخينو هم د قدر وړ آثار وليکل. ادیبانو او د فن خاوندانو د ښوونې او روزنې په دودولو کې له هيڅ راز زحمتونو څخه ځان ونه سپماوه. په ټولو اسيايي او افريقايي سيمو کې عربي ژبه دود شوه. د الجبر او رياضياتو په برخه کې نه هيريدونکي خدمتونه تر سره شول. په عباسي دوره کې د ښېرۍ چلولو د فن په موخه د قطب نما کشف او د هغې کارېدل او د جغرافيې د علم لپاره د اسطرالاب له الې څخه ګټه اخيستنه هغه دوه توکي وو چې په دغو دوو څانګو کې يې انقلاب رامنځته کړ. ځکه چې قطب نما د ښېرو په سفر او سير کې آسانتيا رامنځته کړه او اسطرالاب د ستورو لرې والی او نژدې والی څرګنداوه. دغه اله د اغريق په نامه يوه شخص اختراع کړه. همدارنګه د دغه زرين عصر مسلمانان د ساعت جوړولو، کاغذ جوړولو او باروت جوړولو په برخه کې د اروپايانو استادان وو. مورخين په دې باور دي چې اروپايانو ځينې علوم، لکه: هندسه، نجوم، رياضي او ډېر نور فنون او هنرونه له مسلمانانو څخه زده کړي دي.

هغه پر مختګونه چې په عباسي دوره کې د علومو په مختلفو برخو لکه: کيميا، الجبر او جيولوژي کې رامنځته شول، د هغه عصر مهمې لاسته راوړنې ګڼل کېدې. په دې دوره کې د مالګې، سربو،

گوګړو، اوسپنې او قیمتي ډبرو د کانونو استخراج په منظمه توګه پیل شو.

په عباسي دوره کې پر بغداد سربېره، د بصرې، کوفې، قاهرې، قیروان، مروې، ری، بخارا او نشاپور ښارونو د علم، فن او هنر له پلوه د نړۍ په کچه لوړ مقام تر لاسه کړ چې د نړۍ له بېلابېلو سیمو به خلک د علم، هنر، بیلابېلو مهارتونو او دکسب کار د زده کولو لپاره دغو سیمو ته راتلل او د هغو له مادي او معنوي فضایلو او ښکلاوو څخه به یې خوند اخیسته او علم او فضایل یې تر لاسه کاوه.

عباسیانو د انساني مدنیت د هر اړخیز پرمختګ لپاره ډېر کارونه تر سره کړل چې ځانګړی ارزښت لري او اسلامي تمدن او تاریخ پرې تل ویاړي. په دې دوره کې د جګړې ییزو وسایلو جوړولو او عسکري دسپلین ته هم پوره پام کېده. نو ویلی شو چې عباسیانو په پوځي برخه کې هم د پام وړ بریاوې درلودې.

په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د عباسیانو د کلتوري وضعې او دویمه ډله دې د دغې دورې د پوځي کړنو په اړه بحث وکړي.

پوښتنې

۱- د هغو ښارونو نومونه واخلئ چې په عباسي دوره کې د نړۍ د تمدن مرکزونه ګڼل کېدل.

۲- د کوم عباسي خلیفه په وخت کې د الجبر او ریاضي په برخه کې ستر بریالیتوبونه رامنځته شول؟

۳- په عباسي دوره کې د نړۍ په کچه د دیپلوماسۍ په برخه کې څرنګه نوښتونه رامنځته شول؟

له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د عباسیانو په اړه له سر چینو څخه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.